# د بدیع فن
# او
# پښتو شاعري

نوې کتنه

پوهنمل محمد ابراهیم همکار

غویی ، ۱۳۸۸ ل



# د بدیع فن
# او
# پښتو شاعري

نوې
کتنه

دویم چاپ
غویی ۱۳۸۸ ل

پوهنمل محمد ابراهیم همکار

# DA BADE FAN
# AW
# PAṢTO ŠAGERI

Writer: MA. Assistant Professor Muhammad Ibrahim "Hamkar"





# ډالی

د استاد عبدالروف بېنوا او علامه پوهاند عبدالشکور رشاد درنو نومونو ته چې د هېواد په ملي او رسمي ژبې پښتو کې يې د لومړي ځل لپاره د بدیع فن وپاله، همدارنګه زما د مهربانو استادانو پوهنوال جلال الدین کونړي او پوهنمل محمداجان حقپال درنو نومونو ته چې له نوموړي فن سره يې اشنا کړم.



# د کتاب پېژندنه


- د کتاب نوم: د بدیع فن او پښتو شاعري
- لیکوال: MA پوهنیار محمد ابراهیم (همکار)
- د چاپ وار: دويم
- د لومړي چاپ کال: وری، ۱۳۸٦ ل
- د دويم چاپ کال: غويی ، ۱۳۸۸ ل
- کمپوزر: عبدالحسیب انوري
- ننګرهار پوهنتون ښوونې او روزنې پوهنځی پښتو څانګه


يادونه: د چاپ حق په لیکوال پورې خوندي دی.

که له نیو لیک څخه د مخ ګڼه پیدا کوئ نو د مخ له شمېرې سره ۱۱ جمع کړئ اړوند مخ ته به ورشئ.

# نيو ليک

| سرليک | مخګڼه |
|---|---|


د سريزې پر ځای ------------ پوهنيار محمد ابراهيم همکار ------- الف
د همکار ادبي هڅې او دا اثر ---- استاد محمد آصف صميم ------- ب
د بديع فن او پښتو شاعري ------ پوهنيار سيد غني (غني) ---- د
ښـو خبـرې ---------------------------------------- و


لومړی ځپرکی


کـلام او کلمــه ------------------------------------ ۱
کلمه ، کلام ادبي کلام، منظوم کلام ، آزاد شعر ، آزاد نظم ، هايکو او سپين شعر.
منثور کـلام ------------------------------------ ۹
مسجع نثر ، مرجز نثر ، مرصع نثر او عاري نثر.


دويم ځپرکی:


د کلمې فصاحت ------------------------------------ ۱۲
دروندوالی ، نامانوسوالی ، د مړو کلمو راوړل ، د نويو کلمو جوړول او د پرديو ژبو کلمې کارول.
د قياس مخالفت ------------------------------------ ۱۵
په غوږو بد لګېدل ------------------------------------ ۱۶
بـازاري کلمې ------------------------------------ ۱۶
د کـلام فـصاحت ------------------------------------ ۱۷
د کلمو تنافر ، د تاليف کمزوري ، غوټه ، تکرار
د مــتکلم فــصاحت ------------------------------------ ۲۰
بلاغـــت ------------------------------------ ۲۱
د کلام بلاغت او د متکلم بلاغت


درېيم ځپرکی:


معــاني ------------------------------------ ۲۳
ايجاز ، اطناب ، تکرار ، معترضه ، ايغال او مساوات




خلوم ځپرکی:


بـديع ------------------------------------ ۲۸
د بديع د نوم اېښودونې وجه ------------------------------------ ۲۹
د بديع ځای د بلاغت پـه علم کې ------------------------------------ ۳۰
د بـديع علـم ارزښت ------------------------------------ ۳۰
د بـديع د علـم تاريخچه ------------------------------------ ۳۱
د ادبي فنونو په اړه په پښتو ادب کې خپـاره ------------------------------------ ۳۳


پنځم ځپرکی:


لفظي ښکلاوې ------------------------------------ ۳۸
سـجع ------------------------------------ ۳۸
قلــب ------------------------------------ ۴۰
ترصيع ------------------------------------ ٤٤
متجانـسه ترصــيع ------------------------------------ ٤٤
کيـسی ------------------------------------ ٤٥
تـضمين ------------------------------------ ٤٧
اعنـات ------------------------------------ ٥٦
ذوالقــــافيتين ------------------------------------ ٦۰
ذوالقـافيتين مـع الحاجب ------------------------------------ ٦۰
تــصدير ------------------------------------ ٦۲
تـــشابه الاطـــراف ------------------------------------ ٦٦
طـــرد و عکـــس ------------------------------------ ٦۷
معمـــی ------------------------------------ ٦۸
افــراد ------------------------------------ ۷۲
توشـــيح ------------------------------------ ۷٦
ملمـع ------------------------------------ ۷۷
تجنـــيس ------------------------------------ ۷۸
د فعلونــو پرلپــسې‌نه ------------------------------------ ۹٤
ترافـق ------------------------------------ ۹٦
رد القافيه ------------------------------------ ۹۷
تـــشريع ------------------------------------ ۹۸
ازداج ------------------------------------ ۱۰۰

واز ---- ۱۰۱
ذوالقوافي ---- ۱۰۲
تسميط ---- ۱۰۵
شبه اشتقاق ---- ۱۰۵
اقتفاء ---- ۱۰٦
ردالمقطع ---- ۱۰۷

شپږم څپرکی:

معنوي ښکلاوي ---- ۱۰۹
طباق الاضداد ---- ۱۰۹
مقابله ---- ۱۱٤
ايهام ---- ۱۱٦
ايهام تضاد ---- ۱۱۸
پټ ايهام تضاد ---- ۱۱۹
ايهام تناسب ---- ۱۲۰
ايهام او تجنيس ---- ۱۲۱
مراعات النظير ---- ۱۲۲
لف و نشر ---- ۱۲٤
عکس او تبديل ---- ۱۲۷
حسن تعليل ---- ۱۲۹
رجوع ---- ۱۳۱
سياقة الاعداد ---- ۱۳۲
تنسيق الصفات ---- ۱۳۳
عارفانه تجاهل ---- ۱۳٦
مراجعه ---- ۱۳۸
براعت الاستهلال ---- ۱٤۰
مدعا مثل ---- ۱٤۱
ارسال المثل ---- ۱٤۳
ارسال المثلين ---- ۱٤٤
ګرنه ---- ۱٤٤
د ستاينې په بڼه ---- ۱٤۷
د غندنې په بڼه ---- ۱٤۸
بد او ښه ---- ۱٤۹



تلميح ---- ۱۵۱
توجيه ---- ۱۵۳
تدبيج ---- ۱۵۵
مبالغه ---- ۱۵٦
اقتباس ---- ۱۵۹
براعت الطلب ---- ۱٦۱
حسن مطلع ---- ۱٦۲
حسن مقطع ---- ۱٦۲
التفات ---- ۱٦۳
شاعرانه تعالي ---- ۱٦۵
ارصاد ---- ۱٦٦
ابداع ---- ۱٦۸
تجديد ---- ۱٦۹
مذهب کلامي ---- ۱۷۰
تناقض ---- ۱۷۱
حس ګډول ---- ۱۷۳
شخصيت ورکول ---- ۱۷۵
افتنان ---- ۱۷٦
استخدام ---- ۱۷۷
جمع ---- ۱۷۹
تفريق ---- ۱۸۱
تقسيم ---- ۱۸۲
جمع او تفريق ---- ۱۸٤
جمع او تقسيم ---- ۱۸٦
اسلوب الحکيم ---- ۱۸۸
استتباع ---- ۱۸۸
ادماج ---- ۱۹۰
مزاوجه ---- ۱۹۱
مشاکله ---- ۱۹۲
ژباړه ---- ۱۹۳
لرغون غوښتنه ---- ۱۹۵
انځورګري ---- ۱۹٦

اووم څپرکی:

متزلزل ---------- ۱۹۸
تدوير ---------- ۲۰۰
مشجر ---------- ۲۰۲
مربع ---------- ۲۰٤
خيفاء او مقطوع ---------- ۲۰۵
موصل ---------- ۲۰٦
نامنقوط او منقوط ---------- ۲۰۷
فوق النقاط ---------- ۲۰۸
تحت النقاط ---------- ۲۰۹
رقطاء ---------- ۲۰۹
څلور مخی ---------- ۲۱۰

اتم څپرکی:

ادبي غلاوې ---------- ۲۱۱
د غلاوو ډولونه ---------- ۲۱۳
پټه غلا ---------- ۲۱۸
توارد ---------- ۲۲۱
اخځونه ---------- ۲۲۲





## د سريزي پر ځای

درنو لوستونکو ! دا چې ( د بديع فن او پښتو شاعري ) لومړی چاپ کتاب د پښتو ادب د لوستوالو په تود هرکلي سره ونمانځل شو . دادی بيا يې له څه سمونو سره يو ځای د دويم ځل لپاره د چاپ په ګاڼه ښکلی کوو ، هيله ده چې د پښتو د شعري ګلبڼ مينان پرې معطر شي.

په خورا ډېر درناښت
همکار

# د همکار ادبي هڅې او دا اثر

ښاغلی محمد ابراهیم همکار زموږ د ځوانو قلموالو د ټولي هغه تاند او تپاند غړی دی، چې د پوهې د ترلاسونې یوه لېونۍ مینه لري، پوهه او ادب خپله ورکه بولي، په دې ورکې پسې یې همېشه د وسپنې پڼې پر پښو کړي، لی پر لی ورپسې ګرځي زما د همدې ادعا ژوندۍ بېلګه د ښاغلي همکار همدا اثر دی. دا اثر د ادبي فنونو د ګورې او څانګورې ونې یو څو غوړکې دي، چې په پېژندو او پاللو یې د شعر مېنان د شعر د جولېزې او مانیزې ښکلا په خپلمنځي تړاو د شعر له ګلو د خوند شات راغونډولای شي.

ادبي فنون او بدیعي صنایع له آره د عربي ادب او عروضي شاعرۍ ځانګړنې دي چې د ختیزو ژبو په ادبیاتو کې ورته د خپلو خپلو بېلګو په پیداکولو یې ځای او پوړۍ موندلې ده، پښتو ژبه چې له دیني او کولتوري پلوه له عربي ادب سره یو پیاوړی تړاو لري، پخپله هم د اولسي ادبیاتو د فرهنګ په نامه د خپلو ځینو ځانګړیو ادبي ځېلونو او نومونو (مصطلحاتو) یوه ځانله ټولګه لري، چې ځینې یې له جولیز پلوه له عروضي هغو سره یو څه پرمانیز تړاو لري؛ لکه واخلې مقام، رباعي، غزل او ...؛ خو ځینې نور یې بیا ګرد سره د پښتو د اولسي ادب خپله پېد ایښنه او پنځونه وي، لکه چاربیته، سروکی، بګتۍ، لنډۍ نارې، چغیان، انګۍ او .....

چې دغه هره نومونه بیا خپلې خپلې بدیعي ښکلاوې لري. لرې به نه ځو زموږ خبره د ښاغلي همکار پر دغې ګاللي زیار چې د بدیعي اصطلاحاتو دودیزو تعریفونو لپاره د نویو پښتو بېلګو راوړنه ده، یوه تته غوندې رڼا اچول وو.



د ښاغلي همکار دا اثر زما په اند یواځې د یوه لوستوال د ودې هڅونکی اثر نه دی، بلکې په پوهنتوني زده کړو (نصاب) کې د شامل او د تدریسېدونکي مضمون په توګه هم یو اغېزمن ځای لري، چې له پښتو څانګې او ادب سره د اړوندو زده کړو تنده به ښه تر اخړو به کړای شي. زه له ادبي فنونو او بدیعي صنایعو سره د یوه نا اړوند قلموال په توګه ددې اثر پر نورو اغېزو او ښکلاوو زیات څه ویلو حق نه لرم، خو څومره چې د ښاغلي همکار د غوښتنې له مخې څه ویلای شم، هغه دا دي چې:

دا اثر د پښتو څانګې د محصلینو او د پښتو ادب د بدیعي ښکلاوو د مینه والو لپاره یوه ګرانه او په زړه پورې ډالۍ ده، چې زموږ د لیکوال پر ډېر زیار او مښود ګواهي لي، زه ګرانو محصلینو او له بدیعي رنګارنګیو سره مینه والو ته ددې اثر له منځپانګې نه د خوند اخیستنې بلنه ورکوم او ښاغلي لیکوال ته یې د بشپړونې مبارکي وایم.
پر ځواني او قلم یې برکت شه!

په مینه
محمد آصف صمیم
۱۳۸٦/۲/۱۲
جلال کوټ

## د بدیع فن او پښتو شاعري

د هغه سپیڅلي ذات په نوم چې فرمایلي یې دي:

## ن و القلم و ما یسطرون

په رښتیا چې قلم او د هغه په وسیله لیکل شوي مطالب په ډېرو برخو کې د ستاینې او ارزښت وړ دي. د کایناتو خالق د همدې قلم په واسطه انسانان په هغو رازونو او رمزونو پوه او خبر کړل، چې پرې نه پوهېدل نو د قلم او د هغه د معنوي لاسته راوړنو درناوی کوو.

که چېرته قلم د فکر او پوهې خاوند په ګوتو کې وي نو د هغه په وسیله به داسې شیان رامنځته کوي چې تل د الله تعالی د بنده ګانو په خېر وي او هر هغه څوک، چې یوه ګټوره موضوع د خلکو د ګټې اخیستنې په موخه د هغوی په واک کې ورکړي او هغوی ترې یو څه واخلي څرګنده ده، چې په خپله لیکونکی یې هم بې ګټې نه پاتې کېږي.

تر کومه ځایه چې خبره د ښاغلي محمد ابراهیم (همکار) د کتاب (د بدیع فن او پښتو شاعري) په هکله ده او له دې سره سره چې په دې برخه کې یو شمېر اثار او لیکنې هم چاپ شوي دي خو دده لیکنه د ځینو ښکلو او خوندورو نوښتونو له امله د ځانګړي ارزښت درلودونکې بولم.

له موضوع سره په اړیکه کې دده د خپل کتاب لومړي درې څپرکي چې له اصلي موضوع څخه تر مخه راغلي زما په اند اصلي موضوع ته د ننوتو لپاره ډېر ګټور دي. همدارنګه اووم څپرکی بوختیاوې (سرګرمۍ) او اتم څپرکی (ادبي غلاوې) هغه خوندور او په زړه پورې او ځانګړې موضوعات دي چې ماته په نورو لیکنو کې نه دي راتر سترګو شوي. د بېلګو د راوړلو پر مهال یې د ولسي شاعرانو بېلګې هم له پامه نه دي غورځولي او همدارنګه یې د ټولو راوړل شوو بېلګو بشپړ ماخذونه د څېړنې له اصولو سره سم په ګوته کړي دي. د ځینو بدیعي صنعتونو



بېلګې چې د یو شمېر لیکونکو له خوا په یوه بله کې سره ګډې شوې وې، ده راجلا کړې او پر خپل ځای یې کارولي دي.

لنډه دا چې ده ته خدای (ج) د بیان او افادې ښه ځواک ورپه برخه کړی دی، د لیکنې سبک یې خوږ او روان دی، اغلاق، اطناب او زواید پکې نه لیدل کېږي. د تنقیط اصولو ته په خپله لیکنه کې پوره پاملرنه کوي، ددې کتاب په لیکلو کې یې له (۷۹) مهمو او باوري ماخذونو څخه ګټه اخېستې ده، د سرلیکونو په ترتیب کې یې هم پوره غور او دقت کړی دی.

ددغه کتاب چاپېدل به نه یوازې دا چې د پښتو ژبې او ادب د محصلینو اړتیاوې په اړوند مضمون کې پوره کړي، بلکې د نورو لپاره به یې هم لوستل بې ګټې نه وي. زه د خپلو خبرو لمن رانغاړم او د ومره وایم چې د ښاغلي محمد ابراهیم (همکار) دا زیار د ستاینې او منلنې وړ دی، زه ورته ددې نیک او ښه کار مبارکي ورکوم او دا ترې غواړم چې په راتلونکې کې د ادبي فنونو نور اړخونه هم له پامه ونه غورځوي، په نورو برخو یې هم لیکنې وکړي او په خپلو لیکنو د پښتو ژبې او ادب لمن پراخه کړي.

په علمي، فرهنګي او څېړنیزو چارو کې دده د زیاتو بریالیتوبونو په هیله!

په درناوي

پوهنیار سید غني (غني)

د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي د پښتو څانګې د علمي کادر غړی

# ځو خبرې

ګرانو لوستونکیو ! خوښ یم چې بیا مې تاسې ته یو بل کتاب په لاس درکړ. دا چې زما دا هڅه به څومره تاسې خوښ وساتي او یا هغه بهٔ کومې موضوعګانې وې چې تاسې یې پر پښتو ادب کې سترګې پر لار وئ او تر اوسه مو نه وې تر سترګو شوي په تاسې پورې اړه لري.

زه چې په کومه ادبي لار روان یم په دې خوشحالېږم چې څو د لارې ملګري د ادب له باغ او بڼه او د هغو له پټو رازونو خبر کړم. هغه څه چې ما لیدلي یا محسوس کړي دوی پرې په لنډ ډول او بې له څه خنډ او ځنډه خبر کړم، په دې هڅه کې هم زما بریالیتوب یا نیمګړتیا په تاسې پوره اړه لري.

تر دې اثر وړاندې په پښتو ادب کې په دې موضوع ګڼ اثار چاپ شوي دي ، چې ځینې یې په پښتو ادب کې بالکل نوښت دی لکه د عبدالروف بېنوا (ادبي فنون) نومورې د لومړي ځل لپاره د پښتو ادب په دې څانګه کې د یو علمي اثر پواسطه د فنونو خوا روښانه کړې. په ده پسې سید تسنیم الحق کاکاخېل د (روح ادب) په نامه خپله خواري کړې چې د بېنوا او کاکاخېل په اثارو کې ډېر نژدې والی لیدل کېږي.

په کابل پوهنتون کې د ادبي فنونو تدریس د پوهاند عبدالشکور رشاد پرغاړه شو ، هغه په دې لاره کې ډېرې هڅې وکړې محصلانو ته یې بېلابېل لکچر نوټونه جوړ کړل چې د بدیع په برخه کې زیات ګټور تمام شول، خو هغه ځهٔ ته چې زه په دې اړه سترګې پر لار وم تر اوسه هم دا ستا د په نامه کوم کتاب چاپ ته ونه سپارل شو ، همدارنګه په کوزه پښتونخوا کې هم اورنګزیب ارشاد د (بدیع) په نامه کتاب لیکلی، مشتاق مجروح هم د (زرکانې ) په نامه خپله خواري کړې ده، ددې تر څنګه عبدالرحیم



مسلم دوست (خوږه ژبه) تر نامه په ادبي فنونو کتاب لیکلی دی. ټول د قدر وړ دي او په خپل وخت یو نېک کار دی.

زما بوختیا چې نن سبا په پوهنتون کې د پښتو څانګې په مضامینو کې د ادبي فنونو تدریس او هم د پوهنتون تر څنګ د هغو شاعرانو او لیکوالو چې پوهنځی یې لوستی نه دی او یا یې د ژوند د ستونزو په وجه لوستلای نشي د ادب په بڼ کې روزل دي نو ښهٔ مې وګڼله چې په (بدیع) باندې یو نوی نظر وکړم او هغه ادبي صنعتونه چې د پښتو ژبې داادب په بڼ کې لا نه دي غوړېدلي راڅرګند کړم او یا هغه بېلګې چې په یو ادبي صنعت پورې اړه لري او په بل ادبي صنعت پورې تړل شوي دي په خپل خپل ځای راوړم. چې په دې لار کې هغه بېلګې چې د (لف او نشر) ادبي صنعت تر سرلیک لاندې راغلي او په حقیقت کې د (تقسیم) په ادبي صنعت پورې اړه لري.(تقسیم ) ادبي صنعت ته راوړې. په دې لاره کې مې په بدیعي صنایعو کې څلور ادبي صنعتونه هم ور زیات کړي چې یو یې (پټ ایهام تضاد ) دی بل یې (ګړنه) ده، دریېم (څلور مخی) او څلورم یې ( دتبدیل او تصحیف په بڼه معمی ) ده، همدارنګه په نومورې کتاب کې ما کوښښ کړی دی چې ژبه یې ډېره ساده وي او بې له استاده لوستونکي ته ځواب ووایي. الله(ج) دې وکړي چې په دې موخه کې بریالی شوی اوسم.

درنو لوستونکیو دانسان یوه هڅه هم پوره نه وي بلکې بلا نیمګړتیا وې لري نو دا لیکنه هم له نیمګړتیاوو څخه خالي نه بولم، هیله ده په خپلو نیکو مشورو مو د بیا چاپ لپاره ونازوئ.

د علم لار محدوده نه وي بلکې هر څوک په خپل وخت یو ځهٔ ترې زده کوي او یا څه پرې زیاتوي، نو زما له هغو درنو قلموالو او استادانو څخه هیله ده چې په دې لاره کې ورته د نورو ادبي صنعتونو نمونه او تعریفونه یادوي او ما په دې اثرکې نه وي راوړي ماته د لیک یا له بلې

www.pukhto.net

لارې راولېږي چې زه يې په راتلونکي کې د پښتو ادب له ګلبڼ څخه ببلګې راټولې اود درنو مينه والو پر وړاندې يې کښېږدم.

له درانه استاد محمد آصف صميم څخه مننه چې وخت په وخت مې د نوموړي اثر په ځينو صنعتونو کې ورسره مشوره کړې او په ورين تندي يې راته لارښوونه کړې، همدارنګه له استاد سر محقق سيد محی الدين هاشمي څخه مننه چې د ځينو ماخذونو او لارښوونو مرسته يې راسره کړې ده.د ښاغلي عبدالحسيب انوري دې کور ودان وي چې په خپلوهنري ګوتو يې نوموړی اثر ټايپ او کمپوز کړ. او په پای کې د ربنا مرکز له مشرتابه څخه زياته مننه چې نوموړی کتاب يې درنو مينه والو ته د چاپ په ګانه ښکلی کړ.

پوهنمل محمد ابراهيم همکار
د ننګرهار پوهنتو د ښوونې و روزنې پوهنځي د پښتو څانګې د علمي
کادر غړی

وری ، ١٣٨٦ل



# لومړی څپرکی

## کلام او کلمه

**کلمه (ويی ) :** د يوې ژبې تر ټولو کوچنی معنی لرونکی غږيز واحد دی ، که چېرته وشنل شي خپله معنی له لاسه ورکوي ، لکه قلم چې په (ق-ل او م) وشنل شي.

**کلام يا جمله** : که څو کلمې سره يو ځای شي او مخاطب يا لوستونکي ته د يوې مفکورې څرګندونه وکړي ، کلام يا جمله يې بولي.

د جملې اساسي توکي فاعل ، مفعول به او فعل دی ، چې له مبتدا او خبر څخه رغېدلي دي.

**ادبي کلام:** هرې هغې وينا ( نثر ، نظم ، تحريري يا تقريري) ته ، چې د اورېدونکي يا لوستونکي احساسات داسې راوپاروي لکه چې يې د ليکنې په وخت د ليکوال احساسات راپارولي وي او په يو چا د خوښۍ يا خواشينۍ اثر پرېباسي ، ادبي کلام وايي.

**منظوم کلام:** نظم په لغت کې د ملغلرو پېيلو ته وايي او په اصطلاح کې هغه کلام دی چې وزن او قافيه ولري ، لکه:

تاو مې کړه له ځانه خپل حجاب مې کړه
توری دې د مخ د سپين کتاب مې کړه
ما هم ستا لپاره ځان وقف کړی دی
اوښکه مې کړه څاڅکی د شراب مې کړه
هسې هم ياران سره پوهېږي تل
خير دی د رقيب مخکې ځواب مې کړه
ستا د سترګو تيغ ته مې ځان وسپاره
وګوره داخل لږ په ثواب مې کړه
خير دی خفه کېږه مه منت کوم

www.pukhto.net

لږ شان مشرف ستا په خطاب مې کړه
زه همکار په ياد کې دې غزل ليکم
ستا د پسرلي يو ښکلى باب مې کړه

دنظم لپاره پورتنى تعريف د عربي عروضو په بنسټ راوړل شوى دى. کله چې غربي اثرات د اردو ژبې پر لار پښتو ژبې ته راننوتل د نظم په ميدان کې يې پوره نوښتونه منځ ته راوړل ، ځوانو ليکوالو په تېره هغو چې په غرب کې يې زده کړې کړې وې د غربي ادب تر تاثير لاندې د نظم نوې بڼې په پښتو ادب کې دود کړې چې وروسته به يې په لنډ ډول دروپېژنو.

دمحتوى له مخې دا نوښت منځ ته راغى چې د نظم موضوع اکثره ټولنيزو نيمګړتياو ته بيله شوه او د عربي عروضي نظمونو د بڼو په کارونه يې د شعر روح بدل کړ ، په دې ډول نظمونو کې پرلپسې يوه موضوع راوړل کېږي. داد شاعر خوښه ده چې د نظم کوم قالب ورته مناسب ښکارېده په هغه کې يې شعر ليکه ، لکه د علامه ګل پاچا الفت لاندې غزل چې د (بد حاکم) تر نوم لاندې يې ليکلې ده.

هر څه کولى شي حاکم د چا پروا نه لري
بې له رشوته بل مقصد او مدعا نه لري
خداى(ج) ورته صبر کوي خلق څه کولى نشي
ځکه له خدايه خوف له خلکو نه حيا نه لري
د مظلومانو په ژړا يې زړه نرمېږي کله
مرګ يې هېر کړى د قيامت غم او سودا نه لري
پنځو پېسو لپاره سل رنګه ظلمونه کوي
درشوت ځاى کې دين ايمان ورور و اشنا نه لري
شداد فرعون نمرود دده په دروازه کې ولاړ
لکه چنګېز او هلاکو رحم په چا نه لري
ډېر بې ګناه خلق زندان کې اچولي دي ده
ډېر ګناهګار يې خوشې کړي چې ګناه نه لري
غل او خوني وي تښتيدلى ده نيولي وي نور



چې لاس ته ورشي هغه نيسي هيڅ پروا نه لري
هر څوک وهي او ټکوي بيا يې تړي په زنځير
ظالم مظلوم نه پېژني ستر ګې بينا نه لري
وچ او لامده يو شانته سوزي زړه يې هيڅ نه سوزي
د غضب اور يې دود لري نور او رڼا نه لري

د پورته غزل محتوى د يوه بد حاکم د کړنو غوره انځور دى چې ټولنه ورته متوجه کوي. همدارنګه د فورم (بڼې ) له پلوه هم د نظم په ميدان کې جوت نوښتونه راغلل چې د ځرګندونې لپاره يې څو بېلګې راوړو:

## ازاد شعر:

داد غربي نظم هغه ډول دى چې يوازې د وزن او څپو خيال پکې ساتل شوى وي ، دقافيې قيد په دې نظمونو کې نه وي لکه د (جنت) تر سر ليک لاندې د اجمل خټک دا نظم:

### جنت

د يو ملا نه مې تپوس وکړلو
ما وې ، ملا صاحب جنت به څه وي؟
هغه په ګېډه لاس واهه ويل يې
(( تازه مېوې او د شيدو رودونه ))

***

خواکې کتاب ته يو طالب ناست و
ماوې چې ته به په کې څه وواېې؟
د زلېخې کتاب يې بند غوندې کړو
وې چې ((ښايسته حورې او شنه خالونه))

***

شيخ د تسبو امېل په لاس ولاړ وو
پخپله ږيره کې يې لاس وهلو
ده پرې راودانګل نه داسې نه ده
(( ښکلي غلمان او جنتي سرونه ))

***

یو خان په لویه سجده پروت پاخیده
ما وې چې خان کاکا ستا څه رایه ده
خپله شمله یې سموه ویل یې
((د سرو او سپینو عنبري کورونه ))

***

خواکې یو ستړی سپلېدو ولاړ و
ماوې مزدوره ! ته جنت پېژنې؟
د خپل تندي خوله یې وچه کړله
وې چې ((مړه ګېډه خواړه خوبونه ))

***

یو لېونی غوندې په لار تېرېدو
ماوې چې یه ! فلسفي ته څه وایې ؟
خپل ببر سر یې ګړوو ویل یې:
((بس د انسان د خوشحالو خوبونه ))

***

مادې خپل زړه ته سر ورښکته کړلو
ده په اوترو سترګو بره کتل
دې شین اسمان ته غورېدو ویل یې ؟
ما اورېدل ترې دا یو څو لفظونه
ویل یې ((ای د لامکان خاونده !
په خپل مکان کې خپل اختیار جنت دی
ګني ددغه لېونتوب په نامه
که ناروې نار که دار وي دار جنت دی )) [1]

په پورته نظم کې هیڅ ډول قافیه نه ده کارول شوې ، یوازې څپې او وزن یې مراعات کړی دی او که چرته راغلې هم وي قصدي نه ده بلکې د کلمو په اوډنه کې پخپله راغلې ده.

[1] دغیرت چیغه ۸۹، ۹۰، ۹۱ او ۹۲ مخونه



## ازاد نظم

ازاد نظم د غرب تر اثر لاندې پښتو منظوم ادب ته راننوتی دی په دې ډول نظم کې هم موضوع پرلپسې روانه وي د قافیې او څپو خیال په کې نه ساتل کېږي ، یوازې خبره د موضوع د پرلپسې والي ، قوي تخیل، انځورونه او د وزن د مراعاتولو پکې لازمي وي ، د بېلګې په ډول یې لا ندې نظم ولولئ.

## دا نجلۍ مه ځوروه

دا نازولې نجلۍ مه ځوروه !
دې د خوږې مورکۍ په غېږه کې نازونه کړي
موریې نازونه وړي
دې په پستو خپرو ، د مور له څنو سره لوبې کړي
او په پستو مرجاني شونډو یې شیدې رودلي
دې په پستو پستو لېمڅیو کې خوبونه کړي
دا نازورلې وه تل
دې لومړنی قدم په شنو شنو چمنو اخستی
دې له بورا سره د ګلو پاسداري کړې ده
دې له تنکیو تاندو لښتو سره راز ویلی
دا بې ګناه پرښته مه ځوروه
دا له غوټیو سره چوپه خوله ګویا وه همېش
له سرو غنچو سره په کټ کټ خندېدله مدام
په غلچکي نظر به ځېره وه نرګس ته سحر
د ارغوان څانګه بۀ دې ته ارغنون * غوندې شوه
دابه کړه وړه له نازه تلله
نسیم به ورو ، ورو ددې ګرده بخملي لمنه
په عطریزو او سوچه لاسونو ونیوله
د سپرلي د لمر په سپینو پلوشو مینه

* د ساز یو ډول آله ده

www.pukhto.net

د طبیعت په رنګینه نړۍ کې ډوبه ، ډوبه
د خپل کلي د وګړو محبوبه وه همېش
ځکه چې د اوه باعفته پاک لمنې پېغله
داد واده په سره سالو کې سره لمبه غوندې وه
رڼا ، رڼا شوه ستا د کوره د ظلمتونو په ضد
ستا د جونګړې چوپتیا
ددې په غږ شوه سندرېزه اوله شوره ډکه
تاته همرازه غمشریکه شوه هوښیاره نجلۍ
دا نازولې نوره مه ځوروه ! [1]

## هایکو

د نظم نوموړې فورم (بڼه) د جاپان پر مځکه راټوکېدلی چې درې مسرې لري سمه بڼه یې داده چې لومړۍ او درېیمه مسره یې په قافیه کې سره یو شان وي زموږ شاعران ددې خبرې څه خیال نه ساتي ، بلکې ددرې واړو مسرو وزن او څپې په پام کې نیسي او قافیه یې نه مراعاتوي.

- د هغې هایکو بېلګه چې درې واړه مسرې یې قافیه نه لري

د یو مظلوم د نهیلیو اوښکه
لکه شونتۍ داورله تاوه وتې
زمـا د زړه په لمبو وڅڅېده
(همکار)

- د هغې هایکو بېلګه چې په لومړۍ او درېیمه مسره کې یې قافیه مراعات وي.

ما د زړه په اینه کې پټ لېدلي
بس تصویر وې یو انځور دارمانونو

[1] د بلقیس مکېز شعري ټولګه ۲۵ ، ۲۶ مخونه



چې د ژوند په کښېده کې مې ځارلې
(همکار)

هایکو ته ورته نظمونه زموږ د لرغونې دورې په نکلونو کې د نارو په بڼه راغلي دي ، لکه د فتح خان او رابیا په نکل کې د رابیا د خولې لاندې ناره چې کټ مټ د هایکو بڼه لري:

د فتـــح کورنګه نال به دې زرین کړم
کـــــــه دې دا وار فتـــح راوړ
خپل امېل به ستا د غاړې لونګین کړم (1)

ځیني سرو کې هم نوموړي فورم ته ورته دي. جاپانیانو په نوموړي فورم کې خپل مذهبي اشعار راوړل.

## سپین شعر

د سپین شعر لاروي په پښتو ادب کې ډېر تت تر سترګو کېږي، که څوک خپل شاعرانه خیال په ساده نثر کې چې هیڅ ډول وزني قید ونه لري وړاندې کړي، سپین شعر بلل کېږي.

د سپین شعر او منثور شعر هم ګډې پولې دي، چې د نورو هېوادو لیکوال یې په بېلونه کې له ستونزو سره مخ دي.

د نوموړي شعر په اړه ډاکټر محمد علي صادقیان لیکي:

(( هغه شعر دی چې په آهنګین بیان نغښتی وي او د نوي شعر له ځانګړنو څخه محرومه وي. ))

ډاکټر صادقیان په خپله لیکنه کې د ډاکټر رستګار خبره هم له خپلې خبرې سره غبرګوي لیکي:

((سپین شعر د نوي شعر له جملې څخه دی... نوموړی شعر له وزن او جوړښت څخه بې برخې وي)) همدارنګه د فریدون تولکي خبره هم رااخلي ((سپین شعر

[1] د پښتو ادب ، ۲۳۱ مخ

www.pukhto.net

شاعرانه حالت لري او د بحر او قافيې له ګانې څخه بې برخې دی. زما په نظر د نوم په لړ بدلون سره هغه ته شاعرانه نثر ويلای شو ))

له پورته څرګندونو دا پايله لاس ته راځي، چې سپين شعر ساده نثر دی هېڅ ډول قافيوي يا وزني قيد نه لري ؛خو يوازې هغه څه چې په نظر کې نيول کېږي هغه د شعر تومنه ده، چې له ساده نثر سره ګډېږي او پر لوستونکو ښه اغېز پرېباسي.

زه د پوهاند مجاور احمد زيار لاندې کلام د سپين شعر په بېلګه کې راوړم:

### د مينې کور

ستا دنګه ونه
د سپرلي د ښيرازيو
د پايښت ننښه وه
ولاړې او بې له تانه
و لمبل باغ په خپلو سرو وينو کې
ستا دنګه ونه
د باران د ورېدو زيری و
و لاړې او بې له تانه
پر شونډو وچ شو
دخندا اوو فصل ([1])

[1] زما نړی



# منثور کلام

نثر په ژبه کې پاشلو تـه وايي او پـه اصطلاح کې هغـه کـلام دی چې وزن او قافيه ونه لري ، نثر د جوړښت له پلوه په څو ډوله دی:

١ـ **مسجع نثر**: هغه نثر ته وايي چې د يوې جملې وروستۍ کلمه د بلې جملې يا فقرې له وروستۍ کلمې سره هم قافيه وي.

لکه:

مرګ بهٔ ورشي و سرې و ته ناګهان ، نشته د سړي په دنيا کې تل د تله مقام ([1])

يا:

پس دخدای (ج) د حمد او د ثنا ، درود پـه مصطفی او دده پـه آل او پـه اصحاب او پـه جميع اهل هدا ، وزمره دا تقيا ، وايم زه پيرو د نفس و دهوا ، محبوس د عنا، ګرفتار د دام بلا ،باني ددې انشاء، مولف ددې املا، ..... دستار نامه نام کړم ، هر چې معنی ددې بيت دی پاره پکې درج کړم ، خپل فکر په دا مشعله کې څه خرڅ کړم ، چې هم مې په دا فکر کې بالفعل دلګيري پرې دفع وي ، هم په دا اليتام کې ګندې د چا نفع وي.([2])

٢ـ مرجز (*) نثر :

هغه نثر ته وايي چې د يوې جملې ډېرې کلمې د بلې جملې له ډېرو کلمو سره هم وزنه وي خو هم قافيه نه وي لکه:

يو ځان شرمـــوي بل قــام شرموي
ښه نوم دې د ځان ، بد نوم د ې د قام

٣ـ **مرصع نثر**:

هغه نثر ته وايي چې د لومړۍ جملې ټولې کلمې له دويمې جملې سره په وزن او قافيه کې يو شان وي:

ځوان يې شرنګجار د تورې ښۀ دی ، خان يې ګفتار د بورې څه دی

[1] خيبر البيان پېښور چاپ ١٤٩ مخ

[2] دستار نامه يار محمد مغموم لومړی مخ

* ارجوزه ورته وايي ، هغه قصيده چې د رجز په بحر کې ويل شوې عربي کې شپږ وار مستغعلن او فارسي کې اته واره بيتونه

www.pukhto.net

٤_ عاري ( مرسل ) نثر:

هغه نثر چې په جملو کې یې د وزن او قافیې هیڅ قید نه وي په څو ډوله دی:

الف - سلیس (روان ) : هغه نثر چې کلمې یې له ورځنې ژوند سره برابرې وي او مضمون یې پوهې ته نژدې وي.

ب - د قیق نثر: هغه نثر چې ستونزورې کلمې په کې راغلې وي او له عامې پوهې څخه یې لرې کړی وي او په سوچ سره یې معنی ذهن ته راشي.

ج- رنګین نثر: هغه نثر چې لفظي مناسبات، تشبیه ګانې او استعارې پکې کار شوې وي.[1]

[1] محمد طاهر فاروقي، فصاحت او بلاغت،



# دویم څپرکی

# فصاحت

فصـــــاحت د باغ بلبلو څخه غواړه
د کارغـه له فصاحت سره څه کار دی[1]

په ژبه کې څرګند ولو ته وایي، د ادب په اصطلاح کې هغه کلام چې له ورځنۍ ژبې سره برابر وي. روان (سلیس) او د تالیف له ضعف، تنافر، له لفظي او معنوي غوټو ( تعقید ) څخه پاک وي، همدارنګه له نحوي او ګرامري قانون څخه پکې سر غړونه نه وي شوې.

لکه څنګه چې منظم غږونه د موسیقۍ بنسټ جوړوي که چېرته دا غږونه نامنظم شي د اورېدو لپاره په غوږونو پېتې شي، په دې ډول په کلام کې مناسب الفاظ کارول او ددوی ترتیب د فصاحت د پیدا کېدو سبب ګرځي.

د کلمو تکرار، ددرندو لفظونو راوړل او دداسې کلمو کارول چې تلفظ یې سخت وي یا په اورېدو کې درانده وي په فصاحت کې نیمګړتیا رامنځ ته کوي که چرته د تکرار ضرورت وي په داسې ډول دې راوړل شي چې په اورېدو او لوستو کې بد ونه لګېږي.

دې خبرې ته پام په کار دی چې د فصاحت اړیکه ډېره په کلمو پورې تړلې ده له معنی سره یې اړیکه کمه ده کېدای شي د یوې کلمې معنی ښه وي مګر په بیان کې به یې فصاحت نه وي په دې ډول د کلام اثر ډېر کمېږي او ځینې وخت یې سلیم ذوق نه قبلوي.

[1] خوشحال بابا کلیات لومړی جلد کابل ۳۳۰ مخ

www.pukhto.net

فصاحت په درې ډوله دی:

د کلمې فصاحت ، د کلام فصاحت او د متکلم فصاحت

الف-د کلمې فصاحت: دداسې کلمو غوره کول چې دروندوالي (تنافر) ، ناسلیس والي (غرابت) او د قیاس مخالفت پکې نه وي. همدارنګه په غوږو بدې ونه لګېږي یعني کراهت پکې نه وي او ډېرې بازارې مبتذلې هم نه وي.

۱_دروندوالی (تنافر) : په جمله یا بیت کې دداسې کلمو راوړل دي چې تلفظ یې ګران وي اوپه غوږونو هم دراندہ لګېږي. لکه د ښکار ندوی د بو للې په لومړي بیت کې د (ښکلونکي) کلمه:

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرو نو کې لالونه [1]

په پورته بیت کې د (ښکلونکي ) کلمې په اړه څه معنوي ستونزه نشته یوازې په پورته ځای کې یې د راوړو په وجه د تلفظ ستونزه منځ ته راغلې چې د شعر خوند له منځه وړي او په غوږونو هم بد لګېږي.

۲_ناما نوسوالی (غرابت ) : په لیک یا نظم کې دداسې کلمو راوړل دي چې معنی یې د عامو خلکو له سویې څخه لوړه وي په داسې کلمو د پوهېدو لپاره قامو سونو ته اړتیا پیښېږي او کله خو داسې پېښ شي چې قاموس یې هم له معنی څخه عاجز شي د دې کلمو راوړل په درېو لارو لیک ته ننوځي:

الف-د یوې ژبې د مړو کلمو راوړل: ددې په موخه چې موږ ژبه غني کوو دا ډله لیکوال هغه کلمې په خپلو لیکنو کې راوړي چې سل یا دوه سوه کاله یا سلګونه کاله وړاندې په ژبه کې ژوندی وې خو اوس یې څوک د معنی په اړه هیڅ نه پوهېږي او نه یې کاروي په بېلګه کې یې د ګوهر رحمن ګوهر لاندې قطعه:

[1] پته خزانه ٥٠ مخ



قطعه

د کلیم پښلوځی واخله
او ډیوېز د سول ډیوټ کړه
بیا په توره د لنبې دې
تور تیپونه واړه سټ کړه [1]

په پورته څلوریزه کې (ډیوټ ، پښلوځی ، ډیویز ، سول او تیپونه ) داسې کلمې دي چې په ورځنۍ ژبه کې نشته او اوس مړې دي. یوه نیمه به په ډېر تکرار ژوندی شوې وي ، لکه (پښلوځی ) مګر نورې یې اوس هم د مرګ په درانه خوب ویدې دي چې د پورته کلمو معنی په ترتیب سره ( د ډېوې ایښودلو اله ، دړوکې، ډیوه ، عقل او لښکرې ) ده.

ب-د نویو کلمو جوړول (نیو لو ګېزم) : ځینو لیکوالو ددې په پلمه چې ما ژبې ته ډېر کار کړی یا مې پکې نوښت کړی یا مې د نورو ژبو سیاله کړې بې له کوم اکیډمیک ټولې څخه په خپل سر په ژبه کې نوې کلمې جوړوي چې په دې کار سره عام وګړي خو لاڅه چې خاص کسان یې هم د مفهوم په پوهېدو کې پاتې راوستي دي.

لکه: ( اړینو نغوتو ، برېښنا یوني پرمختګ ، ننګونې ، ویون ، ځمکزي ، لروین ، واندونه ، پنځون ) او داسې نور چې اړوند و لیکوالو نوموړې کلمې د (لازمو مشورو ، ډېر تېز پرمختګ ، چېلنج ، تلفظ ،د ځمکې بچي ، دوربین رایه یا نظر او فطرت یا طبیعت ) د معناو و لپاره جوړې کړې دي.

ج:د پردیو ژبو کلمې کارول:ځېنې لیکوال دا غوره ګڼې چې هېڅ په هیڅه د پردیو ژبو کلمې کاروي ، دا کار دوی په دوه علتونو کوي:

۱.په کومه موضوع چې لیکنه کوي د هغې په اړه د پوره معلوماتو نه لرلو یا دخپلې ناپوهۍ د پټولو لپاره په لیکنه کې د اسې لغات کاروي چې دمعنی په اړه یې چاته پته نه وي.

[1]: ډیوټ لومړی مخ

www.pukhto.net

۲. ځینې لیکوال یې د کاکګۍ لپاره کاروي چې ټولو ته وښیئ چې زه ډېر عالم او فاضل لیکوال یم ، په هره موخه چې څوک د کلمو داسې کارونه کوي په خطا تللي دي او ژبې ته د ګټې پر ځای تاوان رسوي لکه:

ګېټ کولاو کړه،

په پورته جمله کې (ګیټ) انګریزي ، (کولاو) اردو کلمې دي چې د دواړو لپاره یې مونږ په خپله ژبه کې ګڼې کلمې لرو. یا لکه د حافظ الپوري لاندې بیتونه.

غم ستم هــــارب وو د عــــــــشرت نجم ثاقب وو
مخ زیبا طـــــیب وو مهــــــیا تقبیل مـــساس ته
صبر کشت بار دار وو ستا کږو وروځو منډوت کړو
کـــــــــشت نه لــــــري زور پایداري و تېره داس ته

د ستم معنی ظلم ، د هارب معنی تښتېدونکی ، د عشرت معنی خوشحالي ،د نجم معنی ستوری، د ثاقب معنی پړقېدونکی یا ځلېدونکی د زیبا معنی ښکلی د طیب معنی سپېڅلی ، د مهیا معنی تیار د تقبیل معنی ښکلول ، د مساس معنی لاس وهل ،د کښت معنی کرل شوی پټی ، د منډوت معنی لو شوی پټی او دداس معنی لور ده.

حافظ الپوري یار ته د ورنږدې کېدو او لاس وروړو د جرم د علت اسباب بیانوي او غواړي چې له خپل محبوب څخه د کړي کار معذرت وغواړي نو ځکه وایي:

(( ظلم او غم راڅخه لرې و ، د خوشحالۍ ستوری مې په ځلېدو و ، ښکلې او پاکه محبوبه زما لاس وروړلو ، نژدې کېدو او مخ ښکلو ته تیاره وه نو زما صبر خو یو بارداره او میوه لرونکی فصل و او ستا د لور په شان کږو ورځو وربېبه او تش وټ پاتې شه ، لکه څنګه چې فصل د تېره لور په وړاندې څه ځواک نه لري همدا شان زما صبر هم ستا د حسن تاب رانه وړ نو ځکه راڅخه ستا د ښکلو لو او لاس در وړلو ګستاخي وشوه. ))



پورتنی شعر د تخیل په بنسټ ډېر اوچت دی خو د نورو ژبو د کلمو په راوړلو یې د فصاحت له درجې څخه غورځولی دی او هغسې خوند څوک ترېنه نشي اخستلای ، چې څنګه لازم دی(۱)

ځینې وخت داسې پېښېږي چې د پردۍ ژبې کلمه په یوه ژبه کې دومره کارول شوې وي ، چې د ژبې د خپل مال ګمان پرې کېږي او عام خلک ددې په اړه سوچ هم نه شي کولای چې دا به د بلې ژبې کلمه وي که چېرته په دې ډول کلمه وي او بیا ددې کلمې پر ځای د خپلې ژبې مړه کلمه کارول کېږي یا یوه نوې کلمه ورته جوړېږي ، پر ژبې او اولس تېری کول دي او په لیکلو کې ځان ترېنه باید وساتوو لکه د طبیعت لپاره (پینې) ، د ناموس لپاره (پول) ، او د فصل لپاره (تول) ، کارول او داسې نور.

**۳.د قیاس مخالفت (دعامې قاعدې مخالفت):**

په نثر یا نظم کې دداسې کلمو راوړلو ته وایي چې د ژبې له عامې قاعدې (ګرامر) څخه پکې مخالفت شوی وي ، لکه (نارینه) کلمه چې (ښځینه) ته وکارول شي ، خوشحال بابا وایي:

چې راښکاره شوه یوه سړې — زړه مې پرې بایلو هغه ګړې
د زړه ښــندنه اسانه نه ده — بې ځایه څوک ښندي یوه د مړې

د (سړې) کلمه د ښځو لپاره په عامه قاعده کې نه کارول کېږي نو ځکه یې د قیاس مخالفت ګڼي او د فصاحت له درجې څخه راښکته کېږي.

کله په لیکنه کې د فعل او مفعول یا فاعل او فعل تناسب په پام کې نه نیول کېږي ، همدارنګه د صفت او موصوف مطابقت ته هم پام نه کېږي، چې دا هم فصاحت ته زیان رسوي ، لکه کامګار چې وایي:

ستا د حسن یاد زما په زړه کې لیک شو
دا نخــشه مې له خـــاطره زایل مه شه

په پورته بیت کې (نخشه باید نخش یا نقش) کارول شوی و ، مګر د نظم د ضرورت په بنسټ ښځینه کارول شوی دی چې بیت د فصاحت له درجې څخه غورځېدلی دی.

۱ روح ادب ، ۱۵ ، ۱۶ مخونه

یا:　　احمد ښه سړی ده

په یوه بل بیت کې راځي:

غرض دا چې دم قدم نه و بې عشقه
که په غره و که په سم نه و بې عشقه

د (قدم) د قافیې لپاره (سمه) کلمه (سم) شوې ده، چې د فصاحت له دایرې څخه وځي.

## ٤. په غوږو بد لګېدل (کراهت).

دداسې کلمو راوړلو ته وایي، چې نازک طبیعت ورڅخه کرکه کوي او بار پرې اچوي،. لکه د حمید مومند لاندې بیتونه.

څه بې ځایه ګفتګو کوې بې تانګه
ورک شه ستا رد او بدل د ایرو ډانګه
ستور او خر په کې ډوبېږي که باور کړې
چې ورځې هغه او به د اوښ تر تانګه (١)

په پورته بیتونو کې که څه هم (تانګه او ډانګه) کلمې بې ځایه نه دي راغلي خو بیا هم په غوږونو درانه لګېږي.

## ٥. بازاري یا مبتذلې کلمې:

په کلام کې دداسې کلمو کارول چې د ټولنې په اخلاقي اړخ بد اغېز کوي او کارونکی یې ورباندې دروند نه ښکاري، لکه عبدالرحمن بابا وایي:

چې هنر ګڼې یاري د زوراورو
زه رحمن کومه بول په دا هنر (٢)

یا:

د سپي غُل ددروغجن په خوله کې تل کړه
په رښتیا خبرو خوله د سړي ښکل کړه (١)

---

١ – عبدالحمید مومند کلیات ٢٤١ ، ٢٤٢ مخونه
٢ - دیوان عبدالرحمن بابا ٩٠ مخ
١ خوشحال بابا کلیات دانش ١٨٩ مخ



## ب: د کلام فصاحت:

هغې وینا یا لیکنې ته وایي چې د کلمو تنافر د تالیف (جوړښت) ضعف، لفظي غوټه (تعقید) معنوي غوټه تکرار او د اضافو پرلپسې والی و نه لري.

١- د کلمو تنافر: که چېرته په کلام کې کلمې داسې ترکیب شوې وي چې پر غوږو بدې ولګېږي، د کلمو تنافر یې بولي.

د غازي سیال بیت دی:

ګنزه ګنزه ټنده مه نیسه دلبره!
شنه خالونه په قطار که مزې و اخله (٢)

په پورته بیت کې (ګنزه ګنزه ټنده مه نیسه دلبره) د کلمو ښه ترکیب نه دی، هغه چې د نازک مزاج څښتنان دي، ښه ورباندې نه لګېږي، که څه هم د یاد شوي ترکیب هره کلمه ځانته ځانته د تلفظ کوم درونډوالی نه لري. یا لکه د روغ لېوني په لاندې بیت کې هم یو څه د تلفظ درونډوالی تر سترګو کېږي:

لړ پاتې سفر نظره دورمه دورمه
لار ده برابر نظره دورمه دورمه دورمه (٣)

د نصرالله خان څلوریزه ده.

پتنګ تل خوښ وي ډېوې ډ بوټ باندې
ګنډګی اختر کړی غلیظ ګونګټ باندې
درغلان خلق په دنیا خوښ وي
زاهد خوشحال وي د خلوت ګټ باندې (٤)

د پورته څلوریزې په دوېم نیم بیتي کې د کلام تنافر لیدل کېږي.

٢- د تالیف (جوړښت) کمزوري:

---

٢ پښتانه لیکوال لومړی ټوک ٣٨٥ مخ
٣ همدا اثر ٣٧٨ مخ
٤ پښتانه لیکوال لومړی ټوک ٢٥٦ مخ

www.pukhto.net

د جملو په جوړښت کې د کلمو داسې وړاندې او وروسته والی چې د ګرامر او نحوې له عام قانون څخه څرګنده سرغړونه وي او اجازه يې نه ورکوي.لکه د کامګار خټک لاندې بيت:

د يار هجر هسې رنګ کړم بې مجاله
چې خبره نا سزا د يو هر وړم

په پورته بيت کې شاعر د (هر يو) پر ځای د قافيې د برابرولو لپاره (يو هر) راوړی دی چې ، د تاليف کمزوري بلل کېږي.

يا لکه دولت لواني چې وايي:

ښه صفت د پاک سبحان دی چې حضور په هر مکان دی
لمونځ زکات کلمه حج دی بل روزه د رمضان دی (١)

په پورته بيتونو کې (روزه) ښځينه کلمه ده ، چې مرستيال فعل (دی) ورته د نارينه په بڼه کارول شوی او د تاليف ضعف بلل کېږي.

٣.غوټه (تعقيد): که په جمله يا نظم کې د خبرې معنی څرګنده نه وي غوټه بلل کېږي ، دا کار په ليکنه کې په دوه ډوله پېښېږي.

a- لفظي غوټه: که چېرته په کلام کې يوه کلمه له خپله ځايه بې ځايه شوې وي او په معنی کې يې نيمګړتيا رامنځ ته کړې وي، لفظي غوټه ګڼل کېږي. لکه علي خان چې وايي.

مه کوه چې نه کوي ناپسندې په ماهجر
اوکړه چې مې اوکړي مهر غور ناز پروره (٢)

په پورته بيت کې (مهر) د (اوکړه) لپاره (مفعول به) واقع شوی دی د دويم فعل (اوکړي) او د همدې فعل د مفعول به (غور) تر منځ واقع شوی دی ، چې په دې وجه په خبره کې غوټه پيدا شوې ده که چيرته په خپل خپل ځای وليکل شي ، غوټه له منځه ځي.

---
١ د قافيې فن ٤٥ مخ
٢ روح ادب



علي خان محبوب ته وايي: ((ته په مانا پسندې مه کوه ، چې هجر هم راباندې ناپسندې نه کوي ، ای ناز پروره ته راباندې مهر وکړه ، نو هجر به مې هم غور وکړي او د هجر سختې به راڅخه لرې شي.))

په يوه بل بيت کې راځي.

ستا تر لالو لبو هيڅ لال و مرجان دی
مات قيمت غاښونه ستا درنایاب کا

په پورته بيت کې د (قيمت ماتوالی) د درنایاب لپاره کارول شوی دی چې دا کار د محبوبې د غاښونو په وجه شوی دی ، يعنې د شاعر مطلب په دويم نيم بيتي کې په دې ډول دی (ستا غاښونه د درنایاب قيمت ماتوي)

غوټه د ( غاښونه ستا ) په سبب رامنځ ته شوې ده چې د ( مات قيمت ) او د(درنایاب ) تر منځ واقع شوی دی.

b.- معنوي غوټه:

که چېرته د کلام کلمې په معنوي لحاظ اساني وي په جوړښت کې يې هم څه کمزوري نه وي مګر د جملې په معنی راڅرګندولو کې داسې لرې او پېچې واسطې وي چې لوستونکی يا اورېدونکی يې په اساني. معلومولای نه شي معنوي غوټه ورته وايي، لکه:

غواړمه چې لرې شم له تانه چې نژدې شم
اوښکې بېومه که مې وچ د سترګو نم شي (١)

شاعر له خپل محبوب سره د نژدې کېدو لېواله دی ، مګر په بيت کې يې ددې کار لپاره له محبوب څخه لرې والی غوښتی او همدارنګه د خوښۍ دلاسته راوړو لپاره اوښکې تويوي چې د غم نښه ده په څرګنده دا فکر کېږي چې دا ولې؟

خو که فکر پرې وشي، خبره دومره سخته نه ده ، په حقيقت کې شاعر ټول عمر د وصال ( يو ځای والي) دعاګانې کړي. خو يوه هم قبوله نه شوه ، اوس په دې پوهېدلی دی چې ( زمانه ) زما د غوښتنې خلاف کار کوي نو وايي راځه ته هم

---
١ روح ادب ٢١ مخ

ورته اپوته شه ، دهجر غوښتنه وکړه ګونډې وصال درکړي او د اوښکو او غمونو غوښتنه وکړه کېدای شي خوشحالي درکړي.

٤.تکرار او د اضافتونو پرلپسې والی:

په کلام کې د يوې کلمې څو ځلې کارولو ته وايي چې په طبيعت سخت لګېږي ، لکه د خوشحال بابا په لاندې بيت کې د مرستيال فعل (شي) تکرار.

هېچرې د شـــولو د ســـړي برکـــت نه وي

شل شي شول شي شوم شي چې همېش شولې کرينه ([١])

ج.د متکلم فصاحت:

د متکلم فصاحت يوه داسې ملکه او ځواک دی ، چې د دې په برکت يو څوک د خپل زړه مطلب په څرګند ډول مخاطب ته ورسوي. دا کار به د متکلم په خبرو کې اتفاقي نه وي ، بلکې د نوموړي په کلام کې به د تل لپاره موجود وي، که هغه نثر وي که نظم ، لکه په پښتو ادب کې علامه ګل پاچا الفت چې په نظم او نثر دواړو کې يې پورتنی ځواک پروت دی.

---

١ روح ادب ١٩ مخ



# بلاغت

د بلاغت لغوي معنی ښه والی ، کره والی او انتها ته رسېدل دي او په اصطلاح په وينا کې د داسې کلمو کارولو ته وايي ، چې د مخاطب له سوېې سره برابرې وي او کلام له بې معنی کلمو څخه پاک وي.

بلاغت د کلام او متکلم صفت واقع کېږي ، يوازې يوې کلمې ته بليغه نه ويل کېږي ، خو هغه وخت يې بليغه بللی شو ، چې د کلام تر حکم لاندې راشي او د جملې معنی ورکړي ، بلاغت په دوه ډوله دی: د کلام بلاغت او د متکلم بلاغت.

١.**د کلام بلاغت:** چې جمله فصيحه او د ويونکي د موخې د بيان لپاره بشپړه او رسا وي ، همداراز د حال او مقام له غوښتنې سره سمه او برابره وي ، مثلا د يو مقام غوښتنه ايجاز او لنډون وي نو په دې وخت کې موجز کلام يا لنډ کلام په کار دی او که د تفصيل او اطناب غوښتنه يې کوله نو په دې وخت کې يې سپړنه او تفصيل په کار دی.

همداراز بايد د تاکيد (سپارښتن) ، حذف (غورځون) ، تعريف (پېژندون) ،انکار ، تقديم او تاخير په وخت کې د حالاتو ځانګړنې په پام کې ونيول شي او بيا دې د همغو حالاتو په غوښتنه عمل وشي . مثلا که مخاطب ستاسې له وينا نه انکار کاوه ، بيا د دغه حالت غوښتنه داده چې وينا دې تاکيدي وي ، مګر که د دې خلاف مخاطب ترديد او انکار نه کوي نو په وينا کې تاکيد نه ښايي.

په همدې ډول که ستاسې مخاطب پوه او زيرک سړی وي له هغه سره بايد عالمانه وغږېږئ ، لنډې ، موجزې او له مفهوم نه ډکې جملې جوړې او ادا کړئ ، که مخاطب مو امي او غبي سړی وي، نو له هغه سره دومره ساده او څرګنده وينا په کار ده چې د هغه د پوهې په دايره کې راشي.

www.pukhto.net

په هر حال د فصاحت له اصل څخه باید بې خبره ونه اوسو ، ځکه د بلاغت اصلي بنسټ او مهم شرط دی ؛ که کلمې او ترکیب یې د فصاحت په ګاڼه ښکلی نه وي نو په هغه کلام کې بلاغت نشته او بلیغه وینا یا کلام ورته نه شو ویلای.

۲.**د متکلم بلاغت:** بلیغ متکلم یا پوه ژبور هغه څوک دی ، چې د رسا او بلیغ بیان د پوهې د زیرکتیا او ځواک ملکه ورسره وي ، چې بلیغې خبرې راټولې کړي او په زړه پورې تالیف او ترکیب ورکړي او د حال له غوښتنې سره سم یې سمې وړاندې کړي.

د متکلم بلاغت د ادب د خلکو په دې دریو ډلو پورې تړلی دی:

(۱) شاعران (۲) لیکوالان (۳) ژبور(خطیبان ، واعظان او نور)



# دریم څپرکی

# معاني

معاني چې مفرده بڼه یې معنی ده په لغت کې څرګندولو ، د یو څیز پای او مقصد ته وایي او په اصطلاح کې هغه علم دی چې د حال له غوښتنې سره سم د یوې خبرې د کولو د چل ښوونه کوي. په بله وینا هغه لارې چارې او قاعدې چې (د حال غوښتنه ) پرې سنجول کېږي او پلټونکي ته د یوې خبرې د پوهېدو ځواک وربښي ، د معاني علم دی. (۱)

په جملو کې وړاندې والی او وروسته والی، د خبرې لنډول او اوږدول ، د ژبې رواني یاد کمو کلمو کارول، د ژبې د قاعدو د کارولو وخت ، د لیکوالو ، لوستونکیو ، ویونکیو او اورېدونکیو ټول کیفیات او د دوی د حالاتو مراعاتول د دې په ډول نورې خبرې موږ د معانې د علم په واسطه زده کولای شو. که چرته د پورته خبرو خیال ونه ساتل شي بیا کلام د بلاغت له درجې څخه غورځېږي، نو د دې لپاره د معاني د علم زده کړه لازمي ده.

ایجاز: ایجاز په لغت کې لنډون ته وایي او په اصطلاح کې که لیکوال یا شاعر اوږد مطلب په لږو کلمو کې ځای کړي یا په کلام کې کومه کلمه وغورځوي ایجاز ورته وایي ، په دوه ډوله دی.

الف.د قصر په ډول ایجاز: که چرته له کلام څخه کومه کلمه نه وي غورځېدلې او اوږد مطلب په لږو کلمو کې راوړي ، قصر ورته وایي، لکه (احمد ښه پښتون دی). د پښتون په کلمه کې هغه ټول تعبیر پروت دی چې د یوه مېړني انسان ځانګړنې دي. لکه: وفا ، توره ، سخاوت ، ننګ، غښتلتیا ، او داسې نور ، یا لکه:

په هنر هنر یې زړه راڅخه یوړ
راته شو یار او ریبار توتي مینا (۲)

د پورتني بیت د شرحې تر شا یوه لویه کیسه پرته ده ، وایي یو چا یوه ښارو او توتي ساتلی و ، کله چې به د مېلې ورځ شوه دا دواړه به یې په یوه پنجره

۱ -اصول علم بلاغت ، ۴۸ مخ
۲ حمید مومند کلیات ۹ مخ

www.pukhto.net

کې واچول او د لارې پر سر به يې وځړول ، کله به چې څوک تېرېده ، ښارو به پرې غږ وکړ: اى ماما ، ماما !

سړى به حيران ودرېد ، بيا به ښارو وويل:

يوه روپۍ خو را ! توتي به پرې غږ وکړ:

وريې کړه څه په ... يې منډې !

سړي به جيب ته لاس کړ ، روپۍ به يې راواخسته او د پنجرې په مخصوص ځاى کې به يې کېښوده ، ښارو به په منښو که روپۍ راواخسته او د ننه پنجره کې به يې واچوله او په دې ډول به يې سړى دوکه کړ.

حميد مومند د خپل زړه د باييللو کيسه په نوموړې کيسې قياسوي او دا واضح کوي ، چې يار او ريبار په څه چل را څخه زړه يووړ.

شيدا وايي:

شيدا څه کړې ددې وخت رشته داري
د سوزن زخم په زړه د هر انځور دى ([1])

په پورتني بيت کې کاظم خان شيدا له کورنۍ څخه د بېزارۍ ټوله کيسه په ډېر لنډ ډول بيانوي.

ښاغلي تسنيم الحق کاکا خېل په خپل کتاب (روح ادب) کې د عبدالقادر خټک د غزل يو بيت راخستى دى او بيا يې د سيد رسول رسا يو بيت په عين معنى ورسره پرتله کړى دى چې د عبدالقادر خټک په بيت کې بحر په کوزه کې بند شوى او سيد رسول رسا له هغه څخه کلمې هم ډېرې راوړي ، مګر بيا يې هم د هغه د مضمون يوه ځنډه نه ده راخيستې او د انځورګرۍ به يې در ته څه ووايم.

عبدالقادر خټک

ته به وايې په ګلابو شبنم پروت دى
چې له قهره يې خولې شي رخسارونه

---

[1] کاظم خان شيدا ديوان ١٢٠ مخ



سيد رسول رسا:

ماوې دا جوړې شبنم دى چې په سرو ګلونو پروت دى
چې مې وکوت خولې شوى ستا د ګل په شان رخسارو

## ب- د حذف (غورځون) په ډول ايجاز:

که چرته له کلام څخه يوه يا څو کلمې وغورځول شي او په معنى رسونه کې يې څه کمى محسوس نه شي د حذف په ډول ايجاز ورته وايي.

لکه: له پوهنتون څخه پوښتنه وکړه ، يعنې د پوهنتون له ريس يا بل مسوول کس څخه پوښتنه وکړه.

يا: له ټولګي څخه پوښتنه وکړه ، يعنې د ټولګي له هلکانو څخه پوښتنه وکړه په پورته جملو کې ګورو چې د (ريس او هلکانو) د کلمو په غورځېدا د کلام په معنى کې هېڅ کمى نه پېښېږي.

# اطناب

اطناب په لغت کې اوږدولو ته وايي او په اصطلاح کې د کلام داسې اوږدوالي چې د مخاطب يا لوستونکي لپاره ګټور وي د اطناب ډېر ډولونه دي چې ځينې يې لاندې راوړو.

١. له ابهام څخه وروسته څرګندونه ، لکه:

دوه سړي په باغ کې ګرځي يو ګل ګوري
دويم ګرځي په طلب د خار و خس

لومړۍ جمله (دوه سړي په باغ کې ګرځي) مبهمه ده ، چې وروسته يې څرګندونه کوي.

٢. له عام وروسته د خاص راوړل.

هر چا ته خپل وطن کشمير دى
ما ته کشمير دې د ننګرهار سپېره ډاګونه

لومړۍ مسره عامه راغلې ده ، وروستۍ جمله په (ما) او (ننګرهار) خاص شوې ده.

۳.**په خاص پسې عام راوړل**، لکه:

احمد سبق وايي، نور هلکان هم سبق وايي.

٤.**تکرار**: په کلام کې د يوې کلمې تکرار راوړل چې ښکلا ترېنه پيداشي، لکه احمد شاه بابا چې وايي:

شيرين عمر چې تېرېږي درېغه درېغه
د اوبو په څېر بهېږي درېغه درېغه
دا ياران لکه ګلونه د بهار دي
د خزان په تاو رژېږي درېغه درېغه

***

خوشال بابا وايي:

بيا د عشق سېلاب راوخوت چلې چلې
عاشقان پکې لاهو شو بلې بلې

٥.**معترضه**: د څه خاص عرض لپاره په کلام کې د يوې زياتې جملې راوړلو ته وايي. که وغورځول شي په کلام کې څه نيمګړتيا نه پېښېږي لکه:

د خپل يار، يا ددې په خير وي، په ياد ناست يم
د سپوږمۍ د نوراني مخ تماشا کړم ([1])

په پورته بيت کې (ياددې په خير وي) معترضه جمله ده که وغورځول شي په معنوي لحاظ په کلام کې څه کمی نه پېښيږي.

٦.**ايغال**: په لغت کې چالاکه تللو ته وايي او په اصطلاح کې د جملې په پای کې بله يوه جمله ورزياتول دي، چې لومړۍ جمله بې له دې هم پوره معنی څرګند وي، مګر دا جمله د تاکيد يا مبالغې په ډول راوړل کېږي لکه:

هغه ډېره ښکلې وه، لکه د څراغ يې مخ شغلې کولې.

[1] همکار



# مساوات

مساوات په لغت کې برابروالي ته وايي او په اصطلاح کې د يوه مفهوم يا مقصد لپاره په کلام کې همغومره کلمې راوړل چې اړه ورته پېښېږي، يعنې مفهوم او کلمې سره په تول کې برابرې وي.

زما زړه په دا ډاډمن دی
غم ښادي واړه تېرېږي ([1])

[1] وېې زبرمه ۱۱۵ مخ

# ثلورم څپرکی

# بديع

بديع عربي کلمه ده چې د نوي او نوي راوړونکي په معنی دی. د عربي صرف په اصطلاح د فاعلي او مفعولي نوم په معنا وو راځي يعنې هم د (نوي راوړونکي) په معنی او هم د (نوي راوړل شوي) په معنی کارول کېږي. (١)

په قرانکريم کې (بديع) د نوي راوړونکي په بڼه د لومړۍ سپارې د البقره سورت په ١١٧ ايت کې راوړل شوی:

بَدِيْعُ السَموتِ والاَرْضِ وَاِذَا قَضٰى اَمْرًا فَاِنَمَا يَقُوْلُ لَه كُنْ فَيَكُوْن.

((نوی پيدا کوونکی د اسمانونو او ځمکې دی او کله چې اراده وکړي د يو کار پس يقينا وو وايي هغه ته (وشه) پس وشي.)) (٢)

د بديع کلمې ته مولوي جانباز سرفراز په خپل اثر (القران الکريم ټکي په ټکي او روانه ترجمه) کې د (پيدا کونکی) کلمه کارولې ده. (٣)

په پښتنو شاعرانو کې کاظم شيدا نوموړي ايت ته په خپلو اشعارو کې نغوته کړې چې دلته يې رواړل ښه بولم:

ای د کل جهان صنيعه
ای دهر اسمان بديعه (٤)

د بديع د اصطلاحي معنی په اړه د بلاغت د پوهانو تعريف دادی: بديع هغې پوهې ته وايي چې پکې د هغو کلمو په اړه بحث کېږي چې د کلام د ښکلا او زينت سبب ګرځي.

١ زيور سخن ٣ مخ
٢ تفسير احسن الكلام ٣٤ مخ
٣ القران الکريم ټکي په ټکي ترجمه ٢٧ مخ
٤ کاظم شيدا ديوان دانش ٥١ مخ



## د بديع د نوم اېښودنې وجه

په دې اړه د صادقيان نظر رااخلو:

((د څېړونکيو نظر د نوموړو ښکلاو لپاره د (بديع) په نومولو يو شان نه دی. ځينې وايي دا ډول صنعتونه د عباسيانو تر وخته لږ رواج وو او له دغه دود شوي تاريخ څخه يې (بديع) يعنې د (نوي) نوم ورته غوره کړ)).

ډاکټر زرينکوب وايي:

((د بديع ډېری صنعتونه د عباسيانو له لومړيو ورځو څخه په کار وړل شوي دي، چې بشار، مسلم بن وليد، عتابي او عربانو هغه صنعتونه (بديع) و ګڼل. ددې په خاطر چې دې ځيزونو د پخوانيو شاعرانو په شعرونو کې دود نه درلود. نوي او تازه وو نو هغه يې (نوی) ونوموو. عبدالله بن معتز – شاعر او خليفه زاده- ددې علم اړوند په قران کريم او حديثونو کې بېلګې پيدا کړې))

ډاکټر شوقي ضيف د عبدالله بن معتز له قوله – چې د عباسيانو په وخت کې اوسيده – ليکي: ((بديع هغه نوم دی چې د شعر د فنونو لپاره ټاکل شوی دی. شاعرانو او اديبانو هغه ذکر کړی دی مګر هغو پوهانو چې په لرغوني شعر پوهېدل له دې نوم سره او دغه له ځرنګوالي سره اشنا نه وو او د بديع فنون يې نه و راټول کړي او له ما څخه مخکې هيچا دې کار ته اوږه نه وه ورکړې.))

له پورته ځرګند ونو څخه دا پايله لاسته راځي: مخکې تر دې چې نوموړی فن په ادب کې په نوموړي نامه دود وموميي نه و او کله چې عبد الله بن معتز يا ده ته ورته نورو ليکوالو په دې اړه څېړنه وکړه نو دا کار ورته نوی ښکاره شو او د همدې وجه په بنسټ يې بديع ونوماوه. (١)

١ زيور سخن ٤ او ٥ مخ

www.pukhto.net

## د بديع ځای د بلاغت په علم کې

بديعي ښکلاوې هغه وخت په زړه پورې ثابتېدلای شي چې کلام د بلاغت په ګانه سمبال وي يعنې خبره د اورېدونکي يا لوستونکي له حال او غوښتنې سره سمه وکړل شي ، بې له دې کاره به بديعي صنعتونه هېڅ پر ځای نه وي.

د کلام هغه خواوې چې په معاني او بيان پورې اړه لري ( ذاتي ښکلاوې) او هغه چې په بديع پورې اړه لري ( عرضي ښکلاوې ) ګڼي. ځينې علما معاني او بيان د کلام اصلي توکي ګڼي او بديع يې فرع ګڼي.

## د بديع علم ارزښت

هغه څوک چې کلام پېژندونکي دي د بديع ارزښت له هغوی پټ نه دی، ځکه نوموړي صنعتونه د کلام د معنی پر ښکلا او لطف زياتونه کوي او خبره اهنګينه او د اورېدو لپاره خوږوي. کله منثور کلام د منظوم کلام په ډول ښيي او کله معنوي پيوندونه په کلام کې راجوتوي. په دې ترتيب د ويونکي خبره ادبي کلام ته نژدې شي او د لوستونکي د لوستنې شوق راپاروي.

د بديعي ښکلاو کارونه بايد په احتياط سره وشي؛ ځينې وخت شاعر په کلام کې يوازې همدې خوا ته توجه کوي او اصل مطلب پکې غيب او يا ډېر پيکه شي نو په کار ده چې موږ له بديعي ښکلا څخه د يوې وسيلې په ډول د خبرې د په زړه پورې والي لپاره کار واخلو.

همدارنګه موږ بايد په خپل کلام کې بديعي ښکلا ته طبيعي رنګ ورکړوو چې لوستونکی داسې فکر ونه کړي ګنې شاعر په شعوري ډول نوموړي صنعتونه په خپل کلام کې راوړي دي ، چې په دې سره هم د کلام اصلي موخې ته تاوان رسېږي.



## د بديع علم تاريخچه

بديع د يو علم په حيث د عباسيانو په لومړنيو وختونو پورې تړاو لري. دا چې نوموړی علم د عربۍ په واسطه فارسي ، پښتو او نورو ژبو ته راغلی دی. نو ځکه يې اکثره ګړنې (اصطلاحګانې) هم عربي دي. د بديعي صنعتونو د راټولولو او کتابي بڼې ورکولو په اړه د ډېری څېړونکيو نظر دادی چې د لومړي ځل لپاره دا کار عبدالله بن معتز عباسي کړی دی، چې په (۲۹٦ هجري) کې په قتل رسېدلی دی. نوموړي د لومړي ځل لپاره د پخوانيو شاعرانو په کلام او همدارنګه په قران او حديثو نو کې (اوولس) ډوله صنعتونه راووېستل او دې کتاب ته يې ( البديع ) نوم کېښود.

ښاغلی صادقيان پخپله ليکنه کې د ډاکتر شوقي ضيف خبره داسې را اخلي: (( دکتور شوقي ضيف په دې اړه داسې وايي ( بديع د ادبي صنعتونو او فنونو په معنی د ابن معتز په زمانه کې [ چې د البديع کتاب مصنف دی] دود شوی دی او مخکې تر ده د عربو شاعرانو او اديبانو دا نوم نه پېژاند ، مګر په خپلو اثارو کې يې په کار وړل اما تر دغه وخت چا ځانګړی کتاب په دې اړه نه و تاليف کړی او د لومړي ځل لپاره عبدالله بن معتز عباسي په (۲۸٤ ) هـ کال په دې کار لاس پورې کړ او د ( البديع ) په نامه کتاب يې دبديع د علم په نامه تاليف کړ. څرنګه چې پخپله ابن معتز په دې اړه وايي [بديع هغه نوم دی چې د شعر د فنونو لپاره وضع شوی دی او شاعرانو او اديبانو هغه ذکر کړی دی ولې هغو پوهانو چې د پخوانيو لغتونو او شعرونو په اړه يې معلومات لرل دا نه پېژندل او د هغو له څرنګوالي څخه يې خبر نه درلود. دبديع صنعتونه يې سره نه وراجمع کړي له ما څخه مخکې په دې کار چا لاس نه و پورې کړی.] ) ))

ښاغلی صادقيان بيا په همدې اړه د (انوارالربيع ) کتاب د ليکوال نظر رااخلي: (( وَ اَوَلُ مُنْ اَخْتَرَعَهُ وَ سَمَاهُ بِهذَ التَسْمِيَه ، عبدالله بن معتز العباسي ) لومړی سړی چې بديع يې اختراع او په دې نوم ونوماوه عَبْدُالله بِن معتز عباسي و.))

www.pukhto.net

تر عبدالله بن معتز وروسته قدامه بن جعفر چې د عبدالله معاصر و په نوموړي علم کې زياتونه وکړه او شل صنعتونه يې نور ونومول چې په هغو کې اووه يې له عبد الله بن معتز سره يو شان و تر قدامه وروسته ابو هلال عسکري په نوموړي علم کې زياتونه وکړه او بديعي ښکلاوې يې (اووه دېرشو) ته رسولي دي او تر ده وروسته ابن رشيق قيرواني (پنځه شپېته) بديعي صنعتونه سره راټول کړل او شرف الدين پورتنی. شمېر (اوياو) ته ورساوه او همدارنګه شيخ زکي الدين ابي الاصبع د صنعتونو شمېر (نوي و ) ته ورساوه. ([1])

دوخت په تېرېدو نوموړي علم ډېر پرمختګ وکړ او وخت پر وخت پکې نوي صنعتونه ورزيات شوي دي ، چې اوس يې شمېر له سلګونو او ختی دی.

[1] زيور سخن ١٤ مخ



## د ادبي فنو نو په اړه په پښتو ادب کې خپاره شوي اثار

### ١- ادبي فنون:

نوموړی کتاب ښاغلي عبدالروف بينوا په پښتو ادب کې ليکلی دی، پښتو ټولنې په ١٠٦ مخونو کې پر ١٣٢٦ ل کال د چاپ په ګاڼه سمبال کړی.

په نوموړي کتاب کې پر معاني ، بيان ، بديع ، قافيه ، عروض او مشترکو نظمو بحث شوی دی، دا په پښتو ژبه کې لومړنی کتاب دی چې پر ادبي فنونو ليکل شوی دی.

د نوموړي کتاب د منځپانګې د برابرولو پر وخت بينوا خپل نظر داسې وړاندې کوي:

((د ١٣٢٣ ل کال په منځ کې د معارف وزارت له خوا د ادبياتو فاکولته تاسيس شوه، د نورو ښوونکيو په ډله کې زه هم ددې فاکولتې په معلمۍ سرلوړی شوم او وګمارل شوم چې د (ادبي فنونو) درس ورکړم، دا کار په سرسري نظر اسانه ښکارېږي او ماته هم ډېر ګران نه شو ښکاره ځکه چې په دې فنونو کې ډېر عربي او پارسي اثار ليکل شوي وو او له ښه مرغه زما مطالعه هم پکې جاري وه، مګر کوم وخت چې مې په کار ګوتې پورې کړې له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوم ، دا ځکه چې ما په پښتو درس ورکاوه او ادبي فنون مې بايد له پښتو سره تطبيق کړای وای او يامې د پښتو مخصوص فنون راڅرګند کړي او را ايستلي وای. په دې باب کې چې يوه رساله هم نه ده ليکلې شوې او نه يې مثالونه له ادبياتو څخه راوتلي او ټاکل شوي دي، ځکه نو ددې فنونو تطبيق ډېر وخت او زيار غوښت.... څو دادی په ډېر خلص ډول په دې مقصد کامياب شوم... البته نور يوه زلميان بهٔ يې لا ښه پسې پوره کړي....))

### ٢-روح ادب:

دا کتاب په کوزه پښتونخوا کې ښاغلي سيد تسنيم الحق کاکا خېل ليکلی دی، نوموړی کتاب د پښتو اکيډمي پېښور يونيورستۍ له خوا په (١٤١) مخونو کې پر ١٩٥٧ ء چې له ١٣٣٥ ل کال سره سمون خوري په ادبي فنونو کې چاپ شو ، نوموړی کتاب په خپله منځپانګه کې د معاني علم ، بيان او بديع لري چې د خپل وخت ګټور کتاب دی.

www.pukhto.net

ښاغلی تسنیم الحق کاکاخېل لیکي:

((ما د تحقیق په یوه داسې نا اشنا صحرا کې قدم ایښی دی چې له مانه مخکې ورته د بل چا مخه شوې نه ده، نه ورکې چرته د پلونو نښې شته چې زه یې د ځان لپاره رهنما کړم... زه یم او یو بې سره رېګستان... زما دا جرائت مندانه اقدام [به] د یو لوی عالم او پوهه ادیب دې طرف ته مخه کړي.... )

د ښاغلي عبدالرؤف بېنوا اثر اووه کاله مخکې تر دې اثر لیکل شوی دی، کیدای شي د بېنوا اثر ښاغلي کاکا خېل ته تر دې دمه نه وي رسېدلای، چې هغه وایي تر ما د مخه په پښتو ادب کې چا په دې اړه پل نه دی ایښی.

ما چې د دواړو ښاغلیو اثار سره پرتله کړه تر ډېره ځایه په لومړیو عنوانونو کې سره یو شان دي زه فکر کوم چې دواړو د عربي ادب له یوه کتاب څخه د نوموړي اثر د لیکلو پرو خت ګټه پورته کړې وي.

### ۳- د پښتو عروض:

نوموړی کتاب د میا شرف دی چې په پښتو شاعرۍ کې یې د عربي عروضو د تطبیق کوښښ پکې کړی دی. د کتاب له منځپانګې څخه دا جوتېږي چې د عروضو د بحرونو د تطبیق لپاره یې په پښتو شاعرۍ کې کومه بېلګه په لاس نه ده ورغلې نو لیکوال مجبور شوی چې د هر بحر لپاره پخپله یو بیت جوړ کړي. د میا شرف د ژوند زمانه د ښاغلي پوهاند رښتین په څېړنه ۱۲۵۰ ل خوا او شا ټاکل شوې ده. کتاب د رښتین په زیار د پښتو ټولنې له خوا په (۷۲) مخونو کې چې (۳۸) مخه یې د کتاب اصل متن دی او (۳٤) مخه یې د رښتین پلټنه او سپړنه ده پر ۱۳٤٤ ل کال چاپ شوی دی.

### ٤- پښتو ادب:

دا کتاب ښاغلي عبدالحلیم اثر سالارزي په خپل همت لیکلی او په ۱۳۷۰ هـ کال اداره اشاعت سرحد خپور کړی دی. نوموړی کتاب (۳٦۲) مخونه لري چې منځپانګه یې له (توري یا حرفونه، د شعر فن او د قافیې له علم) څخه بحث کوي.



نوموړی کتاب د شعر عروضي او ولسي دواړه جولې(فورمونه) شرح کوي.

### ٥- د ادب مناره:

نوموړی کتاب سمندر د بدرښو په پښتو ادب کې د تشبیه او استعارې په اړه لیکلی، دا کتاب په (۱۳٤) مخونو کې د یو نیورسټي بک ایجنسي له خوا پر ۱۳۷۸ هـ چې له ۱۹۵۸ م کال سره برابر دی د چاپ په ګاڼه ښکلی شوی دی، ښاغلی سمندر د عروضو کوم کتاب هم پښتو ژبې ته ژباړلی چې زما په لاس کې نشته پخپله سمندر لیکي:

((ماچې د عروض علم ژور سمندر په پښتو کې ترجمه کړو او د وخت ادیبانو او شاعرانو یې مخالفت وکړو، نو له ځان سره مې اوویې چې دا پښتو یوازې زما د مور ژبه ده! بس په قلاره کښېناستم.))

ښاغلي سمندر د (قافیه) په نامه هم په ادبي فنونو کې کتاب لیکلای که زما تر ګوتو راغی نو یو څه به پرې ولیکم.

### ٦- بدیع او بیان:

دا کتاب ښاغلي پوهندوی نور احمد شاکر په ۱۳۵۵ ل کال د لسم او یوولسم ټولګیو لپاره لیکلی چې د پوهنې وزارت له خوا په چاپ رسېدلی دی، په نوموړي کتاب کې د بدیع څه ادبي صنعتونه او د بیان په برخه کې په تشبیه، مجاز او کنایې یو څۀ مطالب لري.

### ۷- لیتکی:

نوموړی کتاب د ښاغلي همایو صیاد په مښود لیکل شوی چې منځپانګه یې قافیې ته ځانګړې شوې. په (۱٤٤) مخونو کې پر ۱۹۹۲ م کال د اخلاص پښتو ادبي ټولنې له خوا خپور شوی دی.

### ۸- بدیع او د پښتو شعر:

www.pukhto.net

دا کتاب ښاغلي اورنګزېب ارشاد لیکلی چې دانش خپرندویه ټولنې پر ۱۳۶۹ ل کال په (۱۲۳) مخو کې چاپ کړی د کتاب منځپانګه یوازې د بدیع فن ته ځانګړې شوې او د ولسي او عروضي نظمونو شرحه هم پکې شوې ده.

## ۹- زرکانی:

دا کتاب مشتاق مجروح یوسفزي لیکلی منځپانګه یې بیان، بدیع او ادبي صنعتونه موږ ته راپه ګوته کوي، نوموړی کتاب تاج کتب خانې په (۲۲۸) مخونو کې پر ۱۹۹۸ کال خپور کړی دی.

## ۱۰- قافیې فن:

دا کتاب پوهنیار محمد ابراهیم همکار لیکلی. د کتاب منځپانګه قافیې او د عروضي نظمونو فورمونو ته ځانګړې شوې ده. د لومړي ځل لپاره د انش خپرندویه ټولې په ۱۳۷۸ ل کال په (۶۸) مخونو کې چاپ کړی ،په دویم ځل احسان خپرندویه ټولنې پر ۱۳۸۱ ل کال خپور کړی دی او درېیم ځل دانش خپرندویه ټولنې پر۱۳۸۷ل خپور کړیدی.

## ۱۱- خوږه ژبه:

نوموړی کتاب ښاغلي مولوي عبدالرحیم مسلم دوست لیکلی چې پکې له (پښتو معاني، بیان ، بدیع او د شعر ډولونه ) څخه بحث شوی دی یا د شوی کتاب د سبا کتابتون له خوا پر ۱۲۷۹ ل کال په (۳۳۹) مخونو کې چاپ شوی دی.

## ۱۲- ادبي ارمغان:

دا کتاب ښاغلي حاجي فضل محمد پنهان لیکلی د کتاب ټول مخونه (۱۷۴) دي، منځپانګه یې له بدیع ، بیان (تشبیه ، مجاز ، او کنایه ) قافیه ، شعر د شاعرانو پر نظر کې ، عروضي نظمونه او ولسي نظمونه تشکیلوي، د کتاب خپرندوی ( هېواد کولتوري ټولنه ) ده، چې پر ۱۳۸۳ ل کال یې چاپ کړی دی.

## ۱۳- ادبي فنون:



د ښاغلي پوهنمل محمد اقا شېرزاد تالیف دی چې منځپانګه یې بدیع او بیان شرحه کوي پر ۱۳۸۴ کال په ۱۶۴ مخونو کې چاپ شوی دی.

## ۱۴- د بهايي جان په اشعارو کې د بدیع او بیان پلوشې:

نوموړی کتاب ښاغلی سرمحقق علي محمد منګل لیکلی ټول مخونه یې ۲۳۶ دي، پر ۱۳۸۴ ل کال نعماني مطبعې چاپ کړی دی.

## ۱۵- د اشعارو ډولونه:

د ښاغلي پوهاند صدیق الله رښتین اثر دی چې (۱۲۱) مخونه لري، د تاج محل کمپنۍ له خوا چاپ شوی خو د چاپ نېټه یې نه ده څرګنده ، په نوموړي کتاب کې ولسي او عروضي نظمونه شرحه شوي ، همدارنګه د قافیې په هکله یو څه لري.

۱۶- پښتو شعر هندسي جوړښت:

نوموړی کتاب ښاغلي پوهنمل محمد اسماعیل یون په (۱۴۱) مخونو کې لیکلی دی ، منځپانګه یې د غربي ، عروضي او ولسي نظمونو فورمونه او پېژندنه راښیي چې کابل پوهنتون پښتو څانګې پر ۱۳۷۷ ل کال خپور کړی.

www.pukhto.net

# پنځم څپركى

## لفظي ښكلاوې (صنعتونه)

كه چرته د كلام ښكلا په كلمو او تركيبو نو پورې اړه ولري لفظي صنعتونه (ښكلاوې) يې بولي چې دلته يې په خپل وار راوړو.

## سجع

سجع په لغت موزون اواز ته وايي چې بيا وروسته د كوترې او كومرۍ موزون اواز ته وويلشول او د ادبي فنونو په اصطلاح په نثر كې د جملو يا فقرو د پاى هم اهنګي ده. په درې ډوله ده:

۱.متوازي سجع: چې د سجعې كلمې د غږونو په شمېر ، وزن او روي كې سره برابرې وي ، لكه:

خپله ژبه هم كلا ده هم بلا

په پورته متل كې د (كلا) او (بلا) په كلمو كې متوازي سجع راغلې ده.

ګورو چې كلا هم درې توري (ك-ل-ا) لري او (بلا) هم له درې تورو (ب-ل-ا) څخه جوړه شوې ده. همدارنګه په دواړو كلمو كې (ل) روي دى او (الف) متصل غږ دى چې (وصل) يې بولي.

**۲.متوازنه سجع:** كه د سجعې كلمې د تورو په شمېر او وزن كې يو شان او د روي په غږ كې سره توپير ولري، متوازنه سجع يې بولي،

لكه:

ښه نوم دې د ځان ، بد نوم دې د قام

يا

يو ځان شرموي، بل قام شرموي



په پورته متلونو كې د سجع كلمې (ځان) او (قام) دي. ګورو چې د تورو شمېر يې يو شان دى مګر دروي په تورو (ن-م) كې يې اختلاف دى نو ځكه يې متوازنه سجع بولي.

يا لكه: جنګ سوړ شو ، ميرى تود شو

**۳.مطرفه سجع:** كه د سجع كلمې د روي په تورو كې سره يو او په وزن او شمېر كې يې توپير درلود ، مطرفه سجع يې بولي.

لكه:

هله به خبر شې ، چې تالو ژبې له ورشي

سجع د (خبر) او (ور) په كلمو كې راغلې ده. ګورو چې د (خبر) د كلمې د تورو شمېر (درې) او د (ور) د تورو شمېر (دوه) دى.

(ر) په دواړو كلمو كې روي دى.

يا لكه:

ژرنده كه د پلار ده هم په وار ده

دنيا سپمولې ، ســـپو خوړلې

www.pukhto.net

# قلب

په لغت کې سرچپه (نسکور) ته وايي او په اصطلاح که چرته شاعر په خپل کلام کې دوه یا ډېرې داسې کلمې راوړي ، چې توري یې په بڼه او شمېر کې سره یو او په ترتیب کې سره او ښتي وي، قلب بلل کېږي. په څلور ډوله دی:

۱.قلب بعض: که په مقلبو کلمو کې ځینې توري په ترتیب کې سره اوښتي وي، قلب بعض ورته وایي ، لکه:

رنګ په رنګ ګلان پیدا شي غرو رغو کې
په کې یو نیم د لیلا پیـــــکي ته ورشي (۱)

په پورته بیت کې د (غرو - رغو ) په کلمو کې د قلب بعض ادبي صنعت واقع شوی دی.د (غرو ) د کلمې دویم توری (ر) تر غین مخکې شوی چې (غرو ) کلمه په (رغو ) بدله شوې ده .

فضیلت د انسان عـــــلم او عمل دی
که په سر یې پټکی شال او که ململ دی (۲)

په پورته بیت کې د (علم – عمل ) په کلمو کې قلب بعض ادبي صنعت راغلی دی.

د زور او زرو غلامان ډېر دي
دلته د زرو صـــاحبان نشته (۳)

په پورته بیت کې د (زرو او زور ) په کلمه کې قلب بعض پروت دی.

هغه کله مسلمان دی چې خر کېږي د دجال
وظیفه د مسلمان ده لـــه دجال سره جدال (۴)

په پورته بیت کې د (دجال او جدال ) په کلمو کې قلب بعض ادبي صنعت پروت دی.

---

۱ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۲ همدا اثر
۳ همدا اثر
۴ همدا اثر



نه په زور په لاس کښېوځي نه په زر
خدای دې ځوک نه کا مـین په زورورو (۱)

۲.قلب کل: که چرته په یوه بیت یا نیم بیتي کې مقلوبې کلمې یو له بل سره پوره اوښتې وي ، قلب کل یې بولي. لکه:

ددوران لـــــه انقلابه لا بقا شي
اعتبار به دانا څه په دا اقبال کا (۲)

زلفې په مخ کړه خم په خم کښېنه وماته مخ په مخ
کښېنه و ماته مخ په مخ زلفې په مخ کړه خم په خم (۳)

په پورته بیت کې د (مخ ) او (خم ) په کلمو کې قلب کل ادبي صنعت پروت دی.

یا:

وران وکړي ګوره په څو کلپ کارونه کاندي
واړه اقبال غواړي ولې لابقا اقبــــال دی (۴)

په پورته بیت کې د (لابقا او اقبال) په کلمو کې قلب کل ادبي صنعت راغلی دی.

۳. مستوي قلب: که په یوه بیت کې مقلوب تر کیبونه یا کلمې له دواړو خواوو څخه په یو شان ولوستل شي ، قلب مستوي یې بولي، لکه:

که یې سر په لـــــــکی اړوې هغه دی
په هېڅ رنګ به نور څه نشي سګ مګس (۵)

---

۱ عبدالقادر خټک دیوان کابل ۱۳۷ مخ
۲ د خوشحال کلیات لومړی ټوک کابل ۸۹ مخ
۳ همدا اثر ۱۱۰ مخ
۴ خوشحال کلیات دانش ۲۴۵ مخ
۵ د خوشحال خان کلیات لومړی ټوک کابل ۸۹ مخ

www.pukhto.net

په پورته بیت کې د (سګ مګس) په کلمه کې قلب مستوي ادبي صنعت پروت دی، چې له دواړو خواوو څخه یو شان او په یوه معنی لوستل کېږي.

امبارو کې یې ځـــــای نشته د غلو
څه به وایم د قصرونو د بـــــــاغو
چې قاچاق یې د لاجوردو غرونه تش کړه
لا بانــــــــکونه نه دي ډک په ډالرو [1]

په پورتنۍ څلوریزه کې د (قاچاق) په کلمه کې قلب مستوي ادبي صنعت پروت دی، چې له مخې او شا څخه په یوه معنی لوستل کېږي.

آه مې دود غوندې له سوزه د زړه خېژي
چې را یاد شي خط و خال د خپل حبیب [2]

په پورته بیت کې د (دود) په کلمه کې قلب مستوي ادبي صنعت پروت دی.
یا:

سګ مګس خو سګ مګس دی نور به نشي
که هر څو یې اړوې کـــــاواک کاواک دی
په دا شان مرد درم مــــــــــرد درم شي
که یې وګورې په دارنګې بیا کـــــاک دی [3]

په پورته دوه بیتونو کې د (سګ مګس، کاواک، مرد درم او کاک) په کلمو کې قلب مستوي ادبي صنعت پروت دی.

٤. **مجنح قلب:** که چرته مقلوبه کلمه د یوه بیت د صدر په پیل او بله د عجز په پای کې راغلې وي، مجنح قلب یې بولي.
لکه:

مال میم د خولګۍ را او جیم د زلفو
یم لو بــــــــدلی په بلا کې لکه لام

[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[2] پیر محمد کاکړ دیوان ٤٤ مخ
[3] خوشحال خان خټک کلیات دانش ٣٤٨ مخ



په پورته بیت کې د (مال او لام) په کلمه کې مجنح قلب ادبي صنعت پروت دی.

لب خشکي مې ارزو ستا د شراب خوري
په نمک ســــــــتا پرورده لرم کباب بل

په پورته بیت کې د (لب او بل) په کلمو کې مجنح قلب پروت دی.

# ترصیع

ترصیع په لغت کې په ګوهرو د یو څیز ښکلې کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح که یو شاعر د خپل نظم یو نیم بیتی په څو برخو وویشي او په بل نیم بیتي کې د هرې برخې پر وړاندې داسې کلمې راوړي چې په روي او وزن کې په ترتیب سره د لومړني نیم بیتي له برخو سره یو شان وي ، ترصیع بلل کېږي.

لکه:

دلبران یې   خادمان   خرقه   بدوش   شول
سروران یې   غلامان   حلقه   بګوش   شول([1])

لومړی نیم بیتی په ( دلبران ، خادمان ، خرقه او بدوش ) وېشل شوی دی ، چې په ترتیب سره د هرې کلمې په مقابل کې (سروران ، غلامان ، حلقه اوبګوش) کلمې راغلې دي ، چې په روي او وزن کې سره یو شان دي.

څوک   چې   دنیا   غواړي   هغه   رنځور   دی
څوک   چې   عقبا   غواړي   هغه   مزدور   دی ([2])

## متجانسه ترصیع

چې په مرصع کلمو کې یې تجنیس هم راغلی وي متجانسه ترصیع ورته وایي ، لکه:

جنګ   په   وسله
ننګ   په   غله ([3])

د پورته اصطلاح د ( جنګ او ننګ ) په کلمو کې مطرف تجنیس راغلی دی.

[1] لکچرنوټ
[2] دیوان خوشحال خټک دویمه حصه ، پردل ، ۱٦۱ مخ
[3] لکچر نوټ



# کیسۍ یا لغز

که چرته د یو څیز ځانګړنې او صفتونه ذکر شي او بیا له مخاطب څخه د څیز د پېژندلو غوښتنه وشي. کیسۍ ورته وایي.

لکه:

ما داسې شی لیدلی چې یارانو که د زړه که
خام خوري پاخه ترې غواړه عالمونه به ماړه که ([1])

***

ما داسې شی لیدلی سر یې دی د بنیادم
او منځ یې د غوایي دی وبه کړې د م او قدم
په کونه او بۀ څښي په دې خبر دی ټول عالم
رقیب که ځواب غواړي پوزه یې غوڅه په چاړه که ([2])

***

ما داسې شی لیدلی په هوا جوړ شوی ښار
مخ ښکته رالوېږي پوه یې نه یم په اسرار
سرو د په کې غږېږي عجب ګرم یې بازار
مخلوق یې دی بې ابه ایله نه په غټ واړه که ([3])

***

ما داسې شی لیدلی لس یې پښې او دوه یې لاسه
اودرې لرې سرونه درته وایم له اخلاصه
په یوه ژبه ګړېږي دوی بې قاله بې قیاسه
په شپږو سترګو ګوري او په درېو خولو خواړه که ([4])

یا

[1] تنور
[2] غنم
[3] د مچیو ځاله
[4] قلبه ،رشید ګل ، د چپلیار لیکوال او شاعر، ۲۳ مخ

www.pukhto.net

نه يـــې پښې شــــته نه لاسونه
يکـــامان وهــي ټــــو پـــونه

([illegible])

په غــــــــره خـتلې کږه وږه ده
مېوه يې چې خورې ډېره خوږه ده

([illegible])



# تضمين

که چرته شاعر د سند او مثال په توګه يا د خپل مطلب د تقويې لپاره د تام ارتباط په صورت کې د بل چا د نظم يوه ټوټه (نيم بيتی بيت يا څو بيته) په خپل نظم کې راوړي تضمين بلل کېږي ، تضمين شوې ټوټه بايد په قوسينو (غبرګو ليندکيو) کې ونيول شي. که چرته يې په لندکيو کې ونه نيسي د غلا ببلګه بلل کېږي.

تضمين په خپل منځ کې په څو ډولو وېشل شوی، چې لاندې راوړل کېږي:

## ۱. د تضمين شوې ټوټې د اندازې له مخې:

الف- ا يداع يا رفو : ايداع[۱] يا رفو [۲] په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې. شاعر خپل کلام د بل شاعر په يو نيم بيتي تضمين کړي.
لکه:

په حرامو ناروا سړي ته ورشي
«څه لولي. او بې حيا ده دادنيا» [۳]

په پورته بيت کې لومړی نيم بيتی د علامه ګل پاچا الفت دی چې د حميد مومند په نيم بيتي يې تضمين کړی دی.
د حميد مومند بيت دادی:

د يوه غېږ کې پرته او بل ته خاندې
څــه لــولي. او بې حـيا ده دا دنيا [٤]

۱ سپا رل
۲ پېوندول
۳ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
٤ عبدالحميد مومند کليات دانش ۳ مخ

((دا په مخ يې د خط ليکه د وتا راغله ))
که کــــعبې لره مشـــکــــينه قبا راغله (١)

لومړی نيم بيتي د حميد مومند دی ، چې بيدل د تضمين په ډول راوړی دی.

دربغه هغه هيبتناک پښتانه څه شول
((چې عالم يې و بـــــرېده له خر خشو )) (٢)

لومړی مسره د شمس الدين کاکړ ده ، چې د حميد مومند په نيم بيتي يې تضمين کړې ده. د حميد مومند بيت دادی:

د فلک په خر خښو و نښـــــته لاړه
چې جهان يې وبرېده له خر خشو (٣)

د حميد مومند بيت:

چې په مخ دې د خط ليکه د وتاراغله
ګويا مخ لــــــــره دې توره بلا راغله (٤)

١ ديوان بېدل ١٨٨ مخ
٢ دشمس الدين کاکړ ديوان دويم چاپ ١٦١ مخ
٣ عبدالحميد مومند کليات دانش ١٧٦ مخ
٤ د عبدالحميد مومند کليات ٢٤٢ مخ



يا :

((کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي ))
هر يو بڼ چې تربيه شي مېوه دار شي (١)

لومړی بيت د عبدالرحمن بابا چې قاضي صديق الله صادق د تضمين په ډول راوړی. د رحمن بابا بيت:

کـــر د ګــــلو کړه چې سيمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره چې پښو کې به دې خار شي (٢)

يا:

((کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګلزار شـــــي))
ګل ته وخانده چې ژوند دې نو بهار شي (٣)

يا :

((که په ګنج د شاهۍ فخر شهر يا کا))
فقيران له هسې فخره ننګ وعار کا

په پورته بيت کې لومړی نيم بيتی د عبدالرحمن بابا د ی ،چې علامه ګل پاچا الفت خپل کلام پرې تضمين کړی دی.

اصل بيت يې دادی

که په ګنج د شاهۍ فخر شهر يار کا
عاشقان يې د دلبرو په رخـــــسار کا (٤)

١ د اسلام فرهنګ ، ٢٥١ مخ
٢ د رحمان بابا کليات دانش ٣٥٩ مخ
٣ راز ١٤٧ مخ
٤ دېوان عبدالرحمن بابا ، ١١٦ مخ

www.pukhto.net

**ب- استعانه:** په لغت کې په پور اخستلو ته وايي او په ادبي اصطلاح که شاعر د خپل کلام د تضمین لپاره د بل شاعر یو یا څو بیته په خپل کلام کې راوړي ، استعانه ورته وايي ، لکه:

همدان مخلص دولته
ددې درو په سوفتن دې
«چې تر سر او ماله تېر شي
د عشق لاف کا دروغجن دی»

پورته لومړی بیت د دولت لواني دی ، چې د علي محمد مخلص په بیت یې تضمین کړی دی.
یا :

شوه عجیبه زمانه د تماشو
چې یې ښې خانوادې کړې شو په شو
«چې د وسپنې نینې یې پرې چیچلې
خدایزده پخ یې کړل غاښونه کوم تروشو» (١)

په پورته بیتونو کې لومړی بیت د شمس الدین کاکړ دی ، چې د حمید مومند په یوه بیت یې تضمین کړی دی.
د حمید مومند بیت دادی:

چې د اوسپنې چنې شوې پرې چیچلې
خدایزده پخ کړل هغه غاښ کومو تروشو (٢)

په لاندې نظم کې د غنا او فقر ترمنځ سوال او ځواب شوی دی ، لومړی غنا ځان ستایي ، چې بیا یې فقر په خپلو څرګندونو پړ کوي:

١ د شمس الدین کاکړ دیوان ناصر ١٠٠ مخ
٢ عبدالحمید مومند کلیات دانش ١٧٦ مخ



غنا:

راسره شته دی ډېر نعمتونه — له ما پیدا دي واړه عیشونه
ښایسته زېور یم زه د خوبانو — تاج او افسر یم د بادشاهانو
غنا په فقر حکومت کاندي — بدایان لوړوي په نورو باندې
راسره شته دی ډېر عزتونه — په ما سمبړي واړه کارونه
په خزانو مې فخر شاهان کا
جګړې جنګونه په ما انسان کا

فقر:

که په ګنج د شاهۍ فخر شهریار کا — فقیران له هسې فخر ننګ و عار کا
دنیاګۍ ورته حقیره معلومېږي — عارف ځکه له دنیا نه ځان کنار کا
فقر هر وخت غلبه په غنا مومي — فرعونان او قارونان دغه اقرار کا
چې انسان په غنا مست او بې خبر شي — هغه فقر دی چې بېرته یې په لار کا
«خرقه پو شو په خرقه کې دی موندلی
هغه خط چې په دنیا کې دینار کا» (١)

علامه ګل پاچا الفت خپل نظم د عبدالرحمن بابا په یوه بیت تضمین کړی دی.

## ٢.د صراحت او ابهام له مخې د تضمین وېش:

**الف.-مصرح تضمین:** که چرته په تضمین شوې ټوټه کې د شاعر نوم، تخلص یا بله اشاره راغلې وي ، مصرح تضمین ورته وايي.
لکه:

د حنان سینه نو خطو تور سکاره کړه
«که سینه شوه د حمید د کان د مشکو»

پورته لومړی نیم بیتی د حنان دی ، د حمید مومند په نیم بیتي یې تضمین کړی چې د شاعر نوم په کې څرګند راغلی دی.

١ د الفت ملغلرې ٩٧ مخ

www.pukhto.net

د حميد مومند بيت دادی:

د اشرف د عاشــقۍ نه دی نو څه دی
چې سينه شوه د حميد دکان د مــښــکو (۱)

يا :

په لاندې تضمين کــې شاعر ته اشاره ده:

چې مې زړه د عـــــاشقۍ په طريقت لاړ
هـــغه د م ځــني ارام و فـــــراغت لاړ
شيرين خوب به څه ويسا رابانديې کاندي
چې په سترګـــو مې اغزی د مصيبت لاړ
دا هغه قـــسم غزل دی چې (صاحب) وې
«له خــــاطره مې ارام او جــميعت لاړ» (۲)

لومړی نيم بيتي د علي خان دي ، چې د (صاحب زاده محمد ي) په يوه نيم بيتي يې تضمين کړي دي، (صاحب زاده محمدي) د علي خان (پير) و.

يا:

مخ لکه افــتاب و خـــــپل مين ته ځــلوه
زړونه د غـــماز و لــــــکه موم پرې ويلوه
دا غـــزل ځواب دې (خان ) دهغه غزل کېږي
«خدای (ج) له خپله يار نه هېڅ يار مه بېــلوه » (۳)

لــومړني دري نــيم بيتــي د عبــد القادر خټک دي چې د خوشـحال خان خټک پـه يو نـيم بيتي يې تضمين کړي دي او د (خان) اشاره ، خوشـحال خان خټک ته شوې ده اصل بيت يې دادی.

زه د بېلتانه په حال خبر نه وم ، خبر شوم
خدای له خپله يار نه هېڅ يار مـــه بېلوه (۴)

۱ عبدالحميد مومند کليات ، ۱۸۰
۲ ديوان علي خان پښتو اکيډمي پېښور ۷۵ مخ
۳ د عبدالقادر خان خټک ديوان ، ۱۳٤ مخ
٤ د خوشحال خان خټک کليات ، لومړی ټوک ۲۹۳ مخ



**ب. مـبـهم تـضـمين:** کـه چرتـه يو شـاعر د بـل شـاعر بيت يـا نـيم بيتـی د تضمين په ډول په خپل کلام کې راوړي او د نوموړي شاعر پـه اړه هېڅ اشاره نـه وي شوې مبهم تضمين ورته وايي:

لکه:

«تر ورخ تېرې او به بېرته نه جار وځي»
نه مرده د چا ورغلی دی خپل کور ته

لـومړی نـيم بيتـي د عبـد الرحمن بابـا دی چې مهـين د تـضمين پـه ډول راوړی دی او هېڅ اشاره ورته نه ده شوې.

د عبد الرحمن بابا بيت:

تر ورخ تېرې او به بيرته نه جاروځي
نه جاروځي تېر ساعت په بيرته بيا (۱)

يا:

عاشقان دې د سرو سترګو کشتګان دي
«په زيارت د شهيدانو ګـــذر بويه » (۲)

لومړی نيم بيتـی د يونس موسی خېل دی ، چې دعبد الرحمن بابا پـه نيم بيتي يې تضمين کړی.

د عبد الرحمن بابا بيت:

په حالت د عاشقانو نظر بــويه
په زيارت د شهيدانو ګذر بويه (۳)

يا :

«بې زحمته چا راحت موندلی نه دی»
د مچۍ په دود له زياره خوره رطب

لومړی نيم بيتـی د عبد الرحمن بابا دی ، چې احمد شاه بابا د تضمين په ډول اوړی دی.

۱ د رحمان بابا کليات قلندر مومند ۵ مخ
۲ د يونس خان ديوان ۲۲۷ مخ
۳ د رحمان بابا کليات ۲۳۳ مخ

www.pukhto.net

## ۳.د تصرف او نه تصرف له پلوه د تضمین وېش:

الف: له تصرفه سره تضمین: که چرته شاعر په تضمین شو ې توټه کې لاسوهنه کړې وي او یو څه بدلون یې پکې راوستی و. له تصرف سره تضمین یې بولي. لکه:

((نه به مخ په آیینه برابر بیا کړم ))
نه به تور اوربل په ږمنځ سره صفا کړم ( [1] )

پورتنی بیت د عبدالقادر خټک دی، چې لومړی نیم بیتی یې د خوشحال خان په کلیاتو کې دهغه د مشرې ښځې له خواد ویل شوې غزل په پیل کې په لږ بدلون سره راغلی دی.

اصل بیت:

نور به مخ په آیینه برابر نه کړم
نه به دواړه سترګې توري په رانجه کړم ( [2] )

علامه ګل پاچا الفت د خپل کلام په یوه نظم کې د بېټ نیکه یوه مسره په لږ تصرف راوړې ده.

(( یوې خواته غرولاړ و د رناوی کې))
بلې خواته سیند روان و په مستی کې ( [3] )

د بېټ نیکه بیت:

| | |
|---|---|
| لویه خدایه لویه خدایه | ستا په مینه په هر ځایه |
| ((غرولاړ دی درناوی کې)) | تول ژوي په زاری کې ( [4] ) |

---

[1] عبدالقادر خټک دیوان ، کابل ۹٦ مخ
[2] خوشحال کلیات دانش ۹۳ مخ
[3] د الفت ملغلرې ۱۱۲ مخ
[4] پښتو ادب تاریخ



د عبدالقادر خټک یو نیم بیتی فضل ولي ناګار په یو څه تصرف سره د تضمین په بڼه راوړی دی.

((هر سحر سترګې د ګل په اوښکو سرې وي))
پاڼې پاڼې په خزان خورې ورې وي ( [1] )

د عبدالقادر خټک بیت:

هر سحر سترګې د ګل په وښکیو پُروي
په دا باغ کې بې ژړلو خندا نشته ( [2] )

عبدالله خدمتګار بختاني د رحمان بابا یو نیم بیتی په لږ تصرف سره راخیستی دی:

دا مې زده کړه د سروګلو له سرو پاڼو
(( چې اغزي کري په پښو کې به یې خار شي )) ( [3] )

د رحمان بابا بیت:

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي ( [4] )

پیر محمد کاکړ د خوشحال خان خټک یو نیم بیتی په لږ بدلون د تضمین په بڼه راوړی دی.

(( که زه نه وای عشق به تا لره بلبل څوک ))
پر بل اوربه دې د حسن کړول څوک ( [5] )

د خوشحال خان خټک بیت:

که زه نه وای تا به ځان لره بلبل څوک
په پالنګ به دې دا هسې در ختل څوک ( [6] )

---

[1] الفت مجله ٥۲ مخ
[2] د عبدالقادر خټک دیوان پښتو اکیډیمي پېښور ١٤٦ مخ
[3] راز ١٤٧ مخ
[4] د رحمان بابا دیوان ، کابل ۲۲۸ مخ
[5] پیر محمد کاکړ دیوان بېنوا ۹۰ مخ
[6] د خوشحال خټک کلیات لومړی ټوک کابل ١٠٤ مخ

www.pukhto.net

ب. بې تصرفه تضمین: که چرته شاعر په تضمین شوې ټوټه کې لاسوهنه نه وي کړي او په خپل حال يې راخستې وي ، بې تصرفه تضمین يې بولي ، لکه:

((دمخ خيال مې دې له زړه نه تلونی نه دی ))
څو مې سر په قبر لګي ناز پروره ([1])

لومړی نيم بيتی دحميد مومند دی چې بېدل د تضمين په بڼه کارولی دی.

عبدالقادر خټک د خوشحال يو نيم ټيتي بې له تصرفه تضمين کړی دی !

(( په هر څه کې ننداره د هغه مخ کړم ))
ځکه نور عالم غمونه کا زه سخ کړم ([2])

د خوشحال خان خټک بيت دی.

په هـر څه کې ننداره دهغه مخ کړم
چې لـه ډېرې پيدايي نا پديد شو ([3])

## اعنات (التزام ما لا يلزم)

اعنات په لغت کې ځان په تکليف کې اچولو ته وايي او دادبي فنونو په اصطلاح له هغه ادبي صنعت څخه عبارت دی چې شاعر يا نا نظم يو نا لازم شی په ځان لازم وګرځوي يا شاعر يوه قافيه يا بله کومه کلمه په ځان لازم وګرځوي، چې اړه ورته نه وي. اعنات په څو ډوله پېښېږي چې ځينې يې دلته راوړو:

**الف** - د اعنات هغه ډول چې د قافيې په کلمه کې يې د ځينو توروراوړل لازمي کړي وي ، لکه:

نن مې ګډه په صورت بيـا زلزله ده
راپسې د مفـسدانو غلغله ده
ماوې نن خو به مې پرېږدي په قراره
پرون ټوله ورځ مې کړې ولوله ده

[1] ديوان بېدل ، ۹۲ مخ
[2] عبدالقادر خټک ديوان کابل ۹۸ مخ
[3] د خوشحال کليات لومړی ټوک ، کابل ۱۸۵ مخ



دا در نه دي چې پر مخ زما ځلېږي
دا زما د سپينو اوښکو سلسله ده

د پورته نظم د قافيې په کلمو کې شاعر له(لام ) څخه مخکې د يوه توري راوړل په ځان لازمي کړي ، چې بې له دې کاره هم په قافيه کې څه نيمګړتيا نه پېښېده.

| | | |
|---|---|---|
| زلزله | ← | له لام څخه مخکې (ز) بيا (ل) بيا (ز) |
| غلغله | ← | له لام څخه مخکې (غ)بيا(ل) بيا (غ) |
| ولوله | ← | له لام څخه مخکې (و) بيا (ل) بيا (و) |
| سلسه | ← | له لام څخه مخکې (س)بيا (ل)بيا(س) |

يا :

چې پر ما کوي د مينې مـــلامت څوک
راته وښيه عاشق يو سلامـــــت څوک
په زړه اور د عشق پېغور پـــه سر د کلي
بې ضروره قبلوي دا غرامـــــت * څوک
تهمتونه به د هرې خوا پـــــرې اوري
دا کامل عشق به کا پټ دا علامت څوک

د ( ملامت ، سلامت ، غرامت او علامت ) په کلمو کې د (الف او ت) تر منځ د (م) راوړل ، چې بې له دې قيده د (شرافت ، صداقت ......... ) په بڼه نورې کلمې هم راتلای شوې.

**ب** - هغه اعنات چې شاعر د خپل نظم په هر بيت کې د يوې کلمې راوړل په ځان لازم ګرځولي وي ، خوشحال بابا په لاندې غزل کې د (زلفو ) کلمه په هر بيت کې په ځان لازمي کړې:

* تاوان

که هر تار یې د کوڅې مښک تاتار دی
د کوڅې تر تار یې ښه د زلفو تار دی
هغه ځای چې مې د زلفو بازار جوړ شي
هغه ځای بې د ماتېو تش بازار دی
چې لذت د تورو زلفو را تر زړه شي
د ماتېو زیست روزګار کله په کار دی
دا خبره څه عجب ده چا ویلې
چې د تورو زلفو بد سوی ناتار دی
چې د تورو زلفو خیال ورڅخه نشته
تورې خاورې یې په سر عمر یې خوار دی
که همه دنیا پرې وښندې هم هېڅ ده
هغه کس چې مې د زلفو خریدار دی
خوار خوشحال چې ډېر صفت کاندې د زلفو
په قیمت د تورو زلفو خبردار دی ([1])

**ج**- کله شاعر دهر بیت په وروستیو هماهنګیو (قافیو) کې دوه داسې کلمې راوړي چې وروستۍ له مخکې څخه راوتلې بربښي خو حقیقت داسې نه وي. لکه:

که یم ډېر د حوادثو په کشال شل
خو ورځم که مې رهبر شه باکمال مل
تا چې خوان د دلبرۍ د کرم عام کړ
درته جوړ شه د عاشق غریب د سوال ول
معشوقه چې د جبین غوټه خوره که
د عاشق دخاطر غوټه شي فی الحال حل
د وفا جفا سودا په خپل اختیار که
د خوبانو په دربار کې دی دلال لل

[1] دخوشحال خان کلیات دانش، ۲۳۷ مخ



اوښکې تېل صبر پنبه لرم اور مینه
باري خدای مې چراغ نه که د اقبال بل
د هنر د چابک سوال لافه که ماته
چې اسمان نیلی راواخلي دخپل چال چل
خو چې ولید شي د مینې په ورشو کې
رقیبان که علیخان لکه شغال غل ([1])

[1] دیوان علي خان، ۱۱۸ مخ

www.pukhto.net

# ذوالقيافتين

که چرته شاعر په خپل کلام کې دوې قافيې راوړي ، ذوالقيافيتين ورته وايي، په درې ډوله نوموړی کار په کلام کې پېښېږي:

الف- چې د کلام په هر بيت کې دوې قافيې راغلې وي ، لکه:

ما چې وکړه نن د يار په اسرار شرحه
خوک به وکاندي زما په اشعار جرحه
خدايه کوم به بختور هغه ساعت وي
چې پېر زويه بيا په ما کانګار فرحه

په پورته بيتونو کې ( اسرار ، شرحه ، اشعار ، جرحه ، نګار ، او فرحه ) د قافيې کلمې دي.

ب-بل ډول يې داسې وي ، چې د يوه نظم ټول بيتونه مصرع وي ، يعنې هر نيم بيتي يې د قافيې کلمه لري ، لکه د خوشحال خان خټک لاندې نظم:

څه د بد و خوب و چې مـــې ولـــيده سحر
سترګې مې رڼې کړې ناقرار شوم په بستر
پاڅېدم له کټه لکه خـــوړ شي د چا سر
هسې شان او تر شوم نه مې لير ليده نه ور (١)

ج_ذوالقافيتين مع الحاجب:

که چرتـه پـه يـوه نظم کې د هرې قـافيې لپـاره رديف راشي ، بيـا يې ذوالقافيتين مع الحاجب بولي، لکه:

که منصور غوندې په دار شم يا سنګسار شم
نه به پاتې له دلدار شم نـــــه په ډار شم
چې ووينم ښه مخ تر نو بـــــــــهاره
زه باران د نو بهار شم ګوهر بـــــار شم

١ ديوان خوشحال خان ختک ، دويمه حصه ٤٣١ مخ



ستا د حسن د چمن هزار داســــــتان يم
په فرياد لکه هزار شم بيا ترې ځار شـــــم (١)

پـه پورتـه بيتونـو کې (دار ، سنګسار، دلدار ، ډار، بهـار، ګـوهر بـار، هزار او زار) د قـافيې کلمې دي ، چې د هـرې يـوې لپـاره (شم) مرسـتيال فعـل رديف راغلی دی.

وړمې د ګورو زلفو د ژوند پښو کې زولنې شوې
ناترسې شوګيرې سترګو لېمو کې ميلمنې شوې (٢)

په پورته بيت کې ( پښو ، زولنې او لېمو ، مېلمنې) د قافيې کلمې دي چې (کې او شوې ) د رديف په بڼه ورته راغلي دي.

١ لکچر نوټ
٢ سکونډارې ، ٥٦٠ مخ

www.pukhto.net

# تصدیر یا رد العجز

تصدیر په لغت کې پیلولو او پورته کښېنولو ته وایي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې د لومړي نیم بیتي لومړی کلمه د دویم نیم بیتي په پای کې راشي یا د دویم نیم بیتي وروستۍ کلمه د ورپسې بیت په سر کې راوړل شي ، تصدیر ورته وایي. په پنځه ډوله دی.

## ۱. د یوه بیت په پیل او پای کې د کلمې تکرار: لکه:

سم ږده د شریعت په لار قدم
مه ږده کوږ قدم چې ته شې سم

***

سیادت به دې طاووس نه د همای و
که مونده شوی په چوری سیادت (۱)

***

کینه بد ده بېشکه جنګ حرام دی
نه له نفس او له شیطان سره کینه (۲)

***

له کابله د خوارانو کډې لېږدي
ننګرهاره ! ته اوس ښئه یې له کابله (۳)

***

پسونه شکر کاږي چې ګیا ه دې کړه زرغونه
لېوان دې ثنا وایي چې پیدا دې کړه پسونه (۴)

۱ عبدالقادر خټک دیوان کابل ٤٢ مخ
۲ دیوان عبدالرحمن پېښور ١٤٣ مخ
۳ د ګل پاچا الفت په اشعارو کې دبدیعي ښکلاوې ٦ مخ
۴ د ګل پاچا الفت په اشعارو کې دبدیعي ښکلاوې ٦ مخ



یادونه:
کله د بیت د پای کلمه د لومړي نیم بیتي د دویمې کلمې په ډول هم راځي لکه:

هسې ژړ ژړ مرګ پر مونږه شتابي کا
لکه لو د پاخه کښت کا د هقان ژړ ژړ (۱)

## ۲. چې د یو بیت د پیل (صدر) لومړی توری د همغه بیت په پای (عجز) کې راغلی وي، لکه:

ابتدا کوم په اسم د مولا
چې په حکم یې دی ارض او هم سما

د پورته بیت د لومړي نیم بیتي په بیل کې (الف) راغلی، چې د وروستي بیت په پای کې هم راغلی دی.

جګې جګې یاره راشه ومې ګوره
بې طبیب زما د رنځ وکړه علاج

***

جهانونه رب پیدا کړه ستا له نوره
هم لولاک یې کړ په سر کې دا ستا تاج

***

هلته جګ د غره په اړخ کې وکورونه
په کې بل شوه د ماښام تازه اورونه (۲)

۱ د رحمان بابا کلیات دانش ١٥٤ مخ
۲ دالفت په اشعارو کې بدیعې ښکلاوې

www.pukhto.net

۳- چې د یوه بیت وروستۍ کلمه د ورپسې بیت په پیل کې راشي. لکه:

ستا هجران کړم یېلې پښې په سر سرتور
کور په کور کلي په کلي در په در
در په در ګرځم حیرانه نه پوهیږم
لکه څوک چې لېونی شي هم ابتر

په پورته بیتونو کې د لومړي بیت وروستۍ کلمې (در په در) د دویم بیت په پیل کې راغلې ده.

منګۍ ډک وي له اوبو نه خوله یې وچه
سیاست سره همدغه شان تګي ده
تګي مه کوه د بل په تګـــــۍ پوه شه
په تګۍ نه پوهېدل خو سادګي ده (۱)

٤. چې د بیت وروستۍ کلمه په لومړي نیم بیتي کې د اشتقاق په صورت رغلې وي، لکه:

په څیر څیر یې مخ ته ګورم نه مړیږم
دا زما ســـــترګې به کله شي مړې

په پورته بیت کې (مړې او مړیږم) د اشتقاق په بڼه راغلي دي.

وران مه بوله که وران ورانـــوي
وراني هغه ده چې ودان ورانوي
د ورانولو ده خاني بـــــاداري
ملي معمار خاني د خان ورانوي (۲)

۱ دالفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۲ دالفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې



۵- کله د لومړي نیم بیتي د حشوې کلمه د دویم نیم بیتي په پای کې راوړي:

د فلک په خرخښو و نښته لاړه
چې جهان یې وېرېده له خرخښو (۱)

❋ ❋ ❋

په صورت مې نرۍ تبه شـــــوه ولاړه
تا چې دواړه سترګې تورې کړې نرۍ (۲)

۱ عبدالحمید مومند کلیات دانش ۱۷٦ مخ
۲ د رحمان بابا کلیات قلندر مومند ۲٤۹ مخ

www.pukhto.net

# تشابه الاطراف

نو موړی ادبي صنعت د ردالصدر علی العجز په شان دی. په دې ډول چې ویناوال هغه کلمه یا کلمې چې د لومړۍ مسرې په پای کې راغلې وي په هماغه بڼه د ورپسې مسرې په پیل کې راوړي کله کله شاعر دا کار د کلام تر پایه په پام کې نیسي.

د خوشحال خان ختک کلام دی:

ښایسته نه دي بلا دي اشنایي یې ده لـه غمه
اشنایي یې ده له غمه زه ناري وهـــــم عالمه
زه ناري وهم عالمه عشق یو یم دی په موجونو
عشق یو یم دی په موجونو الحذر لـه هسې یمه
الحذر له هسې یمه چې عالم پکې فنـــــا دی
چې عالم پکې فنا دی دا دریاب روغ دی له دمه [1]

عبدالرحمن بابا وایي:

دغه یار دی دا اغیار دغه ګل دی دغه یار
دغه ګل دی دغه یار دا منصور دی دغه دار [2]

د پیر محمد کاکړ بیت دی:

عاشقي د ښکلو غم ده سرې کار مې دی له غمه
سرې کار مې دی له غمه چې ژړا کـــــوم عالمه
چې ژړا کوم عالمه تر لېمه مې خوناب څاڅي
تر لېمه مې خوناب څاڅي دا خوناب د زړه له یمه
دا خوناب د زړه له یمه کل زهوب دی چې بهیږي
کل زهوب دی چې بهیږي د بل زخـــــــم له المه [3]

---

[1] کلیات خوشحال خان ختک، کامل ۲۰۰ مـخ
[2] د رحمان بابا کلیات، دانش، ۱۵۲ مـخ
[3] د پیر محمد کاکړ دیوان، بېنوا، ۱۲۹ مـخ



# طرد و عکس

طرد په لغت کې څغلو لو او لرې کولو ته وايي او عکس په لغت کې اپوټه ته وايي په اصطلاح کې طرد او عکس هغه ادبي صنعت دی چې شاعر د خپل نظم هر نیم بیتی په دوو مساوي برخو ویشي د لومړي نیم بیتي لومړی برخه د دویم نیم بیتي په دویمه برخه کې راوړي او د لومړي نیم بیتي دویمه برخه د دویم نیم بیتي په پیل کې راوړي، لکه:

ناز د ترکو په چشمانو ---- قـــــبلومـــه هر زمان
قبلومه هر زمـــــا ن ----- ناز د ترکو په چشمانو

❋❋❋

په خندا کې یم ګریان لکه شمعه په مجلس کې
لکه شمعه په مجلس کې په خندا کې یم ګریان

❋❋❋

سر زما سامان زما زار شه تر جـــانان زما
زار شه تر جانان زما سر زما ســـامان زما
زیان زما نقصان زما واړه دیـــار هجر دی
واړه د یاره هجر دی زیان زما نقـصان زما
دا پیران شیخان زما ستا په غم کې نه رسي
ستا په غم کې نه رسي دا پیران شیخان زما [1]

---

[1] دیوان عبدالرحمن بابا ۱۷٤ مخ

PUKHTO.NET
www.pukhto.net

# معمی

په لغت کې پټ ته وايي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې نوم تاريخ يا کوم بل مطلب د ايما او رمز په ډول راوړی وي.

د معمی ډولونه:

١- د **جُمل (حساب) له مخې:** جُمل په لغت کې حساب يا د تورو حساب ته وايي او په اصطلاح که شاعر کوم نوم، نېټه يا بل مطلب د ابجد و د حساب پواسطه په رمز سره راوړی وي. د جُمل (حساب) په ډول معمی ورته وايي. مخکې تر دې چې بېلګه يې وښيو ، د ابجدو حساب په لاندې ترکيب کې راوړو.

١ ٢ ٣ ٤ ٥ ٦ ٧ ٨ ٩ ١٠ ٢٠ ٣٠ ٤٠ ٥٠ ٦٠ ٧٠ ٨٠ ٩٠

ابجد هوز حطي کلمن سعفص

١٠٠ ٢٠٠ ٣٠٠ ٤٠٠ ٥٠٠ ٦٠٠ ٧٠٠ ٨٠٠ ٩٠٠ ١٠٠٠

قرشت ثخذ ضظغ

بېلګه:

په شروع ددې کتاب شوم
په وکښو د رناياب شوم
سن د هجر چې مې شمار کړ
سوغق مې ترې اظهار کړ
احمد شاه بابا پښتونو
اووم کال يې په رفتونو

په پورته بيتونو کې (سوغق) د معمی په ډول راغلی دی چې په لاندې ډول يې حلوو:

سوغق:



س___ ٦٠
و___ ٦
غ___ ١٠٠٠
ق___ ١٠٠

١١٦٦هـ

په پورته بيتونو کې (١١٦٦) هـ نېټه د معمی په ډول راغلې ده.

معمي مې ده اوو سوه د اسم
لا هم کم دی که دوه واره ورله لام لاړ [1]

حل: (٧٠٠) ، ل(٣٠) ، لا (٣١) چې ټول سره جمع شي (٧٦١) کېږي چې د علي خان نوم هم د ابجد و په حساب (٧٦١) کېږي:

ع(٧٠) ، ل(٣٠) ، ي(١٠) ، خ(٦٠٠) ، ا (١) ، ن(٥٠)

٧٠+٣٠+١٠+٦٠٠+١+٥٠ = ٧٦١

**يادونه:** که په وروستي نيم بيتي کې سوچ وکړو دا هم ترې راوځي(لا هم کم دی که دوه واره ورله لام لاړ)

دوه وارې (ل) چې (٦٠) کېږي که له (٧٠٠) سره جمع شي (٧٦٠) کېږي، چې بيا هم (يو) عدد ته اړتيا لري څو (٧٦١) شي.

[1] ديوان علي خان ٣٢

www.pukhto.net

څو په نیم لب یې نمک اختستی نه دی
د یونـــــس نمکي اسم پرې حرام شه (١)

**حل:**

لب  ل(٣٠) ، ب(٢)
لب د ابجدو په حساب (٣٢) کېږي ، چې نیمایي یې (١٦) دی.
نمک  ن(٥٠) ، م(٤٠)  ک(٢٠)
نمک د ابجدو په شمېر (١١٠) کېږي چې نیم لب (١٦) ورسره جمع شي (١٢٦) شمېر ترې جوړېږي. اوس د یونس نوم د ابجدو په شمېر لیکو چې ایا (١٢٦) عدد جوړوي:
یونس: ي(١٠) و (٦) ، ن(٥٠) ، س(٦٠) ،چې ټول سره جمع شي (١٢٦) ترې لاس ته راځي.

٢- د تحلیل په بڼه معمی: که چرته معمی په داسې کلمو کې راغلې وي ، چې په وړاندې وروسته کولو سره یې حل راووځي. د تحلیل په بڼه معمی ورته وایي لکه:

پرنـــــامه د معجزې مـــــــدینه ګوره
چې مه خیرې شوه په منځ کې یې دین وشو

حل:
که په پورته بیت کې د (مه) کلمه خیرې کړو یعنې(م) بیل ولیکو او (ه) بیله لکه: مــ  ــه
او بیا ددې په منځ کې (دین) کلمه ور زیاته کړو ، لکه:
مـــ دین ــه
نو روغه کلمه به په دې بڼه شي (مدینه) ، چې د شاعر مراد دی.

په ویل اخر د مدح مقدم کړه
سرد ملک یې کړه په سر باندې کلا (٢)

١ د یونس خان دیوان ، کابل ، ١٩٤ مخ
٢ د یونس خان دیوان ، کابل ، ١٨٥ مخ



حل:
د (مدح) اخر(ح) ده چې مخکې شي(حمد) ترې جوړېږي، او د (ملک) سر چې (م) دی د (حمد) مخې ته شي (محمد) (ص) ترې لاسته راځي.

٣- د قلب تصحیف او سقاط په بڼه معمی:
که چرته معمی په داسې کلمو کې راغلې وي ،چې د تورو په چپه کولو ، د ټکیو په غورځېدو او د ټکیو په بې ځایه کولو سره حل شي ، نوموړې معمې یې بولي، لکه:

خم چې یونس واړاوه څڅوکی څنې پرېوت
هوش له مدهوش ورک شو اسم لوی شه دهغه
❋❋❋
له نسکوره خم یو څڅوېکی پرېوت
له مدهوش نه هوش لاړ په هغه سا (١)

حل: د (خم) کلمه چې واړوئ (مخ) شو او چې څاڅکی یعنې ټکی ترې وغورځوی نو (محـ) شو. له (مدهوش) څخه چې هوش لرې شي ، (مد) پاتې شه او چې له (محـ) سره یو ځای شي نو ( محمد ص) به ترېنه جوړ شي.
شاعر د حضرت محمد (ص) نوم مبارک د معمی په بڼه راوړی دی.

٤. د تبدیل او تصحیف په بڼه معمی:
که چرته معمی په داسې کلمو کې راغلې وي ، چې کومه کلمه پکې بلې ژبې ته ژباړل کېږي او ټکي هم پکې بې ځایه شي د تبدیل او تصحیف په بڼه معمی ورته وایي:

چې لاس پورې شي په مخ د ګلبدن
له غـــیرته یې خال پرېوځي په لمن

حل: په پورته بیت کې (لاس) کلمه عربۍ ته ژباړل کېږي ، په عربي کې لاس ته (ید) وایي. همدارنګه د (مخـــ) د کلمې د (خ) توري ټکی ښکته راکوزوو

١ د یونس خان کابل ، ١٨٥ مخ

www.pukhto.net

ګورو چې له (مخ) څخه (مجـ) جوړ شه او چې (يد ) ور پورې کړو نو (مجيد ) ځنې جوړېږي ، چې د شاعر مطلب همدا دی.

۵: د تبديل او قلب په بڼه معمی:

که چرته معمی په داسې کلمو کې راغلې وي چې بلې ژبې ته ژباړل کېږي او يوه نيمه يې اپوټه کېدو ته اړه ولري ، نوموړې معمی يې بولي ، لکه:

د مېلمه عکس تش په کور کې څه عزت نلري
چې څښتن مل شي قدر يې ډېر وي نور ذلت نلري

**حل:** (مېلمه) ته په عربي کې (ضيف) وايي ، چې عکس يا اپوټه بڼه يې (فيض) ده. څښتن ته په عربی کې (الله) وايي. چې له (فيض) سره يو ځای شي. (فيض الله) ترې لاسته راځي. په پورته بيت کې حبيب الله بارکزي د خپل ورور نوم د معمی په بڼه راوړی دی.

# افراد

افراد د (الف) په زېر په لغت کې جدا کولو بېلولو او هم يو ځای کولو ته وايي. د بديع په اصطلاح هغه ادبي صنعت دی که شاعر يا ناظم د قافيې په کلمه يا کلمو کې د الفباء د څو تورو نومونه راوړي، چې د هغو له يو ځای کولو څخه هغه کلمه يا کلمې جوړې شي ، چې د شاعر مراد وي. افراد ورته وايي. افراد په دوه ډوله دی.



## ۱. مطلق افراد:

که چرته د تورو نومونه يوازې د قافيو په کلمو کې راغلي وي او رغېدلي کلمه ترېنه د ورپسې بيت په صدر يا ابتدا کې نه وي راغلې، مطلق افراد يې بولي ، لکه د شمس الدين کاکړ لاندې غزل:

ما چې نن وليدې په خواب کې ميم وخې د دلبر
طاقت مې نشي په بل ځای بې دال و رې د دلبر
زه که پتنګ غوندې حملې کوم د مخ پر شمع
پر ما غالب دی هسې سين و واو وزې د دلبر
د سرپر هټ باندې مې واړول کاروان د مښکو
نسيم راوړی بوی د زې و لام و فې د دلبر
چې به يې اشنا يې خوله ورکوله شمس الدين به نه کړه
اوس په خواست غواړي بې و واو و سين وهې د دلبر (۱)

په پورته بيتونو کې(د دلبر) رديف دی ، چې په ترتيب سره تر رديف له مخه تورو نومونه سره يو ځای کړو لاندې کلمې په لاس راځي:
مخ ، در، سوز ، زلف او بوسه

## ۲: جامع افراد:

که چرته شاعر په خپل نظم کې افراد او تصدير سره مله کړي يعنې شاعر چې د يوه نظم د دورونو په پای کې د کومو تورو نومونه راوړي له هغو څخه مطلوبه مرکبه کلمه د ورپسې بيت په پيل (صدر) کې راوړي، جامع افراد ورته وايي

[1] شمس الدين کاکړ ديوان ، ناصر ۶۹ مخ

www.pukhto.net

لکه:

د قنبر علي لاندې غزل:

که څرګند کړي له حجابه میم و خې
مخ به پټ کړي په سحاب کې میم و هې
مهر ویانو په رخسار به غبار پربوځي
که پر مخ دې ورښکاره شـي خې و طې
خط به ورکا د خپل سرپه بند ګی کې
په چشمې کــه دې خو د تر کړه لام و بې
لب په غاښو د حسرت چیچم له غمه
ته چې لـــب کېږدې په جام د میم و یې
می حرام دي ستا د مخ په عاشقانو
بې د ستـــا له خولې د شین و کاف ورې
که شکرې دي که قند دي که نبات دي
غواړم ستـــــا دلبو قاف و دال و حې
قدح ماته شي ساقي پربوځي بېخوده
چې وښوري دا ســــتا زې و لام و فې
زلفې تاو کړه د سرو تیک په جبین کېږده
چې نثار کړم زه د ســــترګو دال ورې
در دانې دي د قنبر عـــلي بیتونه
که یې واچوې په غوږ کې بې وتې ([1])

په پورته غزل کې په ترتیب سره لاندې کلمې د افراد په بڼه راغلي دي:

مخ، مه، خط، لب، می، شکر، قدح، زلف، دُر، او بت.

د پښتو منظوم ادب لـه ځېړنې د اجوتـه شوې ده چې پـه ځینـو پښتو نظمونو کې د قافیې د کلمو په مطلق افرادو سربېره د هر بیت په پیل کې هم د افراد صنعت راغلی وي. خو دا (صدري) افراد د قافیو د کلمو لـه افرادو سره هېڅ لفظي اړیکې نلري، بېلګه یې د اشرف خان هجري لاندې غزل دی:

[1] کلام قنبر علي ۱۹۸ مخ



چې خم خم په عـــــارض زا و لا وفا که
پرې محبوس د خــــسته زا و ړا و ها که
نون و میم و را تـــغییر کـــاله رونقه
له نقـــابه چــــې پیدا را ســـره خاکه
عین و سین و لام یې هېڅ شي په نظر کې
هر سړی چـــې یې خوند نوش د لام و باکه
صاد و بـــــا و را فرا روکه له زړو نو
چې نمــــا د نون و ها په منځ کې تا که
سیـــن و تا و را و ګاپ یې قزاقان دي
له غـــار ته یې ملک غین و واو و ثا کا

د پورته بیتونو په (عجز) کې لاندې کلمې د افراد په بڼه راغلي دي:

زلف، زړه، رخ، لب، نته او غوښ

همدارنګه د بیتونو په صدر کې (نمر، عسل، صبر او سترګې) د افراد په بڼه راغلي دي.

www.pukhto.net

# توشیح

په لغت کې جوړولو او ښکلا ورکولو ته وايي، په ادبي اصطلاح که شاعر خپل نظم داسې ترتیب کړي چې د بیت یا نیم بیتو لومړي توري یې سره یو ځای شي یو نوم نښته یا کوم بل مطلب چې د شاعر مراد وي لاس ته راشي لکه: ګل ملوک چې خپل نوم په لاندې نظم کې راوړی دی:

ګمراهانو سره مه ګډوه ځان
فرمایلي دي نبي اخر زمان
له فضولو بد کارانو صحبت مه کړه
بل خبرې ته غوږ مه ږده د نادان
مدام ګرځه په مجلس کې د نېکانو
قایم اوسه په خپل دین کې مسلمان
له ګناه په منزه وي هغه څوک
چې ثنا صفت تل وايي په زبان
ورکول بل ته د خدای په نامه ښه دي
په قران کې دا فرمايي پاک سبحان
که دې ګنج لکه قارون په جهان ډېر شي
بې کفنه تو به نشې وړای د ځان (۱)

د پورته غزلې د هر بیت لومړی توری چې په ترتیب سره جمع کړو (ګل ملوک) ترېنه جوړېږي.

۱ بدیع او بیان



یا:

عام سړی ور پورې نه لري څه کار
ځکه تل ځنې تېرېږي په تلوار
له هوښیارو سره مل وي په هر ځای
په لرلو دده کاندي افتخار
مدام غواړه یې د ژوند بله ډیوه ده
ګنې ژوند به دې مدام وي خوار وزار (۱)

په پورته بیتونو کې (علم) د توشیح په بڼه راغلی دی

یادونه: کېدای شي ځینې شاعران د خپل نظم د هرې مسرې په لومړیو تورو کې د توشیح په بڼه یو نوم، نښته یا بل مطلب راوړي.

# ملمع

په لغت کې رنګارنګ، یا هغه حیوان ته وايي چې پر پوټکي یې داغونه یا خالونه د حیوان د اصلي رنګ خلاف راغلي وي او په اصطلاح هغه ادبي صنعت دی، چې شاعر په خپل کلام کې تر یوې ژبې زیاتې راوړي، لکه: د حافظ الپوري لاندې بیتونه:

من ذاق طعم بلا را نګار خواهد یافت
بې اغزو کله بورا مومي بوی د ګل سحرې
اخربه راسي بدست خو د ګله هر ګز نه کنم
ورقیبانو ته مې مه سپاره فرخ دلبرې (۲)

په پورته بیتونو کې عربي، فارسي او پښتو درې واړه ژبې ګډې راغلې دي. کله شاعر پوره نیم بیتي د بلې ژبې راوړي لکه:. خوشحال بابا:

چې کنم چه چاره سازم — چې دې زړه کړم را کناره
نکند به دل سرایت — که زاري کوم بې شماره

۱ همکار، د کانکور پوښتنې، پښتو برخه، ۱۱۳ مخ
۲ دیوان حافظ الپوري، ۱۰۲ مخ

www.pukhto.net

تــو چــه سنــګدل نګاري    چــې مې ســتا وکړه ننداره
ای نـــګـــا ر من حذرکن    د ويـــشـــــــتلو لـــه ازاره
نـــــر ودزدرګـــــهې تو    که خو شحال شړې سل واره [1]

حميد مومند وايي:

زړه مې ددلـــــــبرو هـــوا يوور او تـــــانهين
روح ورپسې بيا يم باري څخه کړم جا وتا نهين [2]

# تجنيس

تجنيس په لغت کې همجنس کولو ته وايي، د ادبي فنونو په اصطلاح که په يو بيت يا نيم بيتي کې دوې يا زياتې داسې کلمې راشي، چې په بڼه، وزن د تورو شمېر، ليک او لوست کې يو شان يا څه سره ورته وي او په معنی کې سره توپير ولري، تجنيس يې بولي، تجنيس ته ځينې جناس هم وايي.

تجنيس په اوه ډوله دی:

۱. **تا م تجنيس:** که متجانسې کلمې د تورو په شمېر، وزن، بڼه، ليک او لوست (تلفظ) کې يو شان وي او يوازې په معنی کې سره توپير ولري، تام تجنيس ورته ويل کېږي. په دوه ډوله دی:

**الف: تام مماثل تجنيس:** که متاجنسې کلمې دواړه نوم يافعل وي تام مماثل تجنيس ورته وايي. لکه علامه الفت (رح) چې وايي:

په دنيا کې که فايده ترينه وانه خلې
اخرت کې خو دنيا څه په کار نه ده [3]

[1] کليات خوشال خان، کامل ۸۵ مخ
[2] د حميد مومند کليات، ۱۶۸ مخ
[3] - د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې



په پورته بيت کې ددنيا په کلمه کې تجنيس راغلی دی، لومړی (دنيا) د جهان په معنی او دويمه دنيا د مال او دولت په معنی کارول شوې ده، دا چې دواړه کلمې نومونه دي نو ځکه يې مماثل تجنيس بولي.

حميد مومند وايي:

چې چيچلی دې د عشق بې دَم مار يم
خــو دبــه دم راځـخه او کاږي يو دم [1]

د پورتـه بيـت د (دم) پـه کلمـه کـې تجنـيس راغلـی دی، لـومړی دم د (اودې) په معنی، دويم (دم) د (سا) پـه معنـی او درېيم (دم) د وخت پـه معنـی کارول شوی دی او درې واړه نومونه دي.

دعشق تور دې د عاشق د سترګو تور
سر بلند شي چې په عشق کې شي سرتور
په مذهب د سوو لوو پتنګانو
د طوبی* سيوري نه ښه دی د عشق تور [2]

د پورته څلوربزې د (تور) په کلمه کې تجنـيس پـېښ شوی دی، لومړی (تور) د تهمت په معنی دويم (تور) د سترګې د کسي په معنی کارول شوی دی.

څوېې ځله هر ساعت شي هو مره ځله
د خوشحال سينه لګــــېږي له خنجره [3]

په پورته بيت کې لومړی (ځلـه) د (شـوق) پـه معنـی او دويمـه (ځلـه) د (کرت) معنی ورکوي، دا چې د واړه نومونه دي نو ځکه يې مماثل تجنيس بولي.

حســـن خط د ويزاری و مخ ته ورکړ
چې ښکاره شه په غدارو د نګار خط [4]

[1] - حميد مومند کليات ۲٤۷ مخ
* په جنت کې يوه ونه ده، ډېر پاک، خير او سعادت
[2] - د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[3] - خوشحال کليا ت کابل چاپ ۲۱۲ مخ
[4] عبدالقادر خټک ديوان کابل چاپ ۷۱ مخ

www.pukhto.net

په پورته بيت کې لومړی (خط) د ليک په معنی او دويم (خط) پر مخ تر ږيرې وړاندې د پشم د ځرګندېدو په معنی کارول شوی دی، چې دواړه نومونه دي.

ساده روی خط ته هوس له سادګی کا
وچمن ته پريښوی نشي د چمن لاس ([1])

په پورته بيت کې لومړی ( چمن ) د شين ځای په معنی او دويم (چمن) د نامنونکي او سر کښه په معنی دی.

۲.مستوفی* تام تجنيس: که چرته له متجانسو څخه يوه يې نوم او بله يې فعل کارول شوی وي نوموړی تجنيس يې بولي ، لکه د علامه الفت لاندې بيتونه:

دا سرخي چې ته په سرو ګلو کې وينې
فکر وکړه دې د چا د ځيګر وينې ([2])

د پورته بيت د ( دوينې ) په کلمه کې تجنيس پېښ شوی دی ، لومړی (وينې ) د ليدو په معنی او دويم (وينې ) د (خون) په معنی کارول شوی دی داچې لومړی (وينې ) فعل او دويم نوم دی نو ځکه يې مستوفی تجنيس بولي.

بې د يـــار لـــه غمه نه وينم په کــسي
دواړه کسي ملک د لمر په شغلو کسي ([3])

په پورته بيت کې لومړی او دويم (کسي ) د سترګو په معنی او درېيم (کسي ) د ليدو په معنی ، داچې لومړی او دويم کسي نوم دی او درېيم کسي فعل دی نو ځکه يې تام مستوفي تجنيس بولي.

عـــمر هر زمان ګداز کالکه واورې
يا به ستا له مرګه واورم يا به واورې ([4])

---

[1] عبدالحميد مومند کليات ، ۸۸ مخ
* تمام و کامل ګرفته شده
[2] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[3] - خوشحال خان ختک کليات کابل چاپ ۳۵٦ مخ
[4] خوشحال خان کليات لومړی جلد ، ۲۳٦ مخ



په پورته بيت کې لومړی (واورې ) د فارسي د (برف ) په معنی او دويم (واورې ) د اورېدو په معنی چې لومړی کلمه نوم او دويمه کلمه فعل دی.

چا بــه راکړه په پالنګ دا هسې کښلې
که مې نه وای په ازل په قسمت کښلې ([1])

لومړی (کښلې ) نوم دی او دويم (کښلې ) فعل دی.

سپينه به نشي د صورت وينځه
کښېنه په سيند کې مدام يې وينځه
اثر يــې نه ځـــي د بــد ذاتی
کــه تـــربيت شـــي غــلام يا وينځه ([2])

په پورته ځلوريزه کې لومړی (وينځه) د بدن پر سر د (خاپ يا داغ ) په معنی ، دويمه (وينځه ) د پرېمنځلو په معنی او درېيمه (وينځه ) د غلامې په معنی کارول شوې ده، چې لومړی او درېيمه يې نومونه او دويمه يې فعل دی.

---

[1] خوشحال خان کليات لومړی جلد ، ۲۳٦ مخ
[2] د کاظم خان شيدا ديوان ، دانش ۳۵٤ مخ

www.pukhto.net

## ناقص (نيمګړى) تجنيس

د تجنيس هغه ډول دى چې متجانسې کلمې په بڼه او د تورو په شمېر کې سره يو شان وي مګر توپير يې يوازې په ويون (تلفظ) او معنى کې وي. لکه:

مـينه مـينه خـو څه مېنه نه ده
چـې شوله ړنګه نو ودانه به شي (۱)

د پورته بيت د (مينـه) پـه کلمو کې نـاقص تجنـيس کـارول شـوى دى، لومړى مينه د (عاشق)، دويمه مينه د محبت او دريمه (مېنه) د کور پـه معنى راغلې ده او د درې واړو کلمو تلفظ يو له بله توپير لري.

تاچـې وکـړه ښه وينـا راته پسته
زه دې ځار شم تر دا خوله لکه پسته

نـاقص تجنـيس د (پسـته او پسـته) پـه کلمـو کـې پـېښ شـوى دى لومړى (پسته) د (پ) په زور د (نرم) په معنى او دويمه پسته د (پ) په زېر د خوراکي څيز چې له چايو سره او يا يوازې خوړل کېږي.

ستا له غمه مې پـر مخ باندې ولې دي
لږ مـې وپوښـته لـه حاله چې ولې دي (۲)

تجنيس د (ولې) په کلمه کې راغلى، لومړى ولې د بيالې په معنې او دويم (ولې) سببي نو مځرى دى چې د يو کار علت ښيي.

۱ همکار
۲ د رحمان بابا کليات دانش ۳۵۴ مخ



فراق په ما خوري د زړګي وينې
اشنا مې نشته الله (ج) مې ويني

د پورته بيت د (وينې او ويني) په کلمو کې ناقص تجنيس راغلى دى. ښاغلي پوهندوى نورمحمد شاکر نومورى بيت د تام تجنيس په بېلګه کې راوړى دى. خو که پام وکړو لومړى (وينې) د خون په معنى او دويم ويني د درېيم شخص لپاره د فعل په بڼه راغلى دى چې په څرګنده (ي) پاى ته رسېدلاى دى. پټه دې پاتې نه وي چې عبدالروف بينوا هم په خپل اثر (ادبي فنون) کې د تام تجنيس د بېلګې په ډول کارولى دى.

د حميد د زړه رڼا په ښکلي مخ ده
په دا کـور کې نشته بله بله شمع (۱)

***

قوت خو هومره چې قوت ځني حاصل شي
کـه په تـوک يې د اوربشو که غـنمين کا (۲)

***

د عالِم فساد فساد د درست عالَم دى
شـيطان کـله هومره د بره ويراني کا (۳)

۱ حميد مومند کليات دانش ۱۱۳ مخ
۲ عبدالقادر خټک ديوان کابل ۲۳ مخ
۳ عبدالقادر خټک ديوان ۲۷ مخ

www.pukhto.net

## زاید تجنیس

زاید په لغت کې زیات کړل شوي ته وایي په ادبي. اصطلاح نوموړی هغه ادبي صنعت دی چې له متجانسو کلمو څخه د یوې په سر مینځ یا پای کې یو توری زیات راغلی وي په دوه ډوله دی.

الف.مزید تجنیس: که له متجانسو کلمو څخه د یوې په سر کې یو توری زیات راغلی وي مزید تجنیس ورته وایي، لکه د علامه الفت په لاندې بیتونو کې

بصـــــیرت او عــلم نشــته په کــتاب کې
چې څـــه نــه وي د مــغزو په پېچ و تاب کې
عــلم و پوهـــه بـل شی نــه دی بینایي ده
خوشې ناست یې پټې سترګې په محراب کې (١)

د پورته څلوریزې د (کتاب او تا ب) په کلمو کې مزید تجنیس راغلی دی چې د کتاب په کلمه کې یو توری (ک) د تاب له کلمې څخه زیات دی.

خــوب لـــه یاره سره هـمه د عاشق نشي
چــې یې یار په بل دیار وي څه به خوب کا (٢)

په پورته بیت کې مزید تجنیس د(یار) او (دیار) په کلمو کې واقع شوی دی چې د (دیار) په کلمه کې (د) د (یار) له کلمې څخه زیات دی.

خوشحال خان خټک وایي:

زمـا تــوبه ده لـــــه نــادان یاره
چــې یــې یاري ده مــیرخي تــیاره
دی به دې ښه غواړي تاته به بد شي
غم به پـــید اشي ده له پـــیاره (٣)

١ د الفت په اشعارو کې بدیعې ښکلاوې
٢ د رحمان بابا کلیات دانش ٣٠ مخ
٣ دیوان خوشحال خان دویمه حصه ، ٦٦ مخ



د پورتنۍ څلوریزې د (یاره ، تیاره او پیاره ) په کلمو کې مزید تجنیس راغلی دی ، د(تیاره او پیاره ) د کلمو یو یو توری ( ت ، پ ) د (یار) له کلمې څخه زیات دی.

ب- مزیل تجنیس: مزیل په لغت کې د برطرفه کوونکي په معنی دی او په اصطلاح کې د زاید تجنیس هغه ډول دی چې له متجانسو کلمو څخه د یوې په منځ یا پای کې یو توری زیات راغلی وي. لکه د علامه الفت په لاندې بیت کې:

بې حسابه څاڅکي توی په بحرو بر شي
له لـــکـونو کـروړونــو یـو ګوهر شي (١)

د پورته بیت د ( بحر او بر) په کلمو کې مزیل تجنیس راغلی دی. د (بحر) په کلمه کې د (ح) توری د( بر ) له کلمې څخه زیات دی.

که څوک غواړي د اشراب حیرت انجام
مونده کــېږي د جـامي په ښــکلي جام (٢)

د پورته بیت د (جامي او جام ) په کلمو کې مزیل تجنیس راغلی دی ، د جامي کلمې په پای کې (ي) د جام له کلمې څخه زیاته ده.

چې نظر لـه ناتوانۍ وچـاته نه کـا
دهغو بیمارو سترګو ناز و نیاز را (٣)

د پورته بیت د ( ناز او نیاز ) په کلمو کې مزیل تجنیس راغلی دی ، د نیاز په کلمه کې (ي) د ناز له کلمې څخه زیاته ده.

١ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
٢ د عبدالحمید مومند کلیات دانش ٥٣٩ مخ
٣ د عبدالحمید مومند کلیات دانش لومړی مخ

www.pukhto.net

## مرکب تجنيس

که متجانسې کلمې په بڼه ، حرکت ، د تورو په شمېر او وزن کې يو شان وي مګر يوه يې مرکبه او بله يې بسيطه وي. نو موړی تجنيس په درې ډوله دی.

الف. متشابه مرکب تجنيس: که چرته متجانسې کلمې يو له بله سره په ليک او تلفظ کې توپير ونه لري ، متشابه مرکب تجنيس ورته وايي ، لکه:

په يوه نظر چې وکړي ساقي ماته
هغه د م مې صد ساله توبه شي ماته [1]

د پورته بيت د ( ماته ) په کلمه کې متشابه مرکب تجنيس راغلی دی. لومړی (ماته) په ترکيبي بڼه راغلی (ما ) د مفرد متکلم او ښتی نو مځری دی او (ته ) ربطي وييکی دی. دويم (ماته) يوه بسيطه کلمه ده چې د فارسۍ د (شکست) په معنی ده.

راښکاره چې شرافت د شرافت شه
دا عاشور له ناپوهۍ ګاڼه اختر ما [2]

د پورته بيت د شرافت په کلمه کې مرکب تجنيس راغلی دی، لومړی شرافت مرکبه کلمه ده ،(شر او افت ) او دويم د شرافت بسيطه کلمه ده.

په نسيم د محبت لکه ګل وايم
په تجنيس په نصيحت بيتو نه وايم

د پورته بيت د( وايم) په کلمه کې متشابه مرکب تجنيس واقع دی. لومړی (وايم ) مرکبه کلمه ده (وا ) د غوړېدو په معنی او (يم ) د نژدې ماضي

[1] عبدالقادر ختک ديوان کابل ١٥٨ مخ
[2] عبدالحميد مومند کليات دانش ٨ مخ



مفرد متکلم مرستيال فعل دی.دويم (وايم ) د (ويل ) له مصدر څخه رابيل شوی فعل دی.

د للمې سرې په مخ کې وي اب چرې
هغه خلک چې بې اب وي خو بې اب وي [1]

په پورته بيت کې مرکب تجنيس د (بې ادب ) په کلمه کې دی، لومړی (بې اب ) مرکبه کلمه ده چې د (بې) مختاړي او(اب ) څخه جوړه شوې او دويم (بې اب ) بسيطه کلمه ده چې دبې عزته معنی ورکوي.

وايي مه کوه خبرې کوه کار
بې خبرو کار په کار دی د بادار
د خر کار او د خره فرق به نو په څه وي
که خرکار لکه خرکار کړي نه ګفتار [2]

❋❋❋

ستا وصال لکه درياب دی زه ماهی
په هجران دې هر زمان دی په ماهی [3]

لومړی (ماهی ) د (کب) په معنی بسيطه کلمه ده او دويم (ما ، هی ) (ما )د مفرد متکلم او ښتی نومځری دی او (هی) دلته د غم ، شور او غوغا په معنی دی.

[1] عبدالرحمان بابا ديوان ١٤٦ مخ
[2] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[3] د خوشحال خان ختک کليات لومړی جلد ٣٣٢ مخ

www.pukhto.net

چې په خندا شي د غرونو زرکه

شهباز يې لاندې تر نظر زرکه

نجات يې نشته زما په پوهه

په الوته کې که باد وزرکه (۱)

په پورته بيت کې لومړی (زرکه) دفارسي د (کبک) په معنی ده چې بسيطه کلمه ده او دويم (زر ، که) مرکبه بڼه ده (زر) د تند په معنی او (که) د (کړه) په معنی دی.

**ب- مفروق مرکب تجنيس:** د مرکب تجنيس هغه ډول دی چې مرکبه کلمه يې دمرکبې په بڼه او بسيطه يې د بسيطې په بڼه وليکل شي يا دا چې مرکبه کلمه يې په ليک کې له بسيطې کلمې سره توپير ولري، لکه:

چې په سترګو ځراغ ووينې پتنګ

څو ونه مري له ژوندونه وي په تنګ (۲)

په پورته بيت کې مفروق مرکب تجنيس د (پتنګ) او (په تنګ) په کلمو کې راغلی دی. وينو چې د دواړو توپير په املا کې شوی دی.

همدا کلمې په يو بل بيت کې:

خراب دل مې له دې غمه په تنګ راغی

لکه تنګ له خپله عمره پتنګ راغی

***

پرېږده کور ودانيه راته څه ستا يې ته ښځه

سر د هغې ښې ښځې ووړ ووړ کړی په تر ښځه

نېک و بد بۀ هر څوک فکر کا د خپلې چارې

فهم کړه خوشحاله که څوک بد درومي ته ښه ځه (۳)

۱ د کاظم خان شيدا ديوان دانش ۳۶۷ مخ

۲ د عبدالقادر ختک ديوان پېښور يونيورستي ۷۷ مخ

۳ خوشحال خان کليات پېښور ۳۵۶ مخ



کله مفروق مرکب تجنيس د کلمو د تلفظ په وجه هم پېښيږي:

لکه:

له کوم لورې راروان يو جهان ګردو

مخ او څټ باندې يې پروت د لارې ګرد و

ما وې څه دې وليدل په دا دنيا کې؟

ويلې دومره شومه پوه چې جهان ګرد و (۱)

د دويم جهان ګرد (ګ) په زبر تلفظ کېږي. لومړی (جهانګرد) مفرده کلمه ده او دويم (جهان ګرد) دوه بېلې بېلې کلمې دي.

ج- مرفو مرکب تجنيس: مرفو په لغت کې د ګنډل شوي په معنی دی او په اصطلاح کې مرفو مرکب تجنيس هغه دی چې له متجانسو کلمو څخه د يوې په سر کې دوه يا درې توري زيات راغلي وي ، لکه:

ژر به رسوا شې د مضمون د زده

جا مه غمازه د جا مه دزده

کله پټېږي له مبصره

متاع په بلخ کې چې د کند زده (۲)

په پورته څلوريزه کې د (کندزده) په کلمه کې (کن) دوه توري د (دزده) د کلمې په سره کې ګنډل شوي غوندې برېښي.

زار په ځان د دل ازار دی زه در ځار شم

چرې نه وي چې بې شرعې څوک ازار کړې (۳)

***

افرين دې په دا سرو سترګو خونخوارو

چې بې تور پرهارونه کا پر خوارو

***

سر زما سرکوزي نه منې د تاج

ګنه تاج زما و سرته دی محتاج (۴)

## مکرر تجنيس

۱ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې

۲ د کاظم خان شيدا ديوان ، دانش ۳۵۵ مخ

۳ علي خان رنګ و بو قافله ۲۶۵ مخ

۴ دعبدالحميد مومند کليات دانش ۵۳ مخ

هغه تجنیس دی چې متجانسې کلمې د بیت په پای کې پر لپسې راشي په بله وینا که چرته له متجانسو کلمو څخه وروستۍ کلمه د مخکینۍ کلمې په وروستۍ برخه کې شامله وي. مکرر تجنیس ورته وایي ، لکه د پیر محمد کاکړ په لاندې بیتو کې:

بوی د زلفو چې مې تېر شه تر مشام شام
و بلبل ته مې د زړه بړدي ګلاندام دام
له دیداره یې محروم پیر محمد مه شه
هغه ورځ چې دلربا کا د انعام عام [1]

د پورته بیتونو د (مشام ، ګلاندام او انعام ) په کلمو کې (شام ، دام او عام ) کلمې په وروستی برخه کې پوره لیدلای شو.

یا:

هسې کړی یم هغه دل ازار زار
چې په بله خوا مې نه دی اختیار یار
ایینه دې ده د مخ هسې نازکه
چې دې خط پرې باندې پرېوت غبار بار

یا د کامګار لاندې بیت:

نن بلبل دا رنګ په سر د ګلزار زار کړ
چې راپورې محبت د ګلنار نار کړ [2]

---

[1] پیر محمد کاکړ دیوان ۱۰۲ مخ
[2] کامګار ، رنګ و بو قافله ۱۷۷ مخ



یا

مزین یې کا یو څو په افسر سر
بیایې مات کا د دوران عضنفر فر
په معنی کې بشر نه دی پړانګ لیوه دی
چې دده له لاسه مومې بشر شر [1]

## مطرف تجنیس

هغه تجنیس چې متجانسې کلمې یې په یوه توري کې سره توپیر ولري مطرف تجنیس یې بولي. په دوه ډوله دی.

الف- مضارع مطرف تجنیس: مضارع په لغت کې ورته یا مشابه ته وایي په اصطلاح کې مضارع مطرف تجنیس د مطرف تجنیس هغه ډول دی چې مخالف توري یې په وتونځایونو ( مخرجونو ) کې سره نژدې وي.

لکه:

سوز و ساز د زندګۍ ښه تماشه ده
بې رڼا او سېدل مړینه او فنا ده [2]

د پورته بیت د (سوز او ساز) په کلمو کې مضارع تجنیس راغلی دی. د (سوز ) په کلمه کې د (و ) او د (ساز ) په کلمه کې (الف) یو له بل سره توپیر لري ، چې وتو نځایونه یې سره نژدې دي.

ښلتانه دې ګوره هسې کړم ښوا که
چې وهي مې هر مېږي او مچ ښباکه

د پورته بیت د (ښواکه او ښباکه ) په کلمو کې مضارع تجنیس راغلی دی د (ښواکه) په کلمه کې (و ) او د (ښباکه) په کلمه کې (ب) یو له بله سره توپیر لري چې وتونځای یې ګډ دی یعنې دواړه شونډیز توري دي.

---

[1] د عبدلقادر خټک دیوان ، پېښور ٥٤ مخ
[2] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

www.pukhto.net

سل زخمه که وخوري ترې به يو ځاځکی پرې نوځي
هسې رنګه وچه د صورت کا مینه وینه (1)

د پورته بیت د (مینه ) او (وینه ) په کلمو کې مضارع مطرف تجنیس پروت دی. د (مینه ) په کلمه کې (م) او د (وینه ) په کلمه کې (و ) یو د بل مخالف توري دي، چې وتونځایونه یې ګډ دي.

ب: لا حق مطرف تجنیس: لاحق په لغت کې نښتي ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه صنعت دی چې د متجانسو کلمو بدل توري یې په وتونځایونو کې سره لرې وي، لکه

راځئ ښيرې کړو دا ښې جامې رنګینې
پکې وګورو ښېرې ډېرې ننګینې (2)

د پورته بیت د (رنګینې او ننګینې) په کلمو کې لاحق مطرف تجنیس راغلی دی د (رنګینې ) په کلمه کې (ر ) او د (ننګینې ) په کلمه کې (ن) یو له بل سره توپیر لري، چې د دواړو وتو نځایونه هم سره لرې دي.

تــــحول په کاینا تو کې لیده شي
ډېر افسوس دی که یو قوم پاتې ویده شي (3)

د پورته بیت د (لیده او ویده ) په کلمو کې لاحق تجنیس راغلی دی. د (لیده ) په کلمه کې (ل) او د ویده په کلمه کې (و ) یو له بل سره بدل راغلي دي ، چې مخرجونه یې هم سره لرې دي.

زه په هره سا خطا کړم ته عطا کړې
په یوه عطا ته ورکې سل خطا کړې

***

1 عبدالقادر خټک دیوان کابل ٣٤١ مخ
2 د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
3 د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې



سر اول د یار د یاد په بالین کښېږدم
له غـه پـسه په پالنګ باندې څملم (1)

پورته د (یار) او (یاد ) په کلمو کې لاحق تجنیس پروت دی. د (یار) د کلمې (ر ) او د (یاد ) د کلمې (د ) یو له بل سره توپیر لري، چې وتونځایونه یې سره لرې دي.

ستا په سترګو کې نا تار سیه کجل کا
بې اجله دم په دم کار د اجل کا (2)

د (کجل) او (اجل) په کلمو کې لاحق مطرف تجنیس پروت دی.

## خطي تجنیس

که چرته متجانسې کلمې بې له ټکیو یوه بڼه ولري ، خطي تجنیس یې بولي ،لکه:

جوړ قیامت دی په دنیا کې خو حساب او کتاب نشته
بې دغو ښو له انسانه په دې اوربل کباب نشته (3)

د پورته بیت د (کتاب او کباب) په کلمو کې خطي تجنیس راغلی دی (کتاب او کباب)

په دې عصر کې پیدا شول کاتبان
چې فرق نه کا د بتان او د بیان

***

1 د خوشحال خټک کلیات ، لومړی ټوک کابل ١٣٣ مخ
2 د کاظم خان شیدا دیوان دانش، ١٠٢ مخ
3 د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

www.pukhto.net

صداقت مې صدافت نه کړې قادره
په نصیب زما حنان کړې ستا جنان

متجانسې کلمې یې ( بتان او بیان ، صداقت او صدافت ، حنان او جنان ) دي.

چې نوم یې وشي د محرمې
خوب به په څه کا د بېغمې
په یوه ټکي محرم مجرم شي
وېره دې کاندې د مجرمې

❋ ❋ ❋

تورو زلفو مې خاطر کړ تار په تار
نه یې موم که یې غواړم نار په نار (1)

❋ ❋ ❋

بیا د مینې نوی خیال شه راته پېښ
تا خت و باخت په سر و مال شه راته پېښ (2)

## د فعلونو پرلپسېینه

هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې څو فعلونه و کاروي چې ښکلا ترې پیدا شي ، لکه خوشحال خټک چې وایي:

و خوري ، څملي پاڅي نه دې فکر نه دې ذکر
نه څه سړی نه یې دا خو یو نه حیواني دي (3)

په پورته بیت کې (وخوري، څملي، پاڅي) فعلونه راغلي دي.

❋ ❋ ❋

هم یې وینم هم یې اورم ترې تېرېږم
چې په خنګ راته برېوه کا بوبو (4)

1. عبدالحمید مومند کلیات دانش ٦٩ مخ
2. د عبدالحمید مومند کلیات دانش ٩٩ مخ
3. د خوشحال خان کلیات دانش ٣٥٣ مخ
4. د خوشحال خان کلیات لومړی ټوک کابل ١٧١ مخ



لاس تر لاس نیولې سره ګرځو کښېنو پاڅو
خپله خوشحالي هوا هوس کړو په خندا یو (1)

❋ ❋ ❋

چې وهل خوړل خوړول کا هغه بازدی یا شاهین
چې یې سوړي لره وړینه یا مېږی دی یا فاره (2)

❋ ❋ ❋

چې څه وینې چې څه اوري چې څه وایې
د سړي هغه هوا پرېوځي په زړه کې (3)

د کاظم خان شیدا خلوریزه ده:

دتاله زلفو شانه ختلې ده
هر چا لیدلې هر چا کتلې ده
هسې زیبا و پر مصفا ده
د مار له حلقه ګویا وتلې ده (4)

1. همدا اثر ١٧٧ مخ
2. همدا اثر ٢٩٩ مخ
3. د خوشحال خان کلیات لومړی ټوک کابل ٤٧٣ مخ
4. د شیدا دیوان دانش ٣٥٧ مخ

www.pukhto.net

# ترافق (هملاري)

ترافق په لغت کې یو له بل سره دوست او ملګري کېدل یا یو له بله سره په لاره یو ځای کېدلو ته وایي .په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر پکې د خپل کلام نیم بیتي په داسې بڼه راوړي چې که چرته وړاندې وروسته شي هیڅ معنوي ستونزه پکې پېښه نه شي.

**یادونه**: د ترافق د بېلګې لپاره ما کوښښ وکړ چې د کوم شاعر په شعري ټولګه کې به یې پیدا کړم خو تردې دمه په خپله هڅه کې بریالی نشوم نو بیا مې تقریباً د مسلم دوست د یو شعر پر ځمکه لاندې نظم د نوموړي صنعت لپاره پخپله ولیکه.

نیک صالح

خوږ مجلـــــس وي شکروار د نیک صالح
بې تا وانـــه کــــــاروبار د نیک صالح
خوښ هر ځای کې وي ګفتار د نېک صالح
بې خزانه وي بهـــــــــار د نېک صالح
وي بې عیبه هره چـــــــار د نېک صالح
تل ســــــــر لوړی وې منار د نېک صالح
لـــــــــــه وینا نشته انکار د نېک صالح
په نېکۍ وي پر یــــــــوار د نېک صالح
په ریښتینې وي اقــــرار د نېک صالح
تل له بدو وي انــــــکار د نېک صالح
ښه مجلس ته وي رفـــــتار د نېک صالح
په ښه خلق پسې وي زیــــــار د نېک صالح
په دوستۍ وکـــــــړئ تلوار د نېک صالح
هر سړی دې شي همــــــکار د نېک صالح



# ردالقافیه

نوموړی ادبي صنعت یوازې په نظم پورې تړلی دی ، کله شاعر د خپل کلام د لومړي نیم بیتي قافیه ددویم بیت په دویم نیم بیتي کې په یوه معنی او بڼه راوړي چې دې کار ته په ادبي فنونو کې ردالقافیه وایي ،د خوشحال خټک په غزل کې یې لید لای شو

دوې دې تورې سترګې لکه دوې تورې بلا
دوې دې تورې روځې لکه دوې توري تر ملا
بیا دې تو ر بانه ددواړو سترګو کربلا
بیا دې تـــــورې زلفـې تر ښـــــا ماروبد بلا (۱)

په پورته دوو بیتونو کې د (بلا ) کلمه د ردالقافیه په بڼه راغلی ده:
د حمید مومند په یوه غزل کې هم نوموړی صنعت راغلی دی:

شپه او ورځ مې دغه خواست دی په دنیا کې
که مې خـــــوا د هغه یار راشي په خوا کې
که جنت لیدلی نه دی پــه دنیا چـــــــــا
وصالت د یار جنت دی پــه دنیا کـــــــې (۲)

۱ خوشحال کلیات دانش ۱۲ مخ
۲ عبدالحمید مومند کلیات ۲۹۷ مخ

www.pukhto.net

# تشريع

که چرته په يوه نظم کې دوې يا درې قافيې کارول شوې وي که يوه يا دوې قافيې له نظم څخه وغورځول شي بيا هم معنی، وزن او سمه قافيه ولري تشريع يې بولي: لکه

۱ـ

څه ناورين زمونږ په کور دی　　تل ژړا د يتيمانو
د غليم راته پيغور دی　　برملا د غدارانو
پورې شوی په موږ اور دی　　هويدا د جيرانو
***
ولې دومره خاموشي ده　　په نا تار د نړيوالو
که زمونږه بېوسي ده　　انتظار د ښواحوالو
***
تپل شوی په موږ جنگ دی　　نارواخپلو منځو کې
اتفاق راڅخه رنگ دی　　شو پنا په کړاوو کې
د دښمن راته نيرنگ دی　　شا په شا په مرکو کې
***
اصالت ته موخطر دی　　داغيارو په لمسون
دې ملت ته موضرر دی　　دخونخوارو په شبخون

اوس د دو يمو نيمبيتيو قافيه ترې لرې کوو:

۲ـ

څه ناورين زموږ په کور دی تل ژړا
د غليم راته پيغور دی برملا
پورې شوی په موږ اور دی هويدا
***
ولې دومره خاموشي ده په ناتار
که زموږه بې وسي ده انتظار



تپل شوی په موږ جنگ دی ناروا
اتفاق راڅخه رنگ دی شو پنا
د دښمن راته نيرنگ دی شا په شا
***
اصالت ته مو خطر دی داغيارو
دې ملت ته مو ضرر دی د خونخوارو

اوس وروستی دواړه قافيې ترې غورځوو:

۳ـ

څه ناورين زموږ په کور دی
د غليم راته پېغور دی
پورې شوی په موږ اوردي
***
ولې دومره خاموشي ده
که زموږه بېوسي ده
تپل شوی په مونږ جنگ دی
اتفاق راڅخه رنگ دی
د دښمن راته نيرنگ دی
اصالت ته مو خطر دی
دې ملت ته مو ضرر دی

# ازدواج (جوړه)

که چرته شاعر یا لیکوال په خپل کلام کې دوې داسې کلمې ځنګ په ځنګ راوړي چې په لومړیو تورو کې سره اختلاف ولري او په ورستیو تورو کې سره یو شان وي لکه : رفیق او شفیق

په نظم کې یې بېلګه د یوې زنځیرۍ چار بیتې په کسر کې د (رنګینه ، سنګینه ) په کلمو کې لیدلای شو:

ښه سـینه رنګـینه سنګـینه د لیلې
شین یې خال دی دلال دادی حال دلیلې ([1])

د خوشحال بابا بیت دی:

هر ګز به توبه نه کـړم د ښه مخ له ننداروزه
شیخان پیران دې واوري دایم وایم په ناروزه ([1])

په پورته بیت کې د (دایم او وایم ) په کلمو کې ازواج ادبي صفت راغلی دی.

بل ځای خوشحال بابا وايي:

ددانا د کانا کــار څه نور څه نه دی
حکایت د شنه توتي او د غراب دی ([2])

[1] دخلکو سندرې ۲۳۸ مخ
[1] خوشحال کلیات دانش ۲۰۸ مخ
[2] خوشحال کلیات دانش، ۲۴۹ مخ



# واز

که چرته شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې و کاروي چې په یوه توري یې هم شونډې سره ونه نښلي (واز) ادبي صفت ورته وايي. د(اسرار) په لاندې بیتونو کې نوموړي صنعت ته اشاره هم شوې ده.

نن له ګلـشن نه چې سیلو نه لاړل
خزان وهـــلي ترې ګـلونه لاړل
اسراره شونډې د چانه جـــنګوي
داسې له خولې نه دې شعرونه لاړل ([1])

په پښتو ولسي ادب کې یې لاندې زنځیرۍ چاربیته ښه بېلګه ده:

ښه ســینه رنـګینه سنــګینه دلیلې
شین یې خال دی د لال دادی حال دلیلې

***

قلندر ستا ددر هر ســحر دې جانان
ټیک د سر، دی سره زر ،ښه نظر ، دجانان
خزانه نازدانـــــه جـانانه کـه ګـیلې
ښه سیـــنه رنـــګینه سنـــګینه د لیلې
نن یې شال دی کشال زانګي خیال دلیلې
شـــــین یې خال دی دلال دادی حال دلیلې

***

ښه غــړې داګـــړې ښــه دړې یې د سر
رنـګ ژړې سرې کړې شال شــړې یې د سر
سخـــت کیــنه زنـــانه که اینه تجلې
ښه سینه رنـــګینه سنــــګینه دلیلې
ته هر کال کړې جنــجـال تـل دیاره ګیلې
شین یې خال دی دلال دادی حـــال دلیلې

[1] زرکاڼی

www.pukhto.net

له شیطان ساته ځان چې اسان دې شي کار
هر انسان چې خزان شي اسان یې شي کار
اګانه دیګانه یګانه ځان تلې
ښه سینه رنګینه سنګینه دلیلې
اس دې نال کړالحال څه کړې حال تسلې
شین یې خال دی دلال دادی حال دلیلې ([1])

د پورته چاربیتې په یوه توري هم شونډې سره نه یو ځای کېږي

## ذوالقوافي (باراني)

که چرته په یوه نظم کې له دووقا فیو څخه ډېرې راغلې وي ذوالقوافي ادبي صنعت ورته وایي
نوموړی ادبي صنعت په دوه ډوله کارول کېږي:
۱ ـ کله شاعر د قافیې یوه کلمه په نیم بیتي کې څوځله پرلپسې تکرار راوړي. لکه د خوشحال خټک لاندې غزل:

مست یم مې پرست یم رندي کړمه کړمه کړم
واوره محتسبه باده خورمه خورمه خورم
نور شراب مې واړه نور عالم وته بخښلي
لام وبې مې مې دي پسې مرمه مرمه مرم
موړ به ځنې نشم زه د میو مستسقي یم
تل که هسې ډکې پیالې ښمه ښمه ښم
لار د محبت ده تل به روغ سلامت نه یم
زه چې په داهسې لارې تلمه تلمه تلم
دود د عاشق دا دی چې په عشق کې ملامت وړي
ځکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وړم ([2])

[1] د خلکو سندرې ۲۳۸ - ۲۳۹ مخونه
[2] د خوشحال خان خټک کلیات دانش ۹۳ مخ



۲ ـ کله شاعر په خپل کلام کې له یوې څخه ډېرې قافیې په کاروړي ، چې دې ډول صنعت ته هم ذوالقوافي وایي. په دې کې برخه کې هم د بېلګې په ډول یوه زنځیرۍ چاربیته راوړوو:

کله به راوړې دواړه لبې دې رنګین شیرین
سپین دې جبین زرین مخ دې ځلېږي
***
کله به راکړې دواړه لب شات او ملهم صنم
مه کړه ستم هر دم په غضب ښورې
سرې دې منګولې همیش وړې زړونه قلم قلم
اخلې قدم په چم سترګې دې تورې
په دردې پروت یم همیش غواړم ستا کرم محکم
لرې کړه غم الم که رب ته ګورې
نن دې په غاړه باندې زانګي لونګین رنګین
سپین دې جبین زرین مخ دې ځلیږي
***
کله به راوړې لنډۍ زنه لکه قند که خوند
ستا په کمند شوم بند یمه کاسیر
باڼو دې غشي د لیندۍ کوي خدنګ غورځنګ
راشه پر ځنګ یو درنګ زه یم دلګیر
نن دې په غاړه بآندې زانګي تور لونګ قشنګ
زه شوم ملنګ پتنګ صورت زهیر
شینکی دې خال دی پاس په تخت پادشاه چین ماچین
سپین دې جبین زرین مخ دې ځلېږي

www.pukhto.net

***

دلګیره مه شه خولــــــه مې شــه تر تا قربان جانان
دا سره لبـــــان په شـــــان د قـند لـــــــرمه
حسن مې ډېر دی هنــــــګامه یې په جـهان عـیان
ابرو کــــــمان زلـــــفان کـــــمـــــند لرمه
ښه راته وګـــــوره چې څه ښه مې دی شان دوران
در مې دنــــــدان مـــــــــرجان د هند لرمه
د ښکلو نجونو شـــــــنه خالونه پر جبین سنګین
سپـــــین دې جبـــــین زریـــن مـــخ دې ځلېږي

***

کــــــله به راوړې سـپینه خوله د شکراب ګلاب
مـــــزه د نـــــاب شـــــراب په شان کوینه
زلفــې دې زانـــــګي پر سینه دې پېچ و تاب تناب
ساز د ربــــــــاب دولاب اواز* کـــــــوینه
ژیړ دې پیــــــزوان دی د زاهد غریب قصاب جلاب
ستا د نـــــــقاب د بـــــــاب بیـــــان کوینه
په در دې پـــــروت یم همېشه یمه خواشین غمګین
سپیـــــن دې جــــــبین زرین مـــخ دې ځلېږي ([1])

د پورته زنځیرۍ چاربیتې په هر بند کې ګورو چې شاعر په ډېر مهارت له یوې څخه ډېرې قافیې کارولې دي.

* قافیه نیمګړې ده.
[1] د خلکو سندرې ۲۳۹ - ۲۴۰ مخونه



# تسمیط

په لغت کې یو شی د اس په فتراک پورې تړلو ته وایي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې یو بیت په څلورو برخو وویشل شي لومړۍ درې برخې یې په سجع کې یو شان وي او قافیه یې بیله سجع وي. لکه د خسرو لاندې بیتونه:

زه سوخـــــته سینه کباب یم تش ګوګل لکه رباب یم
زه په لاس کـــې د قـــــصاب یم ای صنم شه مهربانه
د مجنون په شان فریاد کړم ستا څېره چې را په یاد کړم
زه ستا مـــــینې نامراد کــــــړم شوم ستي لکه پروانه ([1])

له پورته بیتونو څخه د لومړي بیت (رباب ، کباب، او قصاب ) په خپل منځ کې هم قافیه دي او ددویم بیت (فریاد ، یاد او نامراد ) هم قافیه کلمې دي. همدارنګه د لومړي بیت وروستۍ کلمه (مهربانه ) او ددویم بیت وروستۍ کلمه ( پروانه ) سره هم قافیه دي.

# شبه اشتقاق

اشتقاق په ژبه کې د سورې کولو په معنی دی او اقتضاب د ځانګې د پرې کولو معنی ورکوي. د بدیع په اصطلاح که چېرته لیکوال په خپله لیکنه کې داسې کلمې راوړي چې د هغوی تر منځ تجانس او تشابه وي. نوموړي اشتقاق ته اقتضاب او جناس اشتقاق هم وایي.

نوموړی تجانس او تشابه په دوه ډوله ده:

۱ - ځینې وخت دوه داسې کلمې د اشتقاق په بڼه راغلې وي ، چې ریښه یې یوه وي لکه په لاندې بیت کې:

څوذکــر څو مذکور کـــړې تل زما د ګمراهیه
انصاف ښه دی زاهده ! زه مخلوق یم خالق نه یم.([2])

[1] د خلکو سندرې ۲۴۵ مخ
[2] خوشحال کلیات ، دانش ۸۵ مخ

www.pukhto.net

په پورته بیت کې د ( خالق او مخلوق ) کلمې له خلقت څخه ( مشتق ) شوې دي.

۲ - دویم ډول یې هغه اشتقاق دی ، چې دوې کلمې له یوې ریښې څخه مشتق شوې نه وي. مګر څرګنده داسې بریښي چې له یوې ریښې څخه مشتق شوې دي.
دې ډول اشتقاق ته ایهام اشتقاق هم وایي.
لکه دعبدالرحمن بابا په لاندې بیت کې (د بیسیار خوار ) او (بیسیار خوار ) کلمې:

کم خوراک سړی نژدې شي پرښتوته
هر سړی چې بیسیار خوار شي بیسیار خوار شي (۱)

په پورته بیت کې (خوار ) د ( خوړل ) له مصدر څخه رابیل شوی دی او ( خوار ) دډنګر ( ضعیف او ناتوانه ) په معنی راغلی دی، چې ستا ینوم دی.
د خوږ دل په لاندې بیت کې یې هم کتلای شو:

چې کوتل کا په کتلو هم تبل کا
په هغه تېغ ومرهم باندې مین یم

(کوتل) د ژوبل په معنی دی چې څرګنده د (کتل ) له کلمې سره په ریښه کې یو شان بریښي مګر دواړه بېل بېل مصدرونه دي.

## اقتفاء

په ژبه کې اقتفاء په چاپسې کېدلو او یاله چا څخه پیروي کولو په معنی ده او په اصطلاح کې که کوم شاعر د کوم بل شاعر د نظم په وزن اود همغه د نظم په ډول قافیه د خپل خیال لپاره غوره کړي. اقتفاء ورته وایي.
سید افضل شېرزاد د حمید مومند په یوه غزل اقتفاء کړې ،چې دلته لومړی د حمید مومند دغزل دوه بیته راوړو او بیا د شېرزاد غزل راوړو.

شو څلي مې درته شیرې کړ ګرېوان خپل
وادې نه ړول له مانه رقیبان خپل

۱ د رحمان بابا دیوان کابل ۲۳۰ مخ



بې له دې چې راته تا کا په ښکنځلو
نور مې هېڅ نه شوه په کار ځار و قربان خپل (۱)

****

دا چې تا رانه پردی کړلو ارمان خپل
ګرځوم به په کوڅو څیري ګرېوان خپل
زمانې ستا له نادو دو اسمان ژاړي
لږ د مینې غېږ کې نیسه یتیمان خپل
وخته مه مې ځوروه لږ رحم وکړه
تا بې جرم رانه بیل کړلو جانان خپل
د امید په تندې بل د مینې اور دی
لو لپه به کړمه واړه رقیبان خپل
د خزان سپېره بادونه پرې رامه شه
په سرو وینو به خوب کړم ګلستان خپل
که اغېز زما اهونو پرې ونه کړ
رود د اوښکو به په مخ کړمه روان خپل (۲)

## رد المقطع

که چرته شاعر د خپل نظم د لومړي بیت یوه مسره (نیم بیتی ) دهمغه نظم په مقطع کې تکرار راوړي ، رد المقطع ادبي صنعت ورته وایي لکه د عبدالقادر لاندې غزل:

دا وینا مې د ناروغ زړګي شافي ده
یوه زړه لره یوه مینه کافي ده
په ازل یې زما درد دنورو صاف کړ
له ساقي سره زما سینه صافي ده
چې له نورو د انصاف طمعه لرینه
په مذهب زما همدا بې انصافي ده
سخندان به یې په کومه خوله بیان کا
ستاد خولې تشبیه راوړه موشګافي ده

۱ د عبدالحمید مومند کلیات ، ۱۳۳ مخ
۲ ستړي مزلونه ۱۳ مخ

www.pukhto.net

دزر بفـــتو پــــه اودوبـــه څــــه پوهېږې؟
چې پېشه يې همــــيشه خــــمتا بافي ده
هيڅ پيغور د عــــصيان مــــه کوه وماته
ترګناه مې ددوســـت زيــاته معافي ده
مرد يې مه ګڼه چــــې لافې بې کردې کا
مرد کرده بې لافـــــو کا، ښځه لافي ده
خو همدا عبدالقادر ته بــــــيا بيا وايه
يوه زړه لــره يوه مــــينه کـــافي ده (١)

١ عبدالقادر خټک ديوان کابل ١٧٨ - ١٧٩ مخونه



# شپږم څپرکی

## معنوي ښکلاوې

د بديع د علم هغه ډول دی، چې د کلام ښکلا په معنی پورې اړه ولري. بېلګې يې لاندې راوړل کېږي.

## طباق الاضداد

طباق په لغت کې يو ځای کولو ته وايي. په اصطلاح کې طباق الاضداد هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې دوې مخالفې معناوې راوړي، نوموړي صنعت ته تضاد، تناقض، تقابل او مطابقت هم وايي. په درې ډوله دی.

١. **نوموال طباق**: که چرته طباق د دوو نومونو يا صفتونو تر منځ موجود وي. نوموال طباق يې بولي لکه:

اوښکې مې له سترګو رابهېږي په خندا کې تل
ژاړم په خـــنداکــې کـــه خــندا کې په ژړا يمه (١)

د پورته بيت د (ژړا او خندا) په کلمو کې نوموال طباق موجود دی.

ښه و بد حق و ناحق چې مـــعــــلوم نشي
تــوره شـــــپه ده ورتــــه مــــــه وايه سبا (٢)

د پورته بيت د (ښه او بد، حق او ناحق، شپه او سبا) په کلمو کې نوموال طباق موجود دی.

١ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
٢ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې

www.pukhto.net

په دوستۍ کې د ښمنې خوغـداري ده
که ښه نوم ورباندې ږدې نو هوښیاري ده
بد ښــــه کــېږي ښــه بد ېږي پــه خبرو
په وینا کـــې خــو هــمدغه ســـاحري ده (١)

د پورتـه څلوریزې د (دوسـتۍ او دښـمنۍ ، بـد او ښـهٔ ) پـه کلمـو کـې نوموال طباق راغلی دی.

اور اوبو سره دې کار دی په خوږو ترخو ژوندی یې
صلح کل شه !د اضـدادو خـــاندان سره اشـنا شه (٢)

د پورتـه بیت د (اور ، اوبـو او خـوږو ، ترخـو ) د کلمـو تـر مـنځ نومـوال طباق راغلی دی.

ځمکه یم ورتلی نشم اسمان به راځي ما پسې
زه د للمې ګـل یمه بـــاران به راځي ما پـسې (٣)

یا لکه د کامګار په لاندې بیتونو کې:

مه کړه خدای چې ستا په بدو به مـــلال شم
بلکې زه یې سعادت ګڼم خو شـــــحال شم (٤)

یا لکه:

که پـــه نورو دې زړه نـرم لـــــکه موم دی
په ما خوار باندې دې سخت لکه سندان کړ (٥)

سترګې څه وکړي جانانه چې څه نشته بې له تانه

---

١ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
٢ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
٣ مرور نازونه ، شیرین زوی
٤ کامګار ختک دیوان ، کابل ٦٧ مخ
٥ کامګار ختک دیوان ، کابل



که تیـــاره ده که رڼا ده بـــس همدغه زه او ته یو (١)

***

ناداني مې غلبه په هوښیارۍ شوه
ملغلرې په دریاب کې تویومه (٢)

***

څو خبر په قباحت نشي انسان
نېک وبد ، هوښیار نادان ګڼي یکسان (٣)

***

غم ښادي سره تړلي دي له ځایه
هغه هومره به وژاړې څو وویاړې (٤)

***

که ظاهر ښکلې زیبا لیده شي څه شو
په بـــاطـــن توره بلا ده دا دنیا (٥)

***

ماهم زده چې سر د وصل بهانه دی
ته قـبول کـړه دا قلیل کثیر له ما (٦)

***

که خبر شې په لذت د ویرانۍ
اوربه پورې کړې په خپلې ودانۍ (٧)

---

١ جانانه ستا تر دره څنګه درشم ٨ مخ
٢ د خوشحال خان کلیا ت کابل لومړی جلد ١٤٤ مخ
٣ د خوشحال کلیات کابل لومړی جلد ١٥٧ مخ
٤ د خوشحال کلیات کابل لومړی جلد ٤٤٣ مخ
٥ عبدلحمید مومند کلیا دانش ٣ مخ
٦ عبدالحمید مومند کلیات ٢١ مخ
٧ عبدالقادر ختک دیوان کابل ٣٦٥ مخ

www.pukhto.net

**ب: کړوال (فعلي) طباق:** که چرته طباق ددوو فعلونو تر منځ راغلی و ، کړوال طباق يې بولي لکه:

خدای خبر چې سازول که ورانول کا
مګر خاورو ګټو باندې مشغولا شته (١)

طباق د (سازول او ورانول) په کلمو کې راغلی دی ، چې دواړه فعلونه دي.

ټولول کېښول د زرو ښـــــــځې کاندي
ورکول بازل يې خوی خصـــــــلت د نرو (٢)

طباق د (ټولول ، کېښول او ورکول ، بازل) په کلمو کې راغلی دی چې څلورواړه فعلي مصدرونه دي.

که هر څـو پـه جـــارو پاڅي په جار کښېني
چې د بل په در کـــې کښېني په دار کښېني

طباق د (پاڅي او کښېني) په کلمو کې راغلی دی چې دواړه فعلونه دي.
په لاندې بيت کې نوموال او کړوال طباق ګډ راغلي دي:

بېګاه په خوب کې يو ماشوم راته پيغام راوړی
چې مو له کلي نه چا ورځ وړې ماښـــام راوړی (٣)

١: د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
٢ عبدالقادر خټک ديوان کابل ١٣٧ مخ
٣ جانانه ستا تر دره څنګه درشم ٦٦ مخ



**٣. ايجابي او سلبي طباق:** ايجاب پـه لغت کې د قبلولـو پـه معنـی او سلب په لغت کې د منفي په معنی دی په ادبي اصطلاح کې هغه طباق دی چې ددوه داسې فعلو تر منځ وي ، چې لـه يوې مـادې څخه د مثبت او منفي پـه ډول راغلی وي ، لکه:

ستر ګې کړه خلاصې چې نور څه کوې او ته څه کوې
بل ته کشمير مه ګــــــــته پاڅـېږه خـپل ځان وګټه (١)

طباق د (مه ګټه او وګټه) په کلمو کې راغلی چې دواړه له يوې مادې څخه دي.

د يزيد فرمان مني او نه مني د خدای قران
د اسلام منبر ته وخوت خجالت د مسلمان (٢)

طباق د (مني او نه مني) په کلمو کې راغلی چې دواړه له يوې مادې څخه دي.

که دوی ستا په رضا درومي يا نه درومي
ته هر کار کړه په اقوال د ښو يارانو (٣)

❋❋❋

اوره مه اوره وينه مـه ويــــنه حميده
د ړندو په کلي کور عالم ځان کور کا (٣)

په لاندې بيت کې ايجابي او نوموال طباق ګډ راغلی دی:

کله نېشت يو کله شته يو کله هېڅ يو کله هر څه
که فـــنا ده که بــقــا ده بس همدغه زه او ته يو (٤)

١ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
٢ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
٣ خوشحال خان خټک کليات کابل ، لومړی ټوک ١٧٦ مخ
٣ خوشحال خان خټک کليات کابل لومړی جلد ١٧٦ مخ
٤ د عبدالحميد مومند کليات دانش ٢٥ مخ

www.pukhto.net

# مقابله

مقابله هم په اصل کې د طباق الاضداد يو ډول دی. په دې ادبي صنعت کې تقابل د دوو جملو يا دوو مسرو د کلمو د معناوو تر منځ پېښېږي، لکه:

چې په توره مري شهيد دی هغه نه بې پردې کېږي
چې بې تېغه وي مړ شوی په تخته باندې لوڅېږي [1]

د پورته بيت يو نيم بيتی د بل نيم بيتي په مقابل کې د تضاد په ډول واقع شوی دی.

ښه اشخاص زاړه لباس کې وي بې قدره
بد سړی په ښه لباس شي عاليقدره [2]

د پورته بيت يو مسره د بلې په مقابل کې تضاد واقع شوې ده.

ډېر پورته ګورم چې د پلار نيکه تاريخ ته ګورم
ډېر ښکته ګورم چې خپل تيت ژوند او روزګار ته ګورم [3]

***

ماشومان دي چې لوېږي کال په کال
مونږ زاړه هر کال له بل کاله ټيټېږو [4]

***

منور مې مخ په نور د طاعت نه شو
زړه مې تور په معصيت شو لکه سکور [5]

***

جاهلان دي په مثال د مردګانو
عالمان دي په مثال د مسيحی [6]

---

[1] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[2] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[3] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[4] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[5] پير محمد کاکړ ديوان نوی چاپ ٦٥ مخ
[6] د رحمان بابا کليات دانش ١٠٨ مخ



هسې مال را مه کړې چې بې ځای وي تر زړه کښته
هسې اموال را کړه چې بې ځای د زړه له پاس وي [1]

***

د روغجن به همېشه وي په خزان کې
د ريښتينو په مخ هر کله بهار ځي [2]

***

په راحت کې په دولت کې ياری ډېرې
په محنت کې په زحمت کې ياران چېرې [3]

***

لکه قند هسې دروغ ورته خواږه شو
لکه زهر هسې تو کړه رښتيا خلک [4]

***

کله وريږې کولمې ښښتې
کله مور تر حلقه ډک [5]

***

نابينا په خپله سيمه کې بينا وي
بينايان په پردې ملک شي کر و کور [6]

***

په خندا په هوس تله شي و دوزخ ته
په ژړا په غم په لوري د بهشت [7]

***

په ژړا ژړا مې زړه له ښکليو خلاص و
په خندا خندا يې نن راخخه يو وړ [8]

---

[1] د خوشحال کليات لومړی ټوک کابل ٨٦ مخ
[2] همدا اثر ٤١٧ مخ
[3] د خوشحال کليات لومړی ټوک کابل ٤٣٢ مخ
[4] عبدالحميد مومند کليات دانش ١٢٢ مخ
[5] همدا اثر ١٣٠ مخ
[6] عبدالرحمن بابا ديوان پښتو اکيډمي پېښور ٢٠٧ مخ
[7] عبدالقادر خټک ديوان کابل ٤٤ مخ
[8] عبدالقادر خټک ديوان کابل ٦٤ مخ

www.pukhto.net

# ایهام (توریه)

ایهام په لغت کې په وهم او ګومان کې اچولو ته وايي او توریه په لغت کې د حقیقت پټولو ته وايي، په اصطلاح کې ایهام یا توریه دې ته وايي، چې شاعر په خپل کلام کې دوې یا زیاتې معنا لرونکې کلمې راوړي، چې د لوستونکي یا اوریدونکي ذهن نامقصودې نژدې څرګندې معنی ته لاړ شي، مګر مقصوده معنی یې بله وي په درې ډوله دی:

الف - مجرد ایهام: که چرته له نژدې یا لرې معنی سره مناسبې کلمې راغلې نه وي، یا په یوه بیت کې د دواړو معناو لپاره اړوندې کلمې راغلې وي په دواړو صورتونو کې مجرد ایهام ورته وايي.

کښت د عشق په توده ځمکه امان نه دی
سمندر بویه چې زیست کا په صحرا زما [1]

د (سمندر) نژدې نامطلوبه معنی بحر دی، دویمه لرې معنی یې د (اور چینجی) دی، چې همدا مراد ده، په بیت کې د (سمندر) متناسبې کلمې نه دي راغلي ځکه یې مجرد ایهام بولي.

که یو ځله توري زلفې کړې پرېشانې
خاکستر به په چمن کې کشمالو کړې [2]

په پورته بیت کې د (پرېشانې) نژدې نامطلوبه معنی (خفګان) دی او لرې معنی یې (خورول) دي چې همدا مراد ده. دا چې د(پرېشانې) له نژدې او لرې معنی سره هېڅ مناسبه کلمه نه ده راغلې ځکه یې مجرد ایهام بولي.

---

[1] د رحمان بابا دیوان کابل ۲٤ مخ
[2] دیوان عبدالرحمن بابا پېښور ۹۷ مخ



ب- مرشح ایهام: که چرته له نژدې نامطلوبې معنی سره متناسبې کلمې راغلې وي، مرشح ایهام ورته وايي، لکه:

چې ورته بل نیسي او به نور یې بې ابه غواړم
وینو ته تږى زه دداسې بادارانو یمه [1]

د (بې ابه) نژدې معنی (بې اوبو)ده، بله معنی یې (بې عزتي) ده چې همدا مراد هم ده. د (بې ابه) متناسبې کلمې (اوبه او تږی) دي.

چې نهان ستا قامت شي سروقده
د قمرۍ په دود مې زړه وايي کوکو

د (کو کو) نژدې معنی د قمرۍ همغه اواز دی، چې نژدې متناسبې کلمې یې (قمرۍ او سروه) دي. د کلمې مطلوبهٔ معنی د فارسۍ (کجاست؟) یعنې نې (چرته دی) ده.

چې ورو ښود ښکلي مخ خط د بخښنې
اوس مې زړه ورسره کانا حق جګړه [2]

په پورته بیت کې د (خط) دوې معناوې دي، نژدې معنی یې(لیک) دی او دویمه معنا یې د ږیرې تر تو کېدو وړاندې پرخ د وېښتو د پشم څرګندېدل دي، چې دلته همدا معنی ترې مراد ده.

له نژدې نامطلوبې معنی سره مناسبې کلمې (ښودل او بخښنه) کلمې دي.

ج- مبینه (څرګند) ایهام: که چرته له مطلوبې لرې معنی سره متناسبې کلمې راغلې وي مبینه ایهام ورته وايي

په عمرو اورونه بل په یوه ځای وي
څو پیدا په سرو لمبو کې سمندر شي [3]

په پورته بیت کې (اور او سرې لمبې) د مطلوبې لرې معنی متناسبې کلمې دي.

---

[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[2] د عبدالحمید مومند کلیات دانش، ۲۲٤ مخ
[3] الفت د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

www.pukhto.net

# ایهام تضاد

ایهام په لغت کې په وهم او گمان کې اچولو ته وايي. په اصطلاح کې ایهام تضاد هغه ادبي صنعت دی، چې دوې نامتقابلې معناوې په دوو داسې کلمو کې راوړل شي چې د هغوی ځرگندې او حقیقي معنا وې یو له بله سره متقابلې راغلې وي.

زړه مې تور شو له هر چانه شوم سپین په عاشقۍ کې
نه شوم سپین په عاشقۍ کې زړه مې تور شو له هر چا (۱)

د پورته بیت (د تور او سپین) په کلمو کې ایهام تضاد ادبي صنعت رغلی دی (تور) په پورته بیت کې د (بېزاره) په معنی او (سپین) د (سپېڅلتیا) په معنی کارول شوی دی، چې (بېزاره او سپېڅلتیا) په خپل منځ کې هېڅ ډول تضاد نه لري، همدارنگه د (تور او سپین) ځرگندې حقیقي او نا مطلوبې معناوې سره یو دبل متقابلې دي.

یا د مې هغه وخت دی چې په شپه به سره ناست و
شمعې به ژړا کړه سراحي به خندیدله (۲)

د پورته بیت د (ژړا او خندیدله) په کلمو کې نوموړی صنعت راغلی دی. په پورته بیت کې (ژړا) د شمعې (ویلې کېدل) او ښکته (رابهیدلو) په معنی او (خندیدله) د سراحي هغه اواز دی چې د اوبو یا شرابو د را اچولو په وخت یې کوي. چې په دې اړه ددې معناوو (ژړا – خندا) تر منځ هیڅ تضاد نشته مگر که د کلمو ځرگندو حقیقي نامطلوبو معناوو ته پام وشي یو دبل ضد ښکاري.

لکه گل چې د شبنم په ژړا خاندي
هسې رنگه مې واه واه که په وای وای دوست (۳)

د پورته بیت د (گل په خندا او د شبنم په ژړا) کې ایهام تضاد ادبي صنعت راغلی دی.

---

۱ لکچر نوټ
۲ لکچر نوټ
۳ حمید، رنگ وبو قافله ۹٤ مخ



د گل له (خندا) ځخه مراد د هغه غوړېدل دي او د شبنم له (ژړا) ځخه مراد د هغه لوندوالی دی. چې په خپل منځ کې یې هېڅ ډول تضاد نلري، مگر د (خندا او ژړا) ځرگندې نامطلوبې معناوې یو دبل ضد دي.

## پټ ایهام تضاد

که چرته تضاد ددوو داسې کلمو تر منځ وي چې ځرگندې نامطلوبې معناوې یې سره یو دبل ضد نه وي او مطلوبې ناځرگندې معناوې یې سره تضاد ولري. لکه:

لکه گل چې د شبنم په ژړا خاندي
هسې رنگه مې وه وه که په وای وای دوست (۱)

د پورته بیت د (وه وه) او (وای وای) په کلمو کې پټ ایهام تضاد ادبي صنعت پروت دی، د (وه وه) معنی (خوشحالي) او د (وای وای) معنی خفگان ده چې همدا پټه معنی (خوشحالي او خفگان) یې یو دبل ضد واقع شوې دي او ځرگندې معناوې یې یو له بل سره هېڅ تضاد نه لري.

سپین یم په خاطر کې په تحقیق د یار له مخه
خلکو ته بدنام د تورو زلفو په سودا یم (۲)

د پورته بیت د (سپین او بدنام) په کلمو کې پټ ایهام تضاد ادبي صنعت راغلی دی. (سپین) د (سپېڅلتیا) په معنی او (بدنام) د (چټل) په معنی راغلی دی، چې یو دبل ضد دي. (سپین او بدنام) کلمې کوم ځرگند تضاد سره نلري.

---

۱ د عبدالحمید مومند کلیات ٤۸ مخ
۲ علي خان رنگ وبو قافله ۲۷۱ مخ

www.pukhto.net

## ایهام تناسب

که شاعر په خپل کلام کې داسې کلمه راوړي چې دوې معناوې ولري. یوه نژدې چې د شاعر مراد نه وي او بله لرې چې دشاعر مراد وي، اوبیا له نژدې معنی سره ( چې د شاعر مراد نه ده ) د کلام نورې کلمې تناسب ولري، ایهام تناسب ورته وایي.

لکه:

منتظر ستا د ګفتار دی شیدا بزم
چې بل امر مینا نه کا بې قلـــقله ([1])

په بیت کې د (قل)نژدې معنی (وایه ) په معنی دی، چې دلته مراد نه ده ، بلکې د منګې(سراحي ) هغه اواز ترې مطلب دی، چې د اوبو یا شرابو د تویېدو په وخت کې یې کوي. همدارنګه د(قل) له نژدې معنی (وایه ) سره متناسبې کلمې (ګفتار، بزم ، امر او مینا ) راغلې دي.

د ښیښې قلـــقل سرود دی د مستانو
مســتغني لــه دف و چــنګه دی له نایه ([2])

په پورته بیت کې بیا هم د (قلقل) نژدې معنی (وایه ، وایه) دی چې دلته مراد نه ده او لرې معنی یې همغه د شرابو د راتویېدو پر وخت اواز دی چې دلته ترېنه همدغه معنی مراد ده.

د قلقل له نژدې معنی سره نورې متناسبې معناوې (سرود ، مستان، دف، چنګ او نای ) دي.

په محفل کې د مینا یوه ګړی
په دا ډکه خوله خندا وګوره درومه ([3])

---

[1] کاظم خان شیدا دیوان دانش ۲۰۴ مخ
[2] عبدالقادر ختک دیوان کابل ۲٤۳ مخ
[3] کاظم خان شیدا دیوان دانش ۲۰۸ مخ



## ایهام او تجنیس

کله ځینې کلمې د ایهام په بڼه په کلام کې کارول کېږي چې د هغې کلمې چې ایهام پکې واقع شوی دی لرې معنی په کلام کې د بلې کلمې په مقابل کې د تجنیس بڼه غوره کوي

د علي خان بیت دي

یو زه ژوبل نه یم د خوبـــانو په ابروی
ډېر به یې په در کې بې ابروی ووینم زه ([1])

ابروی ( د مخ اوبه ، وروځې او عزت ) معناوې لري، چې د پورته بیت د لومړي نیم بیتي ( ابروی ) کلمه د ( وروځو ) په معنی راغلې ده او په دویم نیم بیتي کې د ( عزت ) په معنی کارول شوې ، چې په دې سبب د ( ابروی ) په کلمه کې پر ایهام سربېره، تجنیس ادبي صنعت هم ملګری شوی دی.

خوشحال خټک لیکي:

دوه شپېته کالو نه په حساب لـــــــــــرم خپل عمر
تورو ښېــته مې سپین شول لا مې زړه نه دی هېڅ سپین ([2])

د ( سپین )کلمې نژدې معنی ( سفید ) ده ، مګر په دویم نیم بیتي کې د ( سپین ) کلمه شاعر د ( سپیڅلتیا ) په معنی کارولې نو ځکه یو ( سپین ) د بل ( سپین ) په مقابل کې د تجنیس بڼه غوره کړې ده .

---

[1] دیوان علي خان ، ۷۳ مخ
[2] د خوشحال خټک کلیات ، لومړی ټوک کابل، ١٦٥ مخ

www.pukhto.net

# مراعات النظير

مراعات په لغت کې د ساتلو په معنی دی او نظیر په لغت کې د مثل او مانند په معنی دی. په اصطلاح کې که شاعر په خپل کلام کې څو متناسبې معناوې راوړي مراعات النظير ورته وايي.

نوموړي صنعت ته تناسب، تلفيق *، توفيق او ايتلاف هم وايي لکه:

څه طوفانونه د شورى خړه فضا کې وينم
تندر ړلى، سيلاب سيلى، رعد وبريښنا کې وينم [1]

په پورته بيت کې (طوفانونه، خړه فضاء، تندر، ړلى، سيلاب، سيلى، رعد او بريښنا) متناسبې کلمې راغلې دي.

زما په باغ کې څوک مېوې ونې اوبه نه مومي
وچه بيديا ده زه پکې خيالي ګلونه لرم [2]

په پورته بيت کې (باغ، مېوې، ونې، اوبه او ګلونه) متناسبې کلمې راغلې دي.

سيند د اوښکو مې موج وکړو ګوره څه شي
د يار خيال مې ناست د سترګو په جاله کې [3]

***

د ښايست مرغه يې د خط په پرو والوت
د عاشق په زړه يې وه نرمه هوا راغله [4]

***

ګل و مل يار و ساقي ساز و غزل دى
ځکه ماته له ځوانيه هوا راغله [5]

* ترتيبول، يوبل سره تړل
[1]، [2] الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
[3] د کامګار خټک ديوان کابل ۱۴۷ مخ
[4] ديوان علي خان ۱۴۳ مخ
[5] لکچر نوټ



نورې ښېلګې يې دا دي:

تورې سترګې تورې روځې تورې زلفې
دا همه تورې بلا دي زه يې خوار کړم [1]

***

داد غم کښتى چې ګرځي په درياب کې
يو ورځ به يې زرې زرې نهنګ کا [2]

***

چې ما زهد تقوى طاعت بندګي لره څوک بولي
زه کله ستا له عشقه وبل کار وته وزګار يم [3]

***

د کمذات ياري به هېڅ وفا ونه کا
لا په تېره بې نمازان او مې خواران [4]

***

نه شکرې دي نه قند دي نه نبات دي
د شهې د شونډو لا ګوښې بل خوند دى [5]

***

لګي لا د خط په وخت د يار عتاب سخت
وي د شپې باد وباران سيلې سيلاب سخت [6]

[1] د خوشحال کليات لومړى ټوک کابل ۳۳۱ مخ
[2] همدا اثر ۳۳ مخ
[3] همدا اثر ۱۱۹ مخ
[4] همدا اثر ۱۶۳ مخ
[5] همدا اثر ۳۱۷ مخ
[6] عبدالحميد مومند کليات دانش ٤٧ مخ

www.pukhto.net

# لف و نشر

لف په لغت کې راټولولو او نشر خورولو ته وایي، د ادبي فنونو په اصطلاح لف و نشر هغه ادبي صنعت ته وایي چې شاعر په یو نیم بیتي یا بیت کې ځینې مطالب د اجمال په ډول راوړي او بل نیم بیتي یا بیت کې یې تفصیل ورکړي په دوه ډوله دی:

۱- مرتب لف و نشر: که چرته تفصیل له اجمال سره په ترتیب کې برابر وي ، مرتب لف و نشر یې بولي ، لکه:

یو مې بولي خانقا بل خرابات ته
خبر نه یم له ثواب او له عذابه (۱)

په پورته بیت کې (خانقا او خرابات ) د اجمال په ډول راغلي دي ، چې د (خانقا ) تفصیل په (ثواب) او د (خرابات) تفصیل په (عذاب) سره شوی دی.

چې اساس قبیلوي وي او احساس خانداني وي
په اولس یې نظر نه وي په خپلوانو وي زهیر (۲)

د پورته بیت (اساس قبیلوي او احساس خانداني) په لومړي نیم بیتي کې د اجمال په ډول راغلي دي، چې په ترتیب سره د (اساس قبیلوي) تفصیل په (په ولس نظر نه لرل) او د (احساس خانداني) تفصیل په (خپلوانو وي زهیر) سره شوی دی.

له یوه پښتنه رڼا او لوګی دواړه
د یوه مخ منور او د بل تور (۳)

په پورته بیت کې (رڼا او لوګی) د اجمال په ډول راغلي دي ، چې په دویم نیم بیتي کې د (رڼا ) تفصیل په (منور) او د لوګي تفصیل په (تور) شوی دی.

۱ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۲ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۳ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې



سپوږمۍ

ارمانونه افسوسونه حسرتونه
د مینو د غمجنو د خوارانو
غفلتونه لغزشونه مکېزونه
د مشرانو دمستانو د خوبانو
چپاونه یرغلونه شورشونه
د چنګېز دسکندر د پرنګیانو
د ې هېواد کې تالیدلي دغه واړه
ته دهر چا په سر باندې یې ولاړه (۱)

۲- نامرتب لف و نشر: که چرته تفصیل له اجمال سره په ترتیب کې برابر نه وي نامرتب لف او نشر یې بولي لکه:

که رڼا د ه د ښکلا ده یا د علم
سخ د هغه چې دا ناوي یا لیلی وي (۲)

د پورته بیت په لومړي نیم بیتي کې د(ښکلا او علم)کلمې د اجمال په ډول راغلي دي ،چې د ښکلا تفصیل په (لیلی )او د علم تفصیل په(دانا )شوی دی.

تقاضا د جګ او ټیټ نه وي یو شان
راشه وګوره باغبان او پا لېزیان
یو ټیټ بوټي ته مېوې پسې ټېټېږي
بل جګ ښاخ ته دمېوې لوړوي ځان ( ۳ )

۱ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۲ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۳ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

www.pukhto.net

د پورته بیتونو په دویم نیم بیتي کې(باغبان او پالیزیان)داجمال په ډول راغلي، چې د باغبان تفصیل په څلورم نیم بیتي شوی او د پالیزیان تفصیل په دریم نیم بیتي شوی دی.

ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو

پیدا شوی شام شفق وصبح دم دی

په لومړي نیم بیتي کې (زلفوو ، رخساره او سروشونډو )داجمال په ډول راغلي دي ،چې د زلفو تفصیل په(شام )د رخسار تفصیل په(صبح )او د سروشونډو تفصیل د(شفق )په کلمو شوی دی.



## عکس او تبدیل

که دلومړی فقرې یا نیم بیتي کلمې په دویمه فقره یا نیم بیتي کې سره واوړي او د معنی تضاد ترې پیدا شي.عکس و تبدیل ورته وایي،لکه:

څوک خپل فکرته ملګري لټوي

څوک ملګروته خپل فکر بدلوي

چې خاوند دعقیدې وي په رښتیا

عقیده له چانه نه قربانوي ( [1] )

د پورتنی څلوریزې په لومړي بیت کې نوموړی ادبي صنعت راغلی دی،د کلمو په وړاندې وورسته کولو سره دمعنی تضا د منځ ته راغلی دی.

اوس مونږ کې بدلون راغی او حالاتو کړو بدل

حالاتو ته چې مونږ به بدلونونه ورکول ( [2] )

د لومړۍ مسرې کلمې په دویمه مسرۍ کې اوښتي او د معنی تضا دترې پیدا شوی دی.

ما ته سل کرته یاد کړې ته رانه غلې

زه به سل کرته درشم که تا یاد کړم( [3] )

✷✷✷

سخي که لک ورکا وده ته کک دي

بخیل که کک ورکا وده ته لک دي ( [4] )

✷✷✷

مریونو کې اصیل شته

په اصیلو کې مریونه ( [5] )

---

[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

[2] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

[3] لکچر نوټ

[4] لکچر نوټ

[5] لکچر نوټ

www.pukhto.net

په افلاس کې دې دولـــــــت دی
په دولت کې دې افـــــــــــلاس [2]

* * *

ددنیا په پرېشانۍ کې جمیعت دی
د دنیا په جمیعت کې پرېشـــانـي ده [3]

* * *

لېونی که مسخره دی و عــــــالم ته
عالم هم وي لېوني ته مـــــــسخره [4]

* * *

نور عالم که په کیمیا زر کوي خاورې
ما زر خاورې کـــړه د مینې په کیمیا [5]

* * *

دا هنر نه دی چې خاورې څوک سره زر کا
چې زر خاورې کا رحــــــمانه هنر دا دی [6]

---

[2] د خوشحال خان ختک کلیات کابل ۸۵ مخ
[3] همدا اثر ۲٦٦ مخ
[4] همدا اثر ۲۷۳ مخ
[5] د عبدالحمید مومند کلیات دانش ۲۹٦ مخ
[6] د رحمان بابا کلیات دانش ٤۱۱ مخ



# حسن تعلیل

حسن په لغت کې ښکلا ته وایي او تعلیل په لغت کې د دلیل په راوړلو دیوه مطلب ثابتولو ته وایي، په اصطلاح کې حسن تعلیل هغه ادبي صنعت دی، چې شاعر د یوه طبیعي صفت لپاره داسې سبب پیدا کړي چې په حقیقت کې یې هغه سبب نه وي، ولې دلطافت او باریکۍ پیدا کولو. په وجه یې هغه ته نسبت کېدای شي لکه:

په غرور د حسن لمر وخوت اسمان ته
زر را پرېوت چې بې ستا ښه بشرولید [1]

دا طبیعي خبره ده چې لمر سهار راخېژي او ماښام پرېوځي، دنو موړې خبرې د تردید لپاره شاعر دلیل راوړي، چې خبره داسې نه ده اصلاً د لمر سترګې زما د محبوب پر مخ پرېوتې، نو حجالت شه او له اسمان څخه را ښکته شه.

ډیوه بله وه د حسن مګر عشق ورسره نه و
بې پتنګه سوزېدلــه شمع ځکه په ژړا وه [2]

شمع په روایتي بڼه د مینې په دنیا کې د معشوقې سوزېدونکې نښه ده، چې پتنګ یې هروخت قرباني وي او زیاترو شاعرانو د خپلې مینې انتها همدې ته منسوب کړې ده.

په بله وینا ، شمع له موم څخه جوړشوی جسم دی، چې د روښنایۍ لپاره کـارول کېـږي ،کلـه چـې پـه سوزېدا شـي، مـوم ویلـې شـي او ښـکته ترېنـه تویېږي، ددې طبیعي کار لپاره شاعر یو سبب پیدا کوي ، چې هغه (د پتنګ نه راتګ دی )نو شمع د پتنګ د هجران په اورکې خپلې اوښکې تویوي.

کعبې تور کمیس اغوستی دی له غمه
مظلومــــان قرباني کېږي بې حسابه [3]

په پورته بیت کې د کعبې د تور کمیس د اغوستو علت د مظلومانو بې حسابه قربانۍ ښودل شوې ده.

---

[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[2] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[3] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

www.pukhto.net

د خندا موج يې په لب راغله ګلفامه
په چمن کې کړغونچې کميس قبـــا

په پورته بيت کې د غونچې د کميس د څيرې کېدو علت د محبوبې له خندا په ډکه خوله چمن ته راتګ ښودل شوی دی. چې په حقيقت کې يې دا علت نه دی.

نازک وچولی دې چين وينـــم ملو کې
په جبين دې ګوندې وزن د خال بار شو
***
چې نظر يې د ګلرخ ساقي په مـــخ شه
د نرګس له لاسه جام پرېوت نسکور شه [1]
***
چې سبا شي ستا تر مخ پورې شرمېـــږي
ځکه زيست په توره شپه کاندي مهتاب
***
و تبنتي له شرمه بوی د ګلو له ګـــلزاره
باد چې پکې توی په صبحدم کا بوی د ستا [1]
***
ځکه شوه تر زنګانه په وينو ډوبه
چې يې زړکه سمـــبد له په يا نه [2]
***
سره لــــمبه شه لالــــــه زار زما له آه
د زړه سوي په زړه سويو زړه سوی کېږي [3]

[1] د عبدالحميد مومند کليات ۲۳۷ مخ
[1] د عبدالحميد مومند کليات ۱۷ مخ
[2] همدا اثر ۲۵۴ مخ
[3] همدا اثر ۲۸۵ مخ



په سپين مخ دې وېښته نه دي تور لوګي دي
چې وتلي دي زمــــا لـــــه آه سر ده [1]
***
ستا د زلفو هيبت بـــاد په تېښـــت روان کا
د ښامار په دود چـــې وښوري ناګـــــاه [2]
***
تا چې لاس کښـــېښو خو با په ملا باريکه
په پنجه کې د افـــتاب پيدا شوه ليـــکه [3]
***
ستا د زلفو بوی نسيم په چمن راوړ
له مستۍ شو د غونچې کميس قبا [4]

## رجوع

په لغت کې بيرته ګرځېدلو ته وايي او په اصطلاح کې که شاعر لومړی يو مطلب راوړي او بيا په وروستۍ جمله ، نيم بيتي يا بيت کې د دليل په راوړو سره يې د باطلولو لپاره رجوع وشي، لکه:

د ملا خيال دې زه حنان لکه وېښته کړم
نه غلط شوم کله موی هسې مهين شته [5]

په لومړي نيم بيتي کې حنان لومړی ځان له وېښته سره تشبيه کړی او په دويم نيم بيتي کې خپله خبره باطلوي.

که ښه وايم و چاته هم يې بد نيسي په زړه کې
يا بخت دی د مغلو يا زما څه عـــقل کم دی

[1] د کاظم خان شيدا ديوان دانش ۱۲ مخ
[2] همدا اثر ۱۷۵ مخ
[3] همدا اثر ۱۶۰ مخ
[4] همدا اثر ۲۰۱ مخ
[5] لکچر نوټ

www.pukhto.net

نه بخت دی د مغلو نه زما څه عقل کم دی
دا کل واړه پیري ده چې مې کار درهم برهم دی [1]

***

ما وې ته جوړې سپوږمۍ یې
نه خطا شوم سپوږمۍ څه وي
د سپوږمۍ مخ کږښې کږښې
کله تا سره سمېږي [2]

***

که وایم ستا غېږ کې جنت و زما
پوه شوی نه یم اشتباه کړمه
جنت خو ټېټ ستا تر قدم لاندې دی
په اعلی حکم د ادنی کړمه [3]

***

خاورې مې مه بوله په ښه سترګه راته ګوره ته
خاورې که هم یم ستا د ښکونو د سرو یمه [4]

## سیاقة الاعداد

په لغت کې د اعدادو طرز ته وایي. په اصطلاح کې که چرته شاعر په خپل کلام کې شمېرنې (اعداد) په مرتب یا نامرتب ډول ذکر کړي سیاقة الاعداد ادبي صنعت ورته وایي، لکه:

چې په هر ساعت زما د مرګ سلا کا
یو دې سترګې دویم وروځې درېیم خال دی
په درې څیزه منحصر ددنیا عیش دی
یو ښه زړه دویم ځواني درېیم وصال دی [5]

په پورته بیتونو کې (یو، دویم، او درېیم) په راوړو نومورې صنعت کاربدلی دی.

---

[1] د خوشحال خان خټک کلیات لومړی ټوک کابل ۳۱۵-۳۱٦ مخونه
[2] روح ادب
[3] الفت حدیث (الجنت تحت اقدام امهات)
[4] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[5] د شمس الدین کاکړ دیوان ۲۱۲ مخ



نصیبه بۀ له جهانه یو کفن وړي
هغه هم اته، نه، کږه یا لس [1]

***

چې پرې غم غلطوم درې مې محرم دي
یو قلم دویم کتاب درېیم اشعار خپل [2]

***

چې حجاب تر منځ زما زما د رب دی
اول زه دویم عالم درېیم سبب دی [3]

***

چې سرې پرې دوست دښمن وته عزیز شي
اول حلم دویم جود درېیم ادب دی [4]

## تنسیق الصفات

تنسیق په لغت کې په مزي کې د څیزونو اچولو او تر تیبولو ته وایي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې د یوه څیز لپاره پر لپسې څو صفتونه راوړي، لکه:

ښې سپینې خوږې یخې اوبه مې د شیدو په ځای
تاسې ته درکړي مور د ټولو پښتنو یمه [5]

په پورته بیت کې (ښې، سپینې، خوږې او یخې) صفتونه د اوبو لپاره راوړل شوي دي.

چې د هر سړي د توري شپې رڼا ده
چې ښایسته ورباندې غر، دښت و صحرا ده
دا سمان ګلالۍ لور ښکلې سپوږمۍ ده
لوڅ مخ ګرځي ته به وایې یوړپۍ ده [1]

---

[1] د خوشحال خان خټک کلیات لومړی ټوک کابل ۸٤ مخ
[2] د عبدالقادر خټک دیوان کابل ۸۷ مخ
[3] همدا اثر ۲۵۸
[4] همدا اثر ۲۵۸ مخ
[5] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

www.pukhto.net

په پورته دوو بيتونو کې د سپوږمۍ لپاره (رڼا، ښايسته، د اسمان لور، او يورپۍ ) صفتونه راغلي دي.

په لاره تلمه په مخه راغلـه  يوه دلبره پري رخساره
دلمر په شانې لا ترې روښانه  په ښکلي مخ وه هغه نګاره
په قامت سروه په تلو تيز روه ابرو کمانه ناوک مژګانه
په سترګو بازه خونريز ته سازه په ويښتو ليله په مخ نهاره [2]

پورته د دلبرې لپاره ( پرې ، رخساره ، تر لمر لا زياته روښانه ښکلې، سروه، تېز روه ، کمان ، بازه ، ليله او نهاره ) صفتونه راغلي دي.

ناز نخرې مهر خندا فتنې جنګونه
له خپل يار سره هم تا زده دا رنګونه [3]

په پورته بيت کې د مخاطب (محبوبې) لپاره ناز ، نخرې، مهر، خندا فتنې او جنګونه ) صفتونه راغلي دي.

چې په درست تومن او ښاره    نن هغه ده زما ياره
مخ نسرينه مه جبينه    سنبل مو يه پرې واره
شکر لبه پر طربه    هوسۍ سترګې ګل رخساره [4]

✶✶✶

د جهان په مخ به نه وي هسې تا غوندې دلبره
پري رويه عنبر بويه سنبل مويه سمن بره
ګلعذاره زلفي ماره شهسواره خوش رفتاره
باده نوشه مې فروشه قصب * پوشه موکمره
د لنوازه سرفرازه عشوه سازه لعبت بازه
خود پسنده سر بلنده شکر خنده لب شکره
طربناکه ګربوان چاکه تل بې باکه تش تپاکه
خودارايه خود نمايه خود ستايه خوش هنره

[2] عبدالقادر خټک ديوان پېښور ۱۵۰ مخ
[3] د خوشحال خان خټک کليات لومړی ټوک کابل ۲٥٤ مخ
[4] دخوشحال خان خټک کليات لومړی ټوک کابل ۲۱۱ مخ
* وريښمين ټوکر



غزل خوانه خوش الحانه در دندانه لب خندانه
عنبر خاله پر خياله تل خوشحاله د زړه غوره [1]

د پورته غزل په پنځو بيتونو کې يې د محبوب لپاره تقريباً ( څلور د پرشت ) صفتونه راوړي دي.

[1] د خوشحال خان خټک کليات لومړی ټوک کابل ۲۱۳ مخ

# عارفانه تجاهل

یوه معلومه خبر په داسې ډول په کلام کې راوړل چې د څه لطافت او نزاکت په خاطر شاعر ځان پرې ناخبره اچولی وي. ته به وایې چې ده ته هېڅ پته نشته، نوموړی صنعت د څلورو غرضونو لپاره په کارو ړل کېږي: تحیر، تحقیر، مدح او هجوه.

۱ - **مدح**: چې د چا ستاینه یې غرض وي، لکه:

د ا د ګلو په مخ وینم که د ښکلو
ملغلرې که خولې که شبنمونه (۱)

شاعر ښه پوه دی چې د محبوب مخ خولې شوی او غوټۍ غوټۍ خولې یې پر اننګو ښکاري مګر بیا هم د ګلو او شبنم په راوړو ځان پرې ناخبره اچوي.

دا د دلبر مخ دی چې له شاله نیم لیده شي
یا زیړوتی لمر دی چې لیدی شي نیم له غره (۲)

***

دا بورا دی چې په پاڼه د ګل ناست دی
که پر مخ د ګلرخسار ده توره زخه (۳)

***

دا له نازه کا خوبان خبرې تتې
که د لاړو په خوږوېې زبان نښلي (۴)

***

په رخسار یې عرق وینم توري زلفې
که د ګل په شبنم میل کا مارونه (۵)

---

۱ دالفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۲ روح ادب
۳ بدیع بیان شاکر
۴ د عبدالحمید مومند کلیات ۳۰۲ مخ
۵ د کاظم خان شیدا دیوان دانش ۲۲۳ مخ



۲ - **تحیر**: ځینې وخت تجاهل د حیرانتیا په ډول راغلی وي، لکه:

هر څه په خوراک سره کمېږي نه پوهېږم
غم هر سبا خورمه لا زیاتېږي نشه کم (۱)

***

او ښکې مې له سترګو رابهېږي په خندا کې تل
ژاړم په خندا کې که خندا کې په ژړا یمه (۲)

***

داد کوم ګلرخ له غمه په ګلشن کې
دي ګلان په وینو سره لکه لاله (۳)

***

هېڅ مې نزده محبت که اور دی دا
په اور سوزم په رضا که زور دی دا (۴)

***

ستا مهجور له ډېره درده آه فغان کړ
که ویشتلي توتي چیغ په هندوستان کړ (۵)

***

ستا د زلفو په لور زړونه خرام کاندي
که د روم قافله درومي هندوستان ته (۶)

***

دا یې سترګې دي له ذوقه زما د زړه په غوښو ښښتې
که اهو ګل د لاله خوري په داهسې دامانه کې (۷)

---

۱ د رنګ و بو قافله ۱۸۲ مخ
۲ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۳ بدیع بیان شاکر
۴ د عبدالحمید مومند کلیات ٦ مخ
۵ د کاظم خان شیدا دیوان دانش ۱۲۳ مخ
٦ همدا اثر ۱٦۹ مخ
۷ بدیع او بیان ۱۱ مخ

۳- **تحقیر**: ځینې وخت تجاهل د دې لپاره وي چې د چا سپکاوی په کې مراد وي.

په تـــور مـــخ باندې لیـــلا پوډر وهلي
که پر مېښې باندې سپین سان غوړېدلی

٤- **هجوه** : ځینې وخت شاعر د یو چا د بدی بیانولو لپاره ځان په تجاهل کې اچولی وي.

دا یې قد او رنګ له ورا یه په خلا دی
که غونډاری د رنجو مخې ته راغی

یا :

مغل بیا رغله خوشحال خان څه شو او چرته لاړ
چې درته وو ایي د ننګ غیرت اشعار پښتونه [1]

## مراجعه (پوښتنه او ځواب)

که چرته شاعر په یوه نیم بیتي کې پوښتنه او په بل نیم بیتي کې یې ځواب راوړی وي مراجعه یا پوښتنه او ځواب ادبي صنعت ورته وایي.

وایم زه له لــــورې مرم ته لـــه مـــېښته ؟
وایي چوپ شه !دغـــه برخه اسمـــاني ده [2]

***

مـــا ویـل بیا دې پر مخ زلفـې راخورې کړې ؟
وې چې ستا په خوله مې بیا خـاورې ایرې کړې [3]

***

[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[2] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[3] لکچر نوټ



وې مې زلفې دې پر مخ ولې تاوېږي؟
وې نو روز دی شپه او ورځ سره سمـــېږي
وې مې وروځې دې لینده بانو دې څه دي؟
وې ناوک دی د مین په زړه څرخـــــېږي
وې مې خال دې په مخ څه وته ښکاره کړ ؟
وې یو داغ دې پر سینه پړدم چې ښکارېږي
وې مې خوار شو پیر محمد په عاشقۍ کې ؟
وې پر ما چې مینه کړي هغه خوارېـــــږي [1]

***

وې مې زړه مې ستا د مخ په اور ورتـــېږي؟
وې یې پرېږده چې ښه وریت شي دا کبـاب [2]

***

ګل د لاله ښه دی راته وایه که بارخو مې ؟
ستا زېبا بارخو به له ګیا کـــــړم برابر [3]

***

وې یې څوک یې چې زما په کوڅه ګرځې ؟
ښه حاضر ځواب مې ورکړ ســـتا مریی [4]

***

وې مې چې په څو رنګه خوشحال په تا مین دی؟
وې یې د ختک سرې د میـــــــنې څه ثنا کړې [5]

[1] دپیر محمد کاکړ دیوان ، ۱۹۲ - ۱۹۳ مخونه
[2] د خوشحال ختک کلیات ، لومړی ټوک کابل ۳۵ مخ
[3] همدا اثر ٦۰ مخ
[4] همدا اثر ۳۳۲ مخ
[5] همدا اثر ٤٤۸ مخ

# براعت الاستهلال

براعت په لغت کې غوره والي او لوړوالي ته وايي او استهلال د نوې میاشت لیدلو ته وايي. په اصطلاح کې د یوه کتاب ، مقالې یا نظم په سر کې داسې جمله ، جملې یا بیت راوړل ، چې دورپسې موضوع نچوړ پکې په پوره ایجاز سره راغلی وي او نور کتاب د هغه تفصیل او تفسیر وي او یا هغه څه چې وروسته تر هغه راوړل کېږي ورسره تناسب او اړیکې ولري، نوموړې صنعت ته براعت الاستهلال وايي د قران کریم په پیل کې د فاتحې سورت د براعت الاستهلال په ډول راغلی دی.

د (دستار نامې) په پیل کې خوشحال خان خټک یو بیت راوړی دی او ټول کتاب یې دهمدې بیت تفصیل دی:

چې د دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي (1)

همدارنګه د خوشحال خټک د یوه بل اثر (بازنامه) په سر کې لومړی بیت د نوموړي ادبي صنعت استازیتوب کوي:

خدایه ته په زړه کې اچوې دا میني
چې په ښکار دې مبتلا کړم ته مې وینې (2)

د حمید مومند د (شاه ګدا) د کیسې لومړی بیت د نوموړي ادبي صنعت ښه بېلګه ده.

دا اغاز مې په نامه د هغه خدای دی
چې یې نوم ګره کشای د شاه ګدای دی (3)

✱✱✱

ډېر یاران و د ګل خان او جمال خان
په کار نشو یو په وخت د زارستان (4)

یا:

1 دستار نامه مغموم لومړی مخ
2 باز نامه ١٤ مخ
3 د عبدالحمید مومند کلیات ٥٤٩ مخ
4 درحمان بابا کابل ١١٠ مخ



هر سردار چې د خپل قوم د بدو خیال کا
ایینه دې د خپل ځان حال د جمال کا (1)

په پورته دواړو بیتونو کې یوې مشهورې تاریخي غمجنې پېښې ته اشاره ده او په وروستیو بیتونو کې عبدالرحمن بابا او حمید مومند د پیښې په اړه خپل نظر څرګند وي.

ناصر خان د کابل حاکم و جمال خان ته یې د انعام په ډول دوه زره روپۍ ورکړې، جمال خان په خپله اربابۍ کې د عیسی کلی لوټ او وران کړ، څه وخت وروسته چې د جمال خان د زوی جلال خان واده و ، عیسی خان د بدل اخیستو په نیت د جمال خان په کور حمله وکړه. په جګړه کې ګل خان هم د جمال خان ملګری و. دا چې جمال خان د جنګ تابیا نه لرله ، تېښې شو او په کلا ننووت. عیسی خان کلا ته اور واچاوه چې په پایله کې ګل خان ، جمال خان او اتیا تنه نور نارینه ، ښځې او ماشومان پکې وسوزېدل، دا پېښه په ( ١١٢٣ ) هـ کال په مومندو کې پېښه شوې وه. (2)

# مدعا مثل

که شاعر په یوه نیم بیتي کې مطلب راوړي او په بل نیم بیتي کې د هغه د اثبات لپاره یو مثل راوړي ، مدعا مثل ادبي صنعت یې بولي، حمید مومند وايي:

نازولی زوی نه اخلي ادب
او د سیوري نخل نه نیسي رطب (3)

په پورته بیت کې یې د نازولي زوی د نه تربیې د ادعا لپاره د هغې خرما ذکر کړی چې په سوري کې وي او هېڅ مېوه نه نیسي.

همنشین د بې حیا وي بې حیا
سپېره رېږه ژر نده ګړی د اسیا (1)

1 د عبدالحمید مومند کلیات ٢٨ مخ
2 د عبدالقادر خټک دیوان – نیاز ٥٢٧ مخ
3 حمید مومند
1 د عبدالحمید مومند کلیات ٥ مخ

د (بې حيا ملګرى به بې حيا وي ) د دې مطلب د ثبوت لپاره يې ژرنده ګړى راوړى، چې د ژرندې ګرد به حتمي پرې لوېږي.

ساېه وار متحمل د سنګ و خار شه
چې په لار د رفاقت دورمې وفا کړه ([٢])

عبدالرحمن بابا وايي:

خزانه په سخاوت سره زياتېږي
د کوهي اوبه چې وکاږې بيسيار شي ([٣])

❋❋❋

لږ لږ ښه هم مناسب له نفسه نه دي
غله مېرمن کاندي ځان مور په څکه څکه ([٤])

❋❋❋

که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه
هر يو نخل چې مېوه لري سنګسار شي ([٥])

په درې واړو بيتونو کې دلومړيو نيم بيتو د مطلب لپاره د ويم نيم بيتي د مثل په ډول راغلي دي. د خزانې د زياتېدو د ثبوت لپاره له کوهي څخه د اوبو راويستل او له نفس سره ښه کول د غلې مېرمنې او د بدو په مقابل کې د ښو کولو د ثبوت لپاره د خرما په کاڼو ويشتل د مثل په ډول راوړي.

نصيحت په غافلانو اثر نه کا
د سرې او سپنې خوشې ټکول دي

✶✶✶

د نرګس د سترګې ګل کله معيوب دى
سيم و زر کاندي زشتي د هر چا خوبه ([١])

✶✶✶

هميشه وي نرم چوب غذا د کِرم
شيدا مه شه مرد خالي له سياسته ([٢])

---

[٢] كاظم شيدا ديوان دانش ١٨٩ مخ
[٣] عبدالرحمن بابا ٣٠٤ مخ
[٤] حميد مومند ٢٣٨ مخ
[٥] عبدالرحمن بابا ٣٠٤ مخ
[١] د كاظم خان شيدا ديوان دانش ١٦١ مخ



✶✶✶

نه خلاصېږي پُر ګويان له ګوشماليه
رامعلوم شول د رباب له قيل و قاله ([٣])

# ارسال المثل

که چرته شاعر په خپل کلام کې مشهور متل راوړي ، نو موږې ادبي صنعت يې بولي، حميد مومند وايي:

په زړه مهر په خوله قهر زوى ته بويه
څه ښه وايي چرته ډب هلته ادب ([٤])

په پورته بيت کې ( چې ډب نه وي ادب نه وي) متل راغلى دى.

چې د چا فکر منفي نظر منفي شي
عملي جنبه شي ورکه فلسفي شي
د شبنم طوفان يې مخه د کار نيسي
د لمدو ختو خو لږ اوبه کافي شي ([٥])

په پورته څلوريزه کې (د لمدو ختو لږ اوبه دارو دي) متل راغلى دى

يا لکه: د کامګار لاندې بيتونه:

نشته ستا مينه زما په مينه څه شي
دا متل دى يو لاس هېڅرې ټک نه کا ([٥])

ښه متل دى څه کړې هغه به رېبې
د عمل جزا موندى شي لاس په لاس ([١])

✶✶✶

د وصل عيش مې هېر شه په هجران کې

---

[٢] د كاظم خان شيدا ديوان دانش ١٦٥ مخ
[٣] شيدا ديوان دانش ٢٠٦ مخ
[٤] د عبدالحميد مومند كليات ، ٣٥ مخ
[٥] د الفت په اشعارو كې بديعي ښكلاوې
[٥] رنګ و بو قافله ١٨٣
[١] رنګ و بو قافله ١٨٣

ښه مثال دی هر چې تېر شي هغه هېر شي [2]

# ارسال المثلين

که چرته شاعر په خپل کلام کې دوه مشهور متلونه راوړي ، نو موړی ادبي صنعت ورته وايي، لکه د خوشحال بابا لاندې بيت:

له يوه لاسه هېڅ چېرې اواز نه شي
له يوې ځانګې له بازه پرواز نه شي [3]

په پورته دواړو نيم بيتو کې متلونه راغلي دي.
يا لکه د علامه الفت لاندې بيت:

چې څه وکـــــرې هغه به رېــبې تل
خـپل عـــمل وي د هر چا دلارې مـــل [4]

## ګړنه

که چرته شاعر په خپل کلام کې مشهوره ګړنه يا اصطلاح راوړي نو موړی ادبي صنعت ورته وايي. عبد الرحمن بابا وايي:

د مات لوښي اواز کله ثابت خېژي
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي [5]

په پورته بيت کې (د مات لوښي اواز) ګړنه ده چې د خبرې د وضاحت لپاره کارول شوې ده.

ما قبلو د رقيب ناز کړو ستا لپاره
سودا و زيان په دا جهان کې خور او ورور دي [1]

په پورته بيت کې (خور او ورور) ګړنه ده.

[2] رنګ و بو قافله ۱۸۳
[3] لکچر نوټ
[4] ادبي ارمغان ،٥٦مخ
[5] عبدالرحمن بابا کليات مومند ۲۷۲ مخ
[1] عبدالرحمن بابا کليات مومند ٢٥٦ مخ



چې په عشق دې ابتدا وکړه حميده
ځکه شوه هسې په مالګې ستا ادا [2]

په پورته بيت کې (په مالګه کېدل) ګړنه ده.

## تمرين

په لاندې بيتونو کې ګړنې او متلونه راوپېژنئ؟

ای وروستيه عقله ! دريغه که پخوا وای
ما به ولې په خپل ځان کړه هومره شـنده [1]

***

څه يو نېزه څه دوه څه تر دا زيـــــاتې
د غريق او به چې پاس واوړي تر ســـره [2]

***

ختېکی له ختېکي نه خوند اخــــلي
همسايه له ګاونډي نه پند اخـــلي [3]

***

همېشه مې له ښه مخه ګفـــتګوی شي
چې په لوښې کې څه وي هغه ترې توی شي [4]

***

دين دنيا لره په کار خـــــپله کرده ده
لوندوي حلق د هر سړي پـــه خپله لاړې [1]

***

د خپل عشق په پاکبازۍ شـــکر داريم
چې مې نه شه خر په ختهٔ د عـصيان ډوب [2]

***

[2] عبدالحميد مومند کليات ۷ مخ
[1] د خوشحال کليات لومړی ټک کابل ۲۰۷ مخ
[2] همدا اثر ۲۱۲ مخ
[3] همدا اثر ۳۷۹ مخ
[4] همدا اثر ٤١٧ مخ
[1] همدا اثر ٤٤٣ مخ
[2] د عبدالحميد مومند کليات ٤٣ مخ

بيا دې مور کړه شمع خو يه په چا بوره
چې دې کېښوه په اوږه باندې سره توره ([3])

که خبر شي هغه مست خونخوار له ځانه
لاس به پرېوينځي تمام د يار لـــــه ځانه ([4])

---

[3] د شيدا ديوان دانش ۱۷۷ مخ
[4] د شيدا ديوان دانش ۲۱۷ مخ



## د ستاينې په بڼه غندنه (الذم بما يشبه المدح)

هغه ادبي صنعت دی چې شاعر څرګنده د چا ستاينه کړې وي او په حقيقت کې غندنه وي، لکه خوشحال بابا چې د اورنګزيب په اړه وايي:

عادل بادشاه پيدا شو
اورنګ شاه د دين غمخور
خپل پلار تړي په عدل
په فتوی وژني خپل ورور ([1])

په پورته بيتونو کې څرګنده دا معلومېږي چې د اورنګزېب ستاينه کوي، خو هغه څوک چې خپل ورور بې ګناه وژني او خپل پلار هېڅ په هېڅه د دولت په لالچ بندي کوي ، ښه صفت نه دی.

افرين دې په انصاف د عالمګير
چې په دا هـــنر کـــــې نه لـــــري نظير
نه په غله نه په رهزن نه په پاسبان دی
څوک دې وي چې دې کښېوځي په زنځير ([2])

علامه الفت وايي:

مغل بيا راغله خوشحال خان څه شو او چرته لاړه
چې درته ووايي د ننګ غيرت اشعـــار پښتونه ([3])

---

[1] د يوان خوشحال خان خټک دويمه حصه پردل ٤۲۰ مخ
[2] د يوان خوشحال خان خټک دويمه حصه پردل ۳٥۷ مخ
[3] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې

## د غندنې په بڼه ستاينه (المدح بما يشبه الزم)

که چرته شاعر د يو چا د ارنګه ستاينه وکړي، چې څرګنده غندنه وي، مګر په حقيقت کې ستاينه وي، لکه:

په ښايست کې يې تقصير د صورت نشته
څه خو دا عيب لري چې په زړه سنـګ دی (۱)

په پورته بيت کې د (سنګ) کلمه د غندنې په بڼه راغلې ده ، چې په حقيقت کې صفت دی، ځکه چې محبوب په زړه سخت نه وي بيا خو د محبوبۍ له درجې څخه غورځېږي.

علامه الفت وايي:

که نور هيڅ نشئ کولای وچ او شنډ شئ غلامانو
غلامان چې پيدا نشي باداران به بې چـارې کا

***

ماله ياره سپينه خوله په خندا غوښته
ده له نازه د غونچې په دود ونغشته (۲)

دويم نيم بيتی څرګند د غندنې غوندې ښکاري مګر د خولې راټوليدل د غونچې (غوټۍ) په څېر صفت دی.

***

څه بلا زيبا يې بې نظـيره محبـوبا يې
که دا عيب دې نه وی په زړه سخته يې بلا (۳)

***

له خاطره يې امساک د بوسې نه ځي
که حاتم سره علو د همت يو کـا (۴)

***

په دا شکر چې د تا بيمارو ستـرګو
د شيدا په وينو مات د رنځ پرهېز کړ (۵)

۱ د خوشحال خان خټک کليات لومړی ټوک کابل ۳۴۳ مخ
۲ د پير محمد کاکړ ديوان ۱۲۱ مخ
۳ د خوشحال خان خټک کليات لومړی ټوک کابل ۵ مخ
۴ د شيدا ديوان دانش ۱۰۷ مخ
۵ همدا اثر ۱۲۴ مخ



## بد او ښه (زشت و زيبا)

هغه ادبي صنعت دی، چې شاعر په لومړي نيم بيتي کې داسې خبره راوړي چې په ټولنه کې د اخلاقو له مخې سمه نه وي او په دويم نيم بيتي کې بيا داسې خبره راوړي چې لومړی خبره هم ورسره د اخلاقو له مخې سمه شي ، لکه د شمس الدين کاکړ لاندې غزل:

يو وار ما واخستې پښې د خــپل نګار
چې مې رنګ کړای په نــکريزو ګل انار
ته ويده وای ما په درســته شــپه کولې
باري ستا په باب دعــا هــزار هزار
که يې يو ځله پر سر ورباندې کــښېنې
رنځ د هجر به شــي دفــع د بيمار
بند يې خـلاص که پورته يې ونيسه په خپله
مـــخ پوټې پــه نقاب نه ښايي د يار
که هر څو پر موټه زور کړم درست په نه ځي
په رقيب کې زما غـــشی د ازار
په مدار مدار بې کارېږم چــې خوږ نه شي
د بانو په ستنې ستـــا د پوندې خار
څو پرې سپور يې باندې ښوره شمس الدينه
د عشق او ښ پر لارې کـــله ځي هموار (۱)

د عبد القادر خټک لاندې غزل هم په همدې صنعت کې راغلې ده:

چې وهلې مې هرګز را خبر نه شوې
ستا له غمه درسته شپه ژړا چــغارې
راشه ګوره ننداره کړه څرنګ لک دی
ستا د غم غشی زما په زړه نــګارې
چې وکارېږ يې هرګز سهيدی نه شم

۱ ادبي فنون ۴۱ مخ

د غمزې توره په ميان کې کړه خونخوارې
چې يې وازه کړې هر ګوره ښايسته شي
په خندا کې سپينه خوله پرې رخساري
کلک يې ونيسه په لاس کې چې خلاص نشي
زما زړه که دلداري کوې دلداري (۱)

۱ د عبدالقادر خټک ديوان کابل ۳۲۷ مخ



# تلميح

په لغت کې ليدو او اشارې کولو ته وايي او په ادبي اصطلاح که شاعر په خپل کلام کې يوې مشهورې پېښې يا کيسې ته په لنډه توګه اشاره وکړي يا د يو آيت يا حديث ژباړه په خپل کلام کې راوړي، تلميح ورته وايي،

## ۱- هغه بيتونه چې مشهورو پېښو ته پکې اشاره شوې ده:

د ابراهيم خليل الله قرباني ستايه ماته
د خوف او وېرې سبق ما ته ملا مه راکوه (۱)

***

ته يوسف يې ارزو ستا زليخا ده
ستا په برخه غلامي ددې ليلا ده
که خپل ځان دې ورنه خلاص کړ بادشاهي ده
که يې خوښې ته ځان وسپارې ګناه ده (۲)

***

چې خپل مالونه ډېروي قام او ملت خواروي
نن يا سبا يې عاقبت لکه قارون وګوره (۳)

***

شداد فرعون نمرود دده په دروازه کې ولاړ
لکه چنګېز او هلاکو رحم په چا نه لري (۴)

***

هر کله راشي تازه بهاره
تادي راوړي ګلان بې شماره
نرى شمال دې دم د عيسى دى
سحر چې راشي له جګ کهساره (۵)

۱ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
۲ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
۳ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
۴ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې
۵ د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې

په پورته بيتونو کې د (ابراهيم (ع)، يوسف (ع) او زليخا، قارون، شداد، نمرود، چنګېز، هلاکو او عيسی (ع)) کيسو او پېښو ته اشاره شوې، چې بې د دې پېښو له پوهې يې شرحه ګرانه ده.

## تمرين

منکران چې سترګې پټې کا له شرمه
د مريمې په باب وايي کم وزيات [1]

***

هر ساعت شمه راکېښ دار و سنګسار ته
محبت قايم مقام کړم د منصور [2]

***

د اشفاق تمه به څه کړي له اخوانه
نتيجه يې ورکېده دي له کنعانه [3]

۲- اوس هغه بېلګې را اخلو چې يو ازې د ايت يا حديث شريف ژباړه پکې شوې وي:

شپه له ورځې را پيدا کړې ورځ له شپې نه
و مرده ته ورکړې دم ژوندی بې دم کړې [4]

ايت شريف:
تُولِجُ الليل فی النهار و تولج النهار فی الليل و تخرج الحی من الميت و تخرج الميت من الحی (*)

له اوله يې سجود د فرښتو کړ
په تکريم د کرمنا شوم مکرم [5]

ايت شريف

---

[1] د عبدالحميد مومند کليات ٤٦ مخ
[2] همدا اثر ۷۳ مخ
[3] د شيدا ديوان کابل ۲۱٦ مخ
[4] د عبدالقادر خټک ديوان کابل ۳۳٤ مخ
[*] سورت ال عمران ۲۷ ايت
[5] د شيدا ديوان دانش ۱۰۷ مخ



و اذ قلنا للملايکة اسجدو ا لادم فسجدوا (*)
ولقد کرمنا بنی ادم (×)

***

په دا دوه حرفه ادا مسلماني ده
هر چې نه پسندې په ځان په چا مه پسنده [1]

حديث شريف:
عن انس عن النبي صلی الله عليه و سلم قال: لا يؤمن احدکم حتی يحب الا خيه ما يحب لنفسه ([2])

## توجيه (محتمل الضدين)

هغه ادبي صفت دی چې د يوې خبرې د وه مخه وي يو يې ستاينه او بل يې غندنه يا يوه معنی په داسې الفاظو کې راوړل شي، چې د هغې معنی ضد او مخالفه معنی هم ترينه اخستل کېږي.

که د چا يوه سترګه ړنده وي او بله يې روغه څوک ووايي ((دواړه سترګې دې يې يو شان شي)) له دې جملې څخه دوې معناوې اخستل کېدای شي، چې په دواړو دې ړوند شي يا په دواړو دې روغ شي.

په هر ځای چې ستا ثنا شي ښبوه ګرې
خر مهره شي هلته در و ملغلرې [3]

په پورته شعر کې دانه معلومېږي، چې شاعر خر مهره ملغلره کوي که ملغلره خر مهره کوي.

ای محبوبې رڼا کېږي ستا له مخه تورې شپې

---

[*] سورت البقره ۳٤ ايت
[×] سورت الاسراء ۷۰ ايت
[1] د عبدالقادر خټک ديوان کابل ۱۸۵ مخ
[2] بخاري لومړی جلد ٦ مخ
[3] د عبدالرحمن بابا ديوان دويم چاپ پېښور ۱۹۹ مخ

څه عجب شان ننداره ده نه پوهېږمه په دې ([1])

په پورته بیت کې دا نه څرګندېږي چې تیاره د محبوبې له مخه رڼا کېږي
او که رڼا تیاره کېږي.

چې میوه یې د کابل خوړلې نه وي
د هغو تر فهم وڅکې دي ګورګورې ([2])

* * *

که ښکاره شي دروېشانو عزت ستاسې
ګدایان به شي شاهان په دولت ستاسې ([1])

[1] همکار
[2] د خوشحال خټک کلیات لومړی ټوک کابل ٤٣٢ مخ
[1] د عبدالقادر خټک دیوان کابل ٣٣٨ مخ



# تدبیج

تدبیج په لغت کې ښکلا ورکولو ته وایي * په ادبي فنونو کې هغه ادبي صنعت دی ، چې شاعر په خپل کلام کې څو ډوله رنګونه راوړي، لکه حمید مومند چې وایي:

هغه رنګ اخلي جامه چې په خم کښېوځي
سور که سپین کـــه زېړ که شین دی که سیا ([1])

علي خان وایي:

چې سرې شونډې سبز خط یې را په زړه کړم
سر تر پایه سره لمبه شـــــــم شنه ډډوزه ([2])

علامه الفت وایي:

له اسمانه څاڅکي راغله د باران
پرې راشنه شوه سپین او سره او زېړ ګلان ([2])

* * *

د سپین مخ او د سرو شونډو تورو زلفو تورو سترګو
څه قیمت او قدر نه و زړه کې مینه د دنیا وه ([3])

* * *

د دستار د سیوري رنګ واړه یو رنـــګ دی
که د ستار په سر یا سور یا تور و سپین دی ([4])

* * *

په څو رنـــــګه جلوه ګر دا باز یګر شي
کله سپین کله سور شین کله ځان تور کا ([5])

* معجم الوسیله ٢٦٨ مخ
[1] عبدالحمید کلیات ٥ مخ
[2] دیوان علي خان کاکا خېل ٢٩ مخ
[2] د ګل پاچا په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[3] همدا اثر
[4] د خوشحال خان خټک کلیات لومړی ټوک کابل ٣١٥ مخ
[5] د عبدالحمید مومند کلیا ٢٤ مخ

سور له سره شي تور له توره
شين له شنه شي زرد له زرده ([1])

ښايسته په هر لباس لکه خورشيد وي
که ايوان يې سرخ وزرد و يا سفيد وي ([2])

# مبالغه

کله شاعر په خپل کلام کې د يو شي ښه والی يا بد والی داسې حد ته ورسوي چې له پېښېدو څخه ډېر لرې شي يا تصديق او تکذيب ته شدت ورکړي چې د محال درجې ته ورسېږي.

په درې ډوله ده:

۱ - **تبليغ**: په لغت کې خبر رسولو ته وايي او په اصطلاح کې که چرته شاعر د يوې موضوع په هکله مبالغه داسې حد ته ورسوي، چې عقلا او عادتاً امکان ولري خو پېښه شوې نه وي.

لکه حيمد مومند وايي:

ستا له غمه مې په سر کې هومره شور دی
چې به نه وي هرګز شور د لاهور هـــومره ([3])

خوشحال بابا وايي:

لا په خوب کې په لړزه پرېوځي له کــــټه
چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ دی ([4])

***

له خوشحال سره که کښېني يو څو کاله
دادغره خټک به واړه شــــاعران شي ([5])

[1] د عبدالحميد مومند کليات ٦٤ مخ
[2] د کاظم خان شيدا ديوان دانش ٢٣٤ مخ
[3] عبدالحميد مومند کليات ٢١٨ مخ
[4] د خوشحال کليات لومړی ټوک کابل ٣١٣ مخ
[5] همدا اثر ٤٢٤ مخ



## ۲- اغراق:

په لغت کې ډوبولو يا په يو څيز کې افراط کولو ته وايي، په اصطلاح کې که شاعر په خپل کلام کې مبالغه داسې حد ته ورسوي، چې عقلاً د منلو وړ وي او عادتاً د کېدو امکان ونلري.

که چرته تاسې کله د ډوډۍ په وخت د کوم دوست کره ورشئ، هغه تاسې ته د ډوډۍ ست کوي، تاسې ټينګار کوئ چې يوه مړې مې هم زړه تـه نـه کېږي، بالکل تر خولې مـوړ يم، دوست مـو يقـين کوي چې ګونډې رښتيا هم همداسې ده، خو که د ستر خوان ته نژدې شئ بيا بـه حالت داسې نه وي، بلکې کېدای شي ډېره ډوډۍ نوره هم وخورئ.

په پورتـه بېلګه کې ستا خبره عقلاً ستا دوست مني، خو ګورو چې عادتاً هغسې نه ده.

زړه مې داسې اند ښښنو د هجران ډک کړ
ځای د وصل په کې نشته يو خاشخاش

د بيت له محتوا داسې برېښي چې ګونډې رښتيا به هم د وصل لپاره په زړه کې ځای نه لري. خو کله چې له يار سره مخامخ شي بيا هجران ته يې فکر هم نه وي.

د چالاس په قمربند د هغې ملا شي
چې هرګز له باريکۍ نه شــــــي ليده ([1])

***

چې حميد د يار له غم کا سوی کــريغه
د پيريانو غونی زېږ ديوان په دوک شي ([2])

***

په بې وسۍ کې ګران وطنه تا ته څه وکړمه
زما له لاسه څه پوره دي درته څه وکړمه
وينه او غوښې راکې نشته تش هډوکې يمه
داهم له تا قربانومه بيا به څه وکــــړمه ([3])

[1] د عبدالحميد مومند کليات ٢٠٨ مخ
[2] همدا اثر ٢٨٩ مخ
[3] پرېشانه اوښکې ٩١مخ

یا:

زه رحمان په زړه نری کړم هغه جونو
چې یې ملا ده د ویښته په دود نرۍ (١)

## ٣ـ غلو:

په لغت کې له حد څخه تجاوز کولو ته وایي. په اصطلاح د مبالغې هغه ډول دی که چرته شاعر په خپل کلام کې مبالغه داسې حد ته ورسوي چې عقلاً او عادتا د منلو وړ نه وي غلو ورته وایي، په دوه ډوله دی:

**الف – مقبول**: د اد غلو هغه ډول دی چې شاعر پکې یو څه نزاکت او لطافت مراعات کړی وي او خلکو ته خوند ورکوي ، لکه:

چې سپوږمۍ داهسې نیمه نیمه کېږي
وایي دا چې ګوندې ستا د نیلي نال شي (٢)

پورتنۍ خبره نه عقل مني او نه داسې چرته کېږي، نورې بیلګې یې:

میاشتې ځان که داس نال میخونه ستوري
چې د ناز په اس شي سور شهـــــسوار زما (٣)

علي خان وایي:

هومره حسن یې په تن باندې انبار دی
چې باریکه شوه د یار په دغه بار مـلا (٤)

:✶✶✶

تاود زړه په زړه کې ساتم آه له زړه نه نکړم
نه وي چې افسوس مې غلبېل طوره لمر سوری کا (٥)

✶✶✶

١ د رحمان بابا کلیات قلندر ٢٥٠ مخ
٢ کامګار ،درنګ و بو قافله ١٨٢
٣ کامګار ،د رنګ و بو قافله ١٨٢
٤ د علي خان دیوان کاکا خیل ٣٨ مخ
٥ لکچر نوټ



و اسمان ته به د شعر زینې کېږدم
که حمید د غم له سره زنګون و کېښ (١)

✶✶✶

نوې میاشت به یې نعلونه ستوري میخ کړم
که نازک د یار سمند لري ســـومونه (٢)

ب- مردود : دا د غلو هغه ډول دی، چې هېڅ ډول باریکي او لطافت پکې په پام کې نه نیول کېږي او هیڅوک یې نه خو ښوي. لکه:

زه به ستوري د اسمان درته راکوز کړم
یاره ته خو یو وار ووایه چــــــې هو

# اقتباس

په لغت کې داور پـار چه اخستل، نوراخستل او هم دګتې اخستلو په معنی دی او په اصطلاح که شاعر په خپل کلام کې د ایت شریف ،حدیث یوټوټه یا مشهوره مقوله راوړي ، اقتباس ورته وایي

علامه الفت وایي:

پو هیږئ ! ښځه څوک ده؟ضامنه دبقاده
د ښځې په وجود کې ماشوم میندلې ساده
ملګرې دژوند نه ده منبع د ژوند او روح ده
,,آلقَاُ ها اِلی مَرَیَمُ ,, د خدای حقه وینا ده (٣)

| القها | الی | مریم | وروح | منه |
|---|---|---|---|---|
| ورکړې یې ده هغه | په لور | د مریمې | او روح دی | له طرفه دهغه |

چې مریمې ته یې ورکړې او د الله(ج) له لورې روح و . (٤)

١ د عبدالحمید مومند کلیات ١٠٠ مخ
٢ د عبدالقدر ختټک دیوان نیاز ١٥٢ مخ
٣ دالفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
٤ سورت النساء ایت ١٧١ ، تکي په تکي ژباړه ١٦٦ مخ

نه شقاق شته نه نفاق نه اختلاف

معصوم دی د نراوښځې ایــــــتلاف

لا رفث لا فسوق لا جــــــــــدال

د حاجي او حاجیې دی وصف الحال (الفت)

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| الحج<br>حج | اشهر<br>میاشتې دي | معلومات<br>معلومې | فمن<br>نو چاچې | فرض<br>فرض او لازم کړ |
| فیهن<br>پدې میاشتو کې | الحج<br>حج | فلا رفث<br>نو نه به وي شهواني عمل | و لا فسوق<br>او نه بد کارونه | ولا جدال<br>او نه جګړه |
| فی الحج (1)<br>په حج کې | | | | |

حمید مومند وایي:

اول ولــــــوله ایت دلن تنا

هله لاف د محبت کړه داشنا

| | | | |
|---|---|---|---|
| لن تنا لوا<br>هېڅ کله به نشي تر لاسه کړای | البر<br>نیکي | حتی<br>ترڅو چې | تنفقوا<br>خیرات کړئ |
| مما<br>له هغه څه | تحبون<br>تاسې خوښوئ<br>هغه (2) | | |

دهغه اقتباس بېلګه چې مقوله پکې راغلې وي:

شیخ سعدي ویلي حق دي چې ناکس تربیت ناخلي

نیکي څکه اثر نه کــــا په ناکس سپي رزاله کې (3)

[1] سورت البقره ایت ۱۹۷ ، ټکي په ټکي ژباړه ٤۷ مخ
[2] سورت العمران ټکي په ټکي ژباړه ۹۷ مخ
[3] دیوان علي خان ۹۸ مخ



# براعت الطلب

په لغت کې د غوره غوښتنې په معنی دی چې حسن طلب هم ورته وایي په ادبي اصطلاح که چرته شاعرله چا څخه په ښو الفاظو کې یو څه وغواړي چې په څرګنده په کلمو کې دغوښتنې څه اثرات نه وي او که وي هم ډېر په زړه پورې وي ، براعت الطلب ورته وایي ، لکه:

که دې خال په بوسه وران کړم څه نقصان دی

ستا د حسن له لښکره یو سور پریوت (1)

✱✱✱

خوار خوشحال ته د سرو شونډو

بوسه ورکړه ګدایي کــــــا (2)

✱✱✱

چې مې بې سواله مطلب کوې دلبره

څه عجب زما حمید په زړه یې پوه (3)

کله حسن طلب پـه داسې کلمو کې وي چې ښکاره غوښتنه وي مګر خبره په داسې انداز کې شوې وي ،چې طبعیت نرموي: لکه

په خندا یې راته ووې خوله مې واخله

په ژړامې ورته ووې یوه بله

✱✱✱

منتونه دې دخولې راباندې ډېر دي

ستا له سپینې خولې نه ځار شم باروه یې (4)

[1] روح ادب ۱۰٦ مخ
[2] د خوشحال خان ختک کلیات لومړی ټوک کابل ۲۸ مخ
[3] د عبدالحمید مومند کلیات ۲٥٦ مخ
[4] توریالی پښتون ۹۹ مخ

# حسن مطلع

که چرته شاعر د نظم یا غزل په لومړي بیت کې داسې په زړه پورې کلمې او ترکیب راوړي چې د اوریدونکي یا لوستونکې ذهن د نظم په لوستو مجبور کړي، حسن مطلع ورته وایي لکه بختاني خدمتګار چې وایي:

نن مې اشنا راته په قار دی خنګه به شي
دا زړه مې څکه ناقرار دی خنګه به شي ([1])

* * *

مخ دې کړل ګلونه شرمنده زلــفو سنبـــل
درومې ستا په لوري له بـــاغ الوځي بلبل ([2])

* * *

په ادا د تورو سترګو دلبري کا
که د هند جادوګران جادوګري کا ([3])

* * *

چرته د یار شونډې چرته غم ددل او جان
چرته کوتي لال او چرته لعل د بدخشان ([4])

# حسن مقطع

که چرته شاعر د خپل کلام په مقطع کې داسې الفاظ سره واوډي چې په زړه کې خوښي یا درد پیدا کړي حسن مقطع ورته وایي لکه:

دژوند شمعه په لاس زه بختاني په نغمو سریم
ویده راویښومه چې بیدار یمه کنــــــــه ([5])

* * *

لویا وه یې پټـــــــکو لره دښکلیو

[1] راز ۹۵ مخ
[2] د عبدالحمید مومند کلیات ۱۳٤ مخ
[3] د کاظم خان شیدا دیوان دانش ۲٤ مخ
[4] عبدالرحمان بابا
[5] راز ۵۱ مخ



چې ساته عبدالحمید شه په څار څار ([1])

* * *

په هندي ادا یې وکړې په ما چـــارې
زه شیـــدا په زړه ساده دروه افغان یم ([2])

# التفات

التفات د سترګو په کنجونو کې کتـل یا مخه کولو اود توجه کولو په معنی دی او په اصطلاح که چرته کلام پـه یو مخ روان وي او شاعر هغـه لـه خپل طرز څخه بدل کړي او په بـل لـور یې روان کړي، التفـات ورتـه وايي پـه عـمومي توګه التفات په دوه ډوله دی:

**الـف** ـ لومړی هغـه ډول دی چې کلام دیوه شخص پـه صیغه (بڼه) روان وي او شاعر یا لیکوال یې صیغه وربدله کړي چې لاندې یې بېلګې راوړل کېږي:

۱ـ **لـه غایب څخـه مـتکلم تـه**: که چرتـه کلام د غایب پـه بڼه روان وي او د متکلم په بڼه پای ته ورسېږي، نوموړی التفات یې بولي ،لکه

علي خان غوندې به تل تـروټه تاوان وي
سوداګر چې ددیــــــــدن وي لکه زه ([3])

* * *

د مژګان په شان یې ځای په تورلېمه کا
چې ګردن په تواضع د هر چا خم کړم ([4])

* * *

نادانې ګڼه غفلت درهـــــــــــروانو
لکه طفل د زانګو په تله کې خواب کړم ([5])

۲ـ **له متکلم څخه غایب**: کلام د متکلم په بڼه روان وي اودغایب په بڼه پای ته رسېږي لکه:

[1] د عبدالحمید مومند کلیات ٦٩ مخ
[2] شیدا دیوان دانش ۲۸ مخ
[3] دیوان علي خان کاکا خیل ۷۱ مخ
[4] شیدا دیوان دانش ۱٤۷ مخ
[5] همدا اثر ۱۵۱ مخ

که هر څو له صبره آه و فـريـاد نه کــــــــړم
نه دی حال د علي خان غونډې غـمجـن پټ (٤)

**٣.له مخاطب څخه غايب**: کلام د مخاطب په بڼه روان وي او د غايب په بڼه پای ومومي ،لکه:

يوه ورځ به دې غـرږ وشي علي خانه
چې فلاني هم لکه ګرد وغبار تېر شه (٥)

**٤.له غايب څخه مخاطب ته**: چې کلام د غايب په بڼه وي او د مخاطب په بڼه پای ته ورسېږي ،لکه:

خوار عاشق پکې همغومره ازارشي
له رقيب سره چې خاندي لــــکه ته (٦)

**٥.له مخاطب څخه متکلم ته**: کلام د مخاطب په پلووي او د متکلم په پلو ختم شي ،لکه:

تا که د جفا لارې بدلې کړې
مـا هم دوفا لارې بدلې کړې (١)

***

ستا د هجر محنتونه به يې زوړ کا
که له دير شو کم په سن وي لکه زه (٢)

***

اوس د تلو توکل کړه درومه حميده
وايم درومم روانــــــــېږم خپله ربه (٣)

که خبر مې شي له خوږ خـــاطره ته
شپه او ورځ به په نارو شــې لکه زه (١)

---

٤ ديوان علي خان، کاکاخېل ٥٢ مخ
٥ همدا اثر ٩٦ مخ
٦ همکار
١ همکار
٢ ديوان علي خان ٧١ مخ
٣ عبدالحميد مومند کليات ١٨٦ مخ



**٦.له متکلم څخه مخاطب ته**: کلام د متکلم په بڼه روان وي او د مخاطب په بڼه پای ته ورسېږي، لکه:

زه به درسته شپه ژړا لکه شبنم کړم
خانده ته د ګل په څېر تازه خوشحاله (٢)

**ب.دويم ډول** يې دادی چې خبره پوره کړي بيا يوه خبره يا مسره راوړي چې پخپله مستقله وي مګر له لومړۍ خبرې سره اړوند شي او د کلام د ښکلا سبب وګرځي ،لکه: علي خان چې وايي:

وار دې سازشه وارته ګوره وار دې ښه دی
نه دا هومره وار چې تېر تر چارې وار کړې

په پورته بيت کې دويمه مسره چې يو څه معنوي ازادي هم لري مګر د لومړۍ مسرې په ښکلا او د معنی په پوره والي کې پوره مرسته کوي.

زار په ځان د دل ازاردی زه درځـــــــارشم
چرې نه وې چې بې شرعې څوک ازار کړې

دلته هم د تېر بيت په څېر دويمه مسره خپله دنده ترسره کوي.

## شاعرانه تعالي

تعالي په لغت کې اوچتوالي ته وايي. په ادبي اصطلاح که چرته شاعر پخپله په خپل کلام کې د شعر جوړونې په اړوند ځان وستايي شاعرانه تعالي ورته وايي لکه حميد مومند چې وايي:

که همسا يې د موسی بولي وګړي
ښايي نن سبا حميده ســـــــتا قلم (٣)

په پورته بيت کې شاعر د خپل قلم معنوي زور د موسی (ع) له همسا سره تشبيه کوي او دا هم وايي چې پورته خبره بالکل مناسبه ده.

هر سړی دغه ارزو کا باري نشي

---

١ عبدالقادر خټک ديوان کابل ٢٠٦ مخ
٢ عبدالحميد مومند کليات ٢٤٦
٣ د عبدالحميد مومند کليات ١٤٩ مخ

که حمید غوندې او خار په ښه ګفتار شي [۱]

خوشحال خان خټک وایي:

د پښتو ژبې یې ډېرې خوبۍ ورکړې
چې خوشحال کړ په پښتو شعر اغاز [۲]

افرین دې په ویلو شه خوشحاله
په بیاض باندې عجب شعر رنګین ېږدې [۳]

شیدا وایي:

د سطور په توره شپه ګویا مشعل دی
د شیدا رنګین مضمون په دیوان څه کا [۴]

رنګیني یې د اشعار تر حنا زېب کا
د شیدا دیوان په لاس واخلئ خــــوبانو [۵]

# ارصاد (تسهیم)

ارصاد په ژبه کې د څارنې او په کمین کې د کښېناستلو په معنا دی او په ادبي اصطلاح هغه صنعت دی چې شاعر د خپل کلام کلمې او تناسب داسې برابر کړي، چې اورېدونکی د کلام د څه برخې تر اورېدو وروسته د کلام ورپسې برخه د خپل ذوق په واسطه درک کړي او په ژبه یې راوړي ، الفت وایي:

د اسرخي چې ته په سرو ګلو کې وینې
فکر وکړه دې د چـــــــا د ځیګر... [۱]

---

۱ همدا اثر ۱٦۰ مخ
۲ خوشحال خان کلیات لومړی ټوک کابل ۸۱ مخ
۳ همدا اثر ٤٤٥ مخ
٤ شیدا دیوان دانش ۱۱۳ مخ
٥ کاظم خان شیدا دیوان دانش ۱٥۷ مخ
۱ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې



زه فکر کوم چې د لوستونکي ذهن ته به د (وینې) کلمه چې د(خون) په معنی ده راغلې وي.

د اجمل اند بیت دی.

که لاس مې پورته کړ نو خامخا جانان به غواړم
څه بې ایمانه دومره نه یم چې....

پوره بیت:

که لاس مې پورته کړ نو خامخا جانان به غواړم
څه بې ایمانه دومره نه یم چې ایمان به غــواړم [۲]

---

۲- هنداري او چینې ۳ مخ

# ابــداع

ابداع په لغت کې د نوي راوړو په معنی دی او په ادبي اصطلاح هغه صنعت دی چې شاعر په خپل کلام (یوبیت یا څلوریزه ) کې ځو بدیعي صنعتونه راوړي خوشحال خان خټک وایي:

عیسَی په معجزې سره ړانده سرې بینا کړل
دانا یې په دعا نشو په عـــــــمر یونادان (١)

پــه پورتــه بیــت کــې د (توجیــه ،طباق،مــستوي قلـب او تلمــیح) ادبــي صنعتونه راغلي دي

دعیسی علیـه الـسلام کیـسې تـه اشـاره ده، نـادان او دانـا یـو د بـل ضـد کلمـې دي(نادان )کې مستوي قلب دی او دا هم نـه معلومېږي چې دا نـا ، نـادانوي کـه نادان دانا کوي.داچې څلور بدیعي صنعتونه پکې راغلي نو ځکه یې ابداع بولي.

بل ځای وایي:

ددنیا یاران په خوی دي ددنیا
بې وفا لکه یې مخ هسې یې شا
که ددین لپاره تاسره یاري کا
له هغو غواړه که غواړې څه وفا (٢)

په پورته بیتونو کې ( تجنیس ، تفریق او طباق الاضداد ) صنعتونه راغلي دي
د عبدالقادر خټک په لاندې بیت کې (تلمیح ، تجنیس ، او طباق )
ادبي صنعتونه وګورئ:

درپسې مې خېژي دم له مــــا مه دږومــه یو دم
زه مرده ته مې عیسَی یې ژوندی کېږم ستا په دم (٣)

یا د نوموړي په لاندې بیت کې د (طرد و عکس او قلب کل) ادبي صنعتونه:

١ خوشحال خان خټک لومړی ټوک کابل ١٦١ مخ
٢ خوشحال خان خټک لومړی ټوک ١٥ مخ
٣ عبدالقادر خټک دیوان کابل ٩٢ مخ



زلفې په مخ کړه خم په خم کښېنه و ماته مخ په مخ
کښېنه و ماته مخ په مخ زلفې په مخ کړه خم په خم (١)

د نوموړي په لاندې بیت کې د (تصدیر او عکس و تبدیل) ادبي صنعتونه:

لېبان ددنیا واړه لېوني دي
لېونیو ته ښکاریږي لېبان (٢)

په لاندې بیت کې ( تجاهل ، تکرار او قلب ) ادبي صنعتونه راغلي دي:

و بورجل ته مې دلدار راځي په ورو ورو
که چمن ته نو بهار راځـــــي په ورو ورو (٣)

# تجرید

تجرید چې خطاب النفس هم ورته ویل کېږي ، په لغت کې لوڅولو او له غلاف څخه د تورې ویستلو ته وایي او په اصطلاح هغه ادبي صنعت دی، چې شاعر خپل نفس مخاطب کړي، لکه شیدا چې وایي:

ما تهي کړ خپل پهلو له شاد مانــیه
شیدا درست په شان دنی آه و ناله یم (٤)

عبدالرحمن بابا خپل نفس په لاندې بیتونو کې مخاطب کړی دی:

ای رحمانه اول ته نصیحت واخله
دغه پسه بیا و بـــل ته نصیحت کړه (٥)

✶✶✶

ذخیره ددنیا مه کوه رحـــــمانه
دا همه واړه د خاورو ذخـــــیرې دي (٦)

١ عبدالقادر خټک ، دیوان کابل ١١٠ مخ
٢ همدا اثر ١٢٧ مخ
٣ کاظم خان شیدا دیوان دانش ١٥٧ مخ
٤ کاظم خان شیدا ، دیوان دانش ١٤٨ مخ
٥ د رحمان بابا کلیات دانش ، ٢٨٥ مخ
٦ همدا اثر ٣٥٣ مخ

## مذهب کلامي*

هغه ادبي صنعت دی ، چې شاعر د خپل مطلب د اثبات لپاره یو څرګند دلیل د اورېدونکي له طبعې سره برابر راوړي او شاعر د استدلال او تفسیر له لارې خپله خبره مخکې کړي، د خوشحال خان خټک بیت دی:

بې اخلاصه د یارۍ څه جواز نشته
خود پوهېږې بې اودسه نماز نشته ([1])

په پورته بیت کې په یارۍ کې د اخلاص شتون یې په لمانځه کې د اودس برابر ښودلی دی یعنې څرنګه چې بې اودسه لمونځ نه کېږي. دا شان یاري بې اخلاصه ممکنه نه ده.

بل ځای وایي:

څه به غم د صغیره ګنـــــاه هغه کا
چې په غاړه کبیره څرګـــــنده اخلي ([2])

حمید مومند وایي:

چې کمال غواړي په کبر احمقان دي
په پلیتو او بونه کـــــېږي اودس ([3])

له جــاهل سره جاهل په ځواب رسي
ده د سپي په څر من منع د سپي داړه ([4])

* مذهب د لارې او طریقې په معنی او (کلامي) کلام ته منسوب ده، کلام هغه علم دی چې د الهي حکمونو پېژندنه د دلیل په راوړلو سره بیانوي

[1] دخوشحال خټک کلیات لومړی ټوک کابل ۲۵۷ مخ
[2] دخوشحال خان کلیات ، لومړی ټوک. کابل ۳۷۹ مخ
[3] د عبدالحمید مومند کلیات ۹۲ مخ
[4] همدا اثر ۲۲۱ مخ



## تناقض ( Paradox )

پارادوکس انګلیسي کلمه ده او معنی یې ده هغه عقیده چې له عمومي عقیدې سره مخالفه وي. تناقض هم یو څه په طباق ادبي صنعت پورې تړلی دی، په ادبي اصطلاح تناقض هغه ادبي صنعت دی چې شاعر دوه څرګندې متضادې کلمې په خپل کلام کې داسې وکاروي چې یوه دربېمه معنی ترې راووځي او داورېدونکي لپاره د منلو وړ وي.

خوشحال خان خټک په لاندې بیت کې (ګدا او بادشاه )په څه ښه ډول غاړه کړي:

بیچاره خوشحال چې ستا د درګـــــدا شو
ځکه زه وربـــــاندې نوم د بادشـــــاه ږدم ([1])

بل ځای نوموړي (لېونتوب او خوشحالي ) سره غاړه کړي:

زه خوشحال په لېونتوب کې خوشحالي کړم
لیونی د پر یوار یمه په ځـــــــــــای یم ([2])

عبدالرحمان بابا (درد ، غم او شادمان) سره په یو ځای غاړه کړي:

زه د یار په درد و غـــم کې شادمان یم
لکه ګل د پریشانۍ په وخت خندان یم ([3])

عبدالقادر خټک د (ازار او حظ ) کلمې په یو ځای جمع کړي دي.

د ازار قدر له نورو ســــره نشته
عاشقان دې له ازاره مومي حظ ([4])

بل ځای یې ( ترخه ویل او نبات) همدارنګه (د پیر دعا او ښکنځل ،ښېرې) سره غاړه کړې دي ، چې غوره والی یې هم(تر خو ویلو او ښکنځلو ته ورکړی دی.

[1] دخوشحال خان کلیات ، اول ټوک. کابل ۱۳٦ مخ
[2] دخوشحال خان خټک کلیات لومړی ټوک کابل ۱۳۸ مخ
[3] د رحمان بابا دیوان پښتو ټولنه ۱۰۵ مخ
[4] د عبدالقادر خټک دیوان کابل ۷٤ مخ

ترنباتو لا خواږه دي ستا ترخه ترخه ويل
ډېر د پير تر دعا به دي ستا د خولې ښېرې ښکنځل (۱)

يا:

خواه ناخواه بهٔ غم زغمي چې عاشقي کا
په دې ناوې پســـــې ښه ســــرور دی دا (۲)

۱ د عبدالقادر ختک ديوان کابل ۷۴ مخ
۲ حميد مومند کليات ٦ مخ



# حس ګډول (حس اميزي)

## Synaesthesia

هغه ادبي صنعت دی چې وينا وال دوه مخالف حسونه يو له بل سره په داسې ډول يو ځای کړي، چې هغه معنی يا صفت چې په يوه خاص حس پورې تړلی دی، داسې څيز ته نسبت کړي چې په ورځنۍ عادي ژبه کې هغه څيز ته نوموړی صفت ورکول کېدای نشي، لکه: لوند شعر، د محبت بوی، خوږ عبارت، د سپوږمۍ بوی.

د خوشحال خان خټک په لاندې بيت کې (لذيذ) د شعر لپاره صفت راغلی دی.

که دې زړه دی چې لذيذ شـــعر وواېم
د خوشحال غوندې پيدا کړه خپل لسان (۱)

حميد مومند په لاندې بيتونو کې سړي ته د سپي مزاج، مسلمان ته د هندو کړه وړه او هندو ته د مسلمان کړه وړه (د احتياج) په وجه منسوب وي.

| | |
|---|---|
| څه بلا يې احـــــــتياجه | چې سړی کړې سګ مزاجه |
| مسلمان هندو روش کړې | او هندو مـــــــسلم رواجه (۲) |

بل ځای حميد مومند (خونخور) ته د (غمخور) صفت راوړی:

د خپل بخت په اړولـــــــــو نه پوهېږم
چې غمخور شه د حميد خونخور په څه (۳)

* * *

ښه لذيذ غزل په ژړا وايه پير محمده
نشته په هجران کې تر ژړا خندا لذيذ (٤)

* * *

د زبان ګرم جوشي ده پرې کړه طمع
وينې سپينې د عالم شوې لکه شمع (٥)

۱ د خوشحال کليات لومړی ټوک کابل، ۱۵۸ مخ
۲ حميد کليات دانش ۱۹۸ مخ
۳ حميد کليات دانش ۲۰٤ مخ
٤ پير محمد کاکړ ديوان ۵۹ مخ
٥ شيدا ديوان دانش ۱۳۳ مخ

دې یتیم ګرېوان ته خو لږ وګـــورئ
مه خاورې کوئ نور ارماني ګـــلان [1]

* * *

رنګ دې په سرو وینو د سپرلي ګلان
ژوبلې اوښکې غواړي پروني ګـــلان [2]

* * *

ښایست ته په لمن کې څڅوم د غزل اوښکې
غزل مې اورنی شود اورونو غېږته ځي [3]

## یادونه:

د (لذیذ) معنی ده خوندور، چې په ورځنۍ عادي ژبه کې د خوراکي شیزونو لپاره کارول کېږي. خو په پورته بیتونو کې د شعر او غزل لپاره کارول شوی دی. همدارنګه د سرې لپاره د سپي مزاج هم بیل صفت دی او د مسلمان لپاره د هندوانو کړه اختیارول او هندو د مسلمان په رواج تلل هم په عامه ورځنۍ ژبه کې نشته. بل ځای د حمید مومند (خونخور) ته د (غمخور) صفت په عامه ورځنۍ عادي ژبه کې نشه او د (وینې) سپینوالی خو ډېره لرې خبره ده، چې شاعرانو په ډېر مهارت په خپلو بیتونو کې په موږ منلي دي.

همدارنګه پیر محمد کاکړ غزل ته د لذیذ او هم ژړا ته د لذیذ صفت راوړی دی، سید افضل شیرزاد هم په خپلو شعرونو کې ګرېوان ته د یتیم، اوښکو ته ژوبلوالی او غزل ته د اوښکو صفتونه راوړي دي، چې په ورځنۍ ژبه کې دا کار نه کېږي، خو شاعر یې په شاعرانه کمال په خلکو مني او د دې کلمو یو بل ته منسوبول بد نه ګڼي بلکې خوند ترې اخلي.

[1] سترې مزلونه ۹ مخ
[2] همدا اثر ۹ مخ
[3] همدا اثر ۲۰ مخ



## شخصیت ورکول (پرسونیفیکاسیون)

کله لیکوالان او شاعران هغه ځانګړنې او صفتونه چې په انسان پورې خاص دي ځینو شیانو او حیواناتو ته ورکوي، لکه اسمان، نسیم، د سبا باد، یا غره ته خطاب کول او له هغوی سره خبرې کول، دې کار ته په ادب کې شخصیت ورکول وایي، ښې ښېلګې یې هغه بالکنایه استعارې دي چې له انسان سره تشبېه پکې راغلې وي، لکه د عبدالرحمن بابا لاندې بیت:

هر ساعت زما د غوږ په تـاوولو
د فلک لاسونه شنه شو تر څنګلو [1]

په پورته بیت کې (فلک) ته لاسونه، څنګلې او شین والی، چې انساني ځانګړنې دي ورکړل شوي دي.

د پیر محمد کاروان بیت دی:

لکه مـــــاشوم غوندې دې وتخنول
چې شول کټ کټ په خندا شنه شعرونه [2]

خوشحال خټک (محبت) ته د بدرګې په ځانګړنه شخصیت ورکوي.

بدرګه کـــــــه مـــحبت راسره نه وای
یک تنها به پرخونخوارو لارو تلل څوک [3]

بل ځای میاشت (سپوږمۍ) مخاطب کوي:

څه لره ای مـــیاشتې ته خپل مخ ستایې وماته
یار پر مخ مې نور ځي ستا پر مخ باندې تورتم [4]

پیر محمد کاکړ هم په خپل وار (نسیم او شمال) په لاندې بیتونو کې مخاطب کړي دي:

[1] د رحمان بابا دیوان کابل ۱۲۳ مخ
[2] له ماښامه تر ماښامه ۲٤ مخ
[3] د خوشحال خان خټک کلیات لومړی ټوک کابل ۱۰٤ مخ
[4] همدا اثر ۱۲٤ مخ

د کاکل غوټه یې خلاصه کړه نسیمه
معطرې په ښه بوی کړه لږ مـــشام ([1])

✲ ✲ ✲

ته چې قصد دیار پر زلفو کړې شمالـــه
خبر واخله د پرېشانو زړو له حـــــاله ([2])

عبدالقادر ختک هم (نسیم) مخاطب کړی.

د لیيم په ګلزار مه راځه نسیمه !
چرې نه وي بوی یې راوړې زما شم ته ([3])

همدا شان کاظم خان شیدا هم (شمال) مخاطب کړی دی.

چې همېش لکه مجنون په صحرا ګرځي
بوی د چادزلفو د رغی شمـــــــــاله ([4])

# افتنان

افتنان په لغت کې رنګارنګ خبرو راوړلو ته وايي او په ادبي اصطلاح که چرته په یوه جلمه یا بیت کې دوه مختلفې موضوګانې د خبرو له بابه سره جمع شي لکه: ستاینه او غندنه بزم او رزم یا داسې نور افتنان ورته وايي. خوشحال خان ختک په دې اړه ګڼ بیتونه لري چې لاندې یې راوړو:

رزم او بزم:

توره چې تېرېږي خو ګوزار لـــــــره کنه
زلفې چې ول ول شي خو خپل یار لره کنه

روا او نارو ا:

شیخ دې لمونځ روژه کازه به ډکې پیالې اخلم
هر سړی پیدا دی خپل خـــــــپل کار لره کنه ([5])

[1] پیر محمد کاکړ دیوان ۳۹ مخ
[2] همدا اثر ۱۲۸ مخ
[3] د عبدالقادر ختک دیوان کابل ۱٦۸ مخ
[4] شیدا دیوان دانش ۲۰٦ مخ
[5] خوشحال خان کلیات لومړی ټوک کابل ۲٦۳ مخ



مدحه او هجوه:

په هر چا د سپینې ږیرې حرمت ډیر دی
خو په جونو قدر نشته د سپین ږیرو ([1])

عبدالرحمن بابا هم مدحه او هجوه سره یو ځای کوي:

سخي هر یو د خدای دوست دی ولو کان فاسقا
هر بخیل د خدای دښمن دی و لو کان زاهدا ([2])

## استخدام (ګومارنه )

په لغت کې په خدمت ګمارلو ته وايي او د بدیع په اصطلاح که شاعر په خپل کلام کې یوه کلمه په دوو معناوو وکاروي او دواړه ، ( یعنې کومه کلمه چې دوه معناوې لري) د کلام له یوې برخې سره یوه معنی ورکړي او له بلې سره بله معنی ورکړي.

د نوموړې صنعت له ایهام سره همدا توپیر دی ، چې په ایهام کې ترېنه یوه معنی مراد بېږي او دلته ترې دواړه معنا وې مراد وي.

د سید شاه سعود په لاندې بیت کې پرېشان د (خفه او غورېدو ) په معنی کارول شوی دی ، که چرته (پرېشان) زلفو ته منسوب شي د (غورېدو ) معنی ورکوي او که (ځوک) ضمیر ته منسوب شي بیا د (خفه ) معنی ورکوي.

بس تشې زلفې خو دې نه دي چې راټولې یې کړم
دلته ځوک نور هم پرېشان دي ته خبر یې کـــه نه ([3])

عبدالرحمن بابا هم د (نکاح) کلمه د (نژدې والي او تړون) په معنی کارولې ده ، که دنیا ته یې منسوب کړو د (نژدېوالي) معنی ورکوي او که پخپله عبدالرحمن بابا ته یې نسبت وکړو بیا د تړون معنی ورکوي.

ددنیا ناوې په عقد کې دین غواړي
ای رحمانه ځان ترې ژغوره له نکاح ([4])

[1] پیر محمد کاکړ دیوان ۲٦۳ مخ
[2] همدا اثر ۳٤۲ مخ
[3] دیوان عبدالرحمن بابا پېښور ۷۹ مخ
[4] جانانه ستا ........... ۷٤ مخ

ځینې وخت یوه کلمه په عین ترکیب کې په دوو معنا وو کارول کېږي یعنې د یوې جملې یا بیت دوه برخې هم نه وي او څه ضمیر یا اشاره هم نه وي راغلې مګر همغه ترکیب د کلمې په یوه معنی کې یو ډول او په بله معنې کې بل ډول معنی ورکوي.

عبدالقادر خټک وایي:

بېهوده د ګلو پاڼې خورې نه دي
په رموز ورته ویلي دي سبا څه (۱)

په پورته بیت کې د (خورې) کلمه د (رژېدو) او (غورېدو) په معنی کارول شوې دی.

کاظم خان شیدا وایي:

چې اثر یې د بنا په ځـــای پرې نه یږدم
د حباب غوندې په وران کور د دنیا کړم (۲)

په پورته بیت کې له (دنیا) څخه د (دولت) او د (جهان) معنی اخستلای شو.

بل ځای وایي:

شین وم زه لکه سپند و خپل سوختن ته
چې پر شاخ مې ارام نـــه وي بې مجمره (۳)

(شین) د ټوکېدو په معنی او هم د (ډېرې لېوالتیا) په معنی راغلی دی.

خوشحال خان وایي:

چې هر لوري وته درومم په غم اورم
ته به وایې غم یک لخته ښکار زما دی

په پورته بیت کې د (ښکار) کلمه د مفعول او هم د فعل په بڼه کارېدلې ده.

۱ د عبدالقادر خټک دیوان کابل ۱۷ مخ
۲ شیدا دیوان دانش ۱۴۱ مخ
۳ همدا اثر ۸۲ مخ



د استخدام بل ډول دا سې دی چې له کلمې څخه یوه معنی او له اړوند ضمیر یا نوم څخه د پام وړ معنی واخستل شي.لکه:

ګلدسته یې خوشبویي د هر مشام ده
بخاري ورتــه په ناز د یبا چه کښلې (۱)

په پورته بیت کې (ګلدسته) د ګلو د ګېډۍ په معنی ده. که د (خیال بخاري) نوم ته متوجه شو هغه کتاب چې عبدالقادر خټک د ګلستان ژباړه پکې کړې ، ترې مراد دی.

# جمع

که شاعر په خپل کلام کې څو څیزونه یا معناوې تر یوه حکم لاندې راوړي جمع ادبي صنعت یې بولي: لکه:

عقل څه وي منطق څه وي حکمت څه وي
غــولـــول د یوه بــــل په هغه دا (۲)

نن سبا عقلمند سړی هغه دی چې په څه چل څوک وکاروي او ګټه یې په خپل جېب کې واچوي.همدا شان هر علم چې څوک حاصلوي د خدمت په عوض خپل مادیات پکې لټوي. په پورته بیت کې یې (عقل ، منطق او حکمت) د (غولولو) تر حکم لاندې جمع کړي دي.

که اسمان او که دا ځمکه کـــه هواده
که د لمر او د سپوږمۍ سپینه رڼا ده
دغه واړه خدای پیدا کړه ســتا لپاره
دنیا ټوله ستا د دوو سترګـو بها ده (۳)

په پورته دوو بیتونو کې یې (اسمان ، ځمکه ، هوا ، لمر او سپوږمۍ) د (ستالپاره ) کلمې تر حکم لاندې را جمع کړي دي.

۱ همکار
۲ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
۳ د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې

بې له علمه بې له عدله بې له رحمه
په چا باندې روا کله حکومت دی ( [1] )

په پورته بیت کې یې (علم ، عدل او رحم ) د (روا ) کلمې تر حکم لاندې جمع کړي دي.

ځه په لوږه ځه په تبه ځه په تبغ مري
ورک شه ورک شه د پښتون خواره نصیبه ( [2] )

(لوږه ، تبه او تبغ ) یې (د خوار نصیب ) تر کلمې لاندې په یوه حکم جمع کړی دی.

پنځو پیسو لپاره سل رنګه ظلمونه کوي
د رشوت ځای کې دین ایمان ورور او اشنا نه لري ( [3] )

(دین ، ایمان ، ورور او اشنا ) یې د (رشوت ) تر کلمې لاندې په یوه حکم کې جمع کړي دي.

## تمرین

په لاندې بیتونو کې یې کومې کلمې د کومې کلمې تر حکم لاندې جمع کړي دي؟

دا همه واړه عاشق لره پیدا شو
که تهمت که ملامت دی که پېغور ( [4] )

✱✱✱

ورک شه ورک شه بد کرداره بد سړی
که دې ورور که دې عزیز وي که پردی ( [4] )

داهمه په بد خو بیه علامت دی

[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[2] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[3] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[4] د رحمان بابا کلیات دانش ۱۵۷ مخ
[4] دیوان عبدالرحمن پېښور ۸۰ مخ



چې سړی زنا خونونه ټګي غلا کا ( [1] )

✱✱✱

دا همه له ناپوهیه پیدا کېږي
خر خښې دعوې نا سازې شروشور ( [2] )

✱✱✱

بې وفا دي دا درې توکه
توره ، ښځه ، درېیم اس ( [3] )

✱✱✱

په دا څو توکه دې هېڅوک باور نه کا
په وعده د کښلیو خوب دی که فالونه ( [4] )

## تفریق

په لغت کې د بېلولو په معنی دی او په اصطلاح هغه ادبي صنعت دی چې شاعر د تخیل په زور او په شاعرانه ذوق ، د دوو څیزونو تر منځ توپیر پیدا کړي او د خبرو په داسې طرز یې وو ایي چې اورېدونکي یې قبول کړي.علي خان وایي:

وروځې ورېځې مې د یار دي
سېراب پرې کل اغیار دي
ما خوار ته لـړم اوري
سر تا قدم له ناره ( [5] )

لومړی یې د اغیار لپاره وروځو ته د وریځ صفت ورکړی دی چې هغوی پرې خړوب دي او همدا څیز د شاعر لپاره د اور لړمان دي.

خوشحال خان خټک وایي:

کافر سړی هغه دی چې د نس په هوا درومي

[1] د الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې
[2] د خوشحال خان خټک کلیات لومړی ټوک کابل ۳٦ مخ
[3] د خوشحال خان خټک کلیات لومړی ټوک کابل ۸۸ مخ
[4] همدا اثر ۱٤۲ مخ
[5] روح ادب ۱۰۸ مخ

مومن سړی هغه دی چې تل غم کا د ایمـان [1]

په پورته شعر کې د کافر او مومن تر منځ توپیر یې واضع کړی دی.

بل ځای د ولي او شیطان تر منځ داسې توپیر کوي.

یو قدم چې په خـــلاف د نس روان شي
په هغه زمان ولـــــي هغه انسان شي
چې د نس په حکم درومي هغه خوار وي
سړیتوب و رځخه مه غواړه شیطان شي

***

خسا جوته مـــــــــردار هډونه
سپي ګـــيدړ شرمښ کفتار خوري
د مزریو هـــــــــنر دادی
چې یا صبر یا خپل ښکار خوري [2]

***

ځوانه ښځه لـــــکه باد د نوبهار دی
د بهــــــار په باد دننه زړه ښه کېږي
زړه ښځه په مـــــثال د مني وخت دی
چې علت او رنځوري ترې حاصلېږي [3]

# تقسیم

په دې صنعت کې لومړی شاعر څو کلمې د اجمال په ډول راوړي، بیا هغه کلمې چې د اجمالي کلمو له حال سره سمې وي په مشخص او معین ډول راوړي.

د نوموړي ادبي صنعت له (لف او نشر) سره توپیر دادی، چې په تقسیم کې د کومو کلمو نسبت چې مجملو کلمو ته کېږي مشخص وي په داسې حال

[1] د خوشحال خان کلیات
[2] د خوشحال خان ختک کلیات دویم ټوک پېښور ۴۱۰ مخ
[3] همدا اثر ۴۱۰ مخ



کې چې د لف و نشر په ادبي صنعت کې تشخیص او تعین په لوستو نکو پورې اړه لري.

د بېلګې په ډول په لاندې بیت کې (حجاج) د مسلمان په کلمه مشخص شوی او (نوشیروان) د کافر په کلمه مشخص شوی دی چې د نامرتب تقسیم ښه بېلګه ده.

خوشحال ختک وايي:

که نوم د حجاج اورې، اورې نوم د نوشېروان
په عدل کافر ښه شه ظلم بد کړ مـــــسلمان [1]

د همدې ټوک په (۴۲۷) مخ کې بیا پورتنۍ کلمې د اجمال په ډول راوړې او هغه کلمې چې د دوی وضاحت کوي په مشخص ډول نه راوړي بلکې لوستونکي ته پکې یو څه رایه پرېږدي، چې د نامرتب لف و نشر غوره بېلګه ده:

په جهان کې که حجاج که نوشېروان و
هم دا داد او دا بېـــداد شوځنې پاتې

تقسیم ادبي صنعت هم لکه د لف ونشر په مرتب او نامرتب وېشل کېږي

۱- د مرتب تقسیم څو بېلګې:

ستاد سترګو دباڼو تر منځ حیران یم
یو مې وژني په سره اور بل په نېزو [2]

لومړی یې سترګې او باڼه په اجمالي ډول راوړي دي چې بیا یې د سترګو وضاحت په وژنه کړی او مشخص والی په (سره اور) کړی او د باڼو تفصیل یې هم په (وژنه) کړی چې تشخیص یې په (نېزو) سره شوی دی.

[1] خوشحال خان کلیات لومړی علوم
[2] عبدالحمید مومند کلیات ۱۷۷ مخ

روغ رنځو رکله مجلس په یوه ځای کا
ښاد ښادی، ته ماتمي درومي ماتم ته [1]

✶✶✶

یو کاندي ویشتل بل بندول دربیم نتل کا
وروځې دې کما ن زلفې کمند سپا هي کاکل ستا

(یو، بل او دربیم) اجمالي کلمې دي چې تفصیل یې په (ورځو او زلفو، کاکل) شوی دی چې په عین حال کې هر ه تفصیلي کلمه (وروځي په کمان، زلفې په کمند او کاکل په سپاهي مشخص شوی دی).

۲- د نامرتب تقسیم څو بېلګې:

توري زلفې شنه خالونه سره رخسار
شنه توتیان دي سره ګلونه توربشامار [2]

په پورته بیت کې توري زلفې شنه خالونه او سور رخسار د اجمال په بڼه راغلي دي چې په (شنه، سره او تور) صفتونو سره مشخصوي.

که نوم د حجاج اورې، اورې نوم د نوشېروان
په عدل کافر ښه شه ظلم بد کړ مسلمان

(عدل) د نوشېروان او (ظلم) د حجاج کلمې مشخصې کوي.

# جمع او تفریق

دا هغه ادبي صنعت دی چې شاعر لومړی دوه یا څو څیزه سره جمع کړي او بیا د هغوی په منځ کې توپیر پیدا کړي، له (تفریق) سره یې دا توپیر دی چې په (تفریق) کې د اومورو د بیلوالي سبب یو په بل نه توجیه کېږي مګر په (جمع او تفریق) کې د توجیه وجه څرګند ېږي.

دوه سرې په باغ کې ګرځي یو ګل ګوري

---

[1] عبدالقادر ختک
[2] د یونس دیوان ۸۶ مخ



دویم ګرځي په طلب د خارو خس [1]

لومړی یې دوه سرې په ګرځېدو کې سره جمع کړي دي او بیا یې د ګل او خار وخس په کلمو سره توپیر کړي دي.

یو شر مښ وویل یو سړي ته
زه او ته همېشه غوښې د پسه خورو
ته یې وژنې په چاړه زه په منګلو
څه مو فرق که یو پاخه او بل اومه خورو [2]

لومړی سړی او شرمښ د غوښې په خوراک کې سره جمع شوي او بیا د (چاړې او منګولو) او همدارنګه په (اومو او پخو) سره بېل شوي دي

ډېر په دریاب ګډ شي واړه مټ کال د وتلو
څوک پکې لاهو شي ځینې وريې شي تر شطه [3]

لومړی کسان په دریاب کې د ګډېدو او مټ په کلمو جمع کوي او بیا یې د لاهو او شط په کلمو توپیر کوي.

کامګار وایي:

زخمي زړه زما ستا حسن ګویا ګل دیوه باغ دی
دا نازک د ګل تر پاڼې هغه عین هزاره [4]

✶✶✶

تې زما او د فرهاد پیدا شه په یوه تر ښځ
هغه وواهه خپل سر ما پرې پرې کړې خپلې پښې [5]

لومړی د ترښځ په کلمه کې جمع شوي او بیا د سر او پښو په کلمو سره توپیر شوي دي.

رنځوران مري په درې رنګه
ځینې ومري بې طبیبه

---

[1] د خوشحال خان کلیات کابل لومړی توک ۸۹ مخ
[2] لکچر نوټ
[3] د خوشحال خان ختک کلیات، لومړی توک کابل ۲۲٦ مخ
[4] روح ادب ۱۰۹ مخ
[5] همکار

ځوک ناقص طبيبان وژني
د چا مرګ وي له نصيبه [1]

# جمع او تقسيم

په نوموړي ادبي صنعت کې دوه يا څو څيزونه په يوه صفت يا حالت کې سره جمع کړي او بيا د هر يو اړونده کلمه په مشخص ډول په مرتب يا نامرتبه بڼه راوړي.

۱- د مرتب جمع او تقسيم بېلګې:

حميد مومند وايي:

يو زګېروی کا په مسجد په ميخانه کې
مسلمان دی که کافر دی ستا له درده [2]

لومړي يې مسلمان او کافر د زګېروي په کلمه کې سره جمع کړي او بيا يې د مسجد او ميخانه په کلمو سره تقسيم او مشخص کړي دي.

خوشحال خټک وايي:

د چا زړه لکه کابل د چا بګرام دی
د يوه نصيب سـاړه د بل ګرما [3]

په پورته بيت کې کابل او بګرام دزړه په کلمه کې جمع شوی دی بيا د سړو او ګرمۍ په وجه د( يو او بل) په کلمو مشخصې شوې دي.

بل ځای خوشحال خټک وايي:

په جهان کې څلور قسمه دی نعمت
عاقــلان يې دي خبر په حقيقت
لومړنی نعمت د عــلم د ښه خلق دی
دا نعمت په دواړه کـونه دی راحت
بل نعمت د نادانۍ د بدخويۍ دی

[1] د خوشحال کليات دويم ټوک پېښور ٤١٠ مخ
[2] عبدالحميد مومند کليات ٢٠٦ مخ
[3] د خوشحال خان خټک کليات لومړی ټوک کابل ٢٥ مخ



سراسر په دواړه کــونه دی زحمت
بل نعمت په دا جهان د ډېر دولت دی
چې هر شان پرې ابــلهان کا فراغت
بل نعمت د رياضت دی که يې ګورې
په هغه جهان راحــت د لې زحمت [1]

پــه پورتـه څـو بيتونـو کـې لـومړی څلـور ډولـه نعمـت(د عـاقلانو د خبرېدو ) په ترکيب کې سره جمع کړي دي، بيا يې په ترتيب د عمل او ښهٔ خلق نعمت چې د دواړو کونو په راحت سره يې مشخص کړی دی.

دويم نعمت د نادانۍ اوبدخويۍ دی چې په دواړه کونه کې د سراسر زحمت په ترکيب مشخص شوی دی.

دريم نعمت د ډېر دولت دی چې د ابلهانو په فراغت مشخص شوی دی.

څلورم نعمت د رياضت دی چې پـه دې جهـان د زحمت او هغـه جهـان د راحت په کلمو مشخص شو ی دی.

بل ځای خوشحال خان خټک وايي:

په ځان او په جهان کې مــا دوه څيزه دي وکنبلي
په ځان کې دواړه سترګې په جهان کې واړه کنبلي [2]

لومړی يې ځان او جهان د (دوه څيزه و کنبلي ) په ترکيب کې جمع کړي او بيايې د (ځان لپاره دوه سترګې او جهان لپاره واړه کنبلي پـه مشخص ډول راوړي دي ). يعنې په ځان کې سترګې او په جهان کې ټول ښکلي.

## ۲- د نامرتب جمع او تقسيم بېلګې:

د تـــور او سپين او سره د وستي خاطر ته
سپين مـــخ سرې شونډې تور چشمان راولي [3]

[1] د خوشحال خان خټک کليات لومړی ټوک کابل ٣٧ مخ
[2] د خوشحال خان خټک کليات دانش ٤٦٧ مخ
[3] د الفت په اشعارو کې بديعي ښکلاوې

لومړی یې (تور ،سپین او سره ) کلمې د (دوستۍ) په کلمه کې سره جمع کړې او بیا یې د همدې صفتونو په راوړلو مخ ، شونډې او تور چشمان مشخص کړي دي.

## اسلوب الحکیم (د حکمت چار )

اسلوب د طرز او لارې او حکیم د عالم په معنی دی ، ادبي فنونو کې هغه ادبي صنعت دی چې اوریدونکی دو یونکي خبره د خپل زړه پر خوښه او د ویونکي د نظر په خلاف څرګنده کړي.

خو شحال بابا وایي:

د عشق غم له خلقه پټ ساته خوشحاله
څه یې پټ کړم چې جهان ځنې خبر دی [1]

په پورته بیت کې متکلم خوشحال ته د نصیحت په بڼه د عشق پټوالی سپارښتنه کوي ، مګر خوشحال خان د متکلم د فکر خلاف د خپلې خوښې ځواب ورکوي.

ماته څه وایې ، چې وایه !څوک دې وژني
ته له خپلو سترګو غــــــواړه دا ځواب [2]

په پورته بیت کې په ډېر حکمت سره شاعر خپلې معشوقې ته وایي، چې ته مې وژنې.

## استتباع

په لغت کې د پلټنې طلب ته وایي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې د چا یا یو څیز په کلام کې داسې ستاینه شوې وي چې له هغې څخه د همغه بله ستا ینه یا صفت هم حاصل شي.

لکه:

که دې د زلفو ســـــوری نه وای
د مخ رڼا به دې جهان سیزلی ونه [3]

[1] د خوشحال کلیات دانش ۹۵۸ مخ
[2] د خوشحال خان کلیات لومړی ټوک کابل ۳٤ مخ
[3] زرکانی ، ۲۲۸ مخ



په پورته ټپه کې د یو کس د زلفو د سوري او د مخ د رڼا ستا ینه سره غبرګه شوې ده.

مخ دې بلې لمبې کاندي خوله دې ګل شي بیا غونچه شي
ځکه مــــــــاته ډېرې ګرانې د پتنګ ، بلبل نخرې دي [4]

په پورته بیت کې د محبوب د مخ او د خولې ستاینه سره جوړه شوې ده، او شاعر د ځان لپاره په منفي انداز د پتنګ او بلبل صفت سره غبرګ کړی دی.

د خوشحال خان خټک بیت دی:

دواړه شونډې دې شراب پرتګالي دي
په سره والي له یاقوتو په سـيالي دي [1]

په پورته بیت کې شاعر یو ځل شونډو ته د پرتګالي شرابو صفت ورکوي او په دویم نیم بیتي کې د یاقوتو صفت ورته راوړي.

[4] ستا د سترګو بلا واخلم ، ۱۲٤ مخ
[1] خوشحال خان کلیات لومړی ټوک کابل ۳۸۵ مخ

# ادماج (نغښتل )

ادماج په لغت کې نغښتلو ، څه شی په جامه کې تاوولو او همدارنګه د پټولو په معنی دی او د بديع د علم په اصطلاح که د چا ، يا يو شي د ستاينې يا غندنې په ضمن کې يوه بله موضوع راشي او د خبرې په ښکلې کولو او لطف ورکولو کې زياتونه وکړي.

سايل وايي:

ستا ديدن راته د خپل وطن نظام شه
وږې ترې مې ســـاتي په زولنو کې ([1])

شاعر په پورته بيت کې د يار له ديدن څخه سر ټکوي چې زما خيال هېڅ نه ساتي لکه څوک چې د چا بندي وي او د خوراک هېڅ غم يې ورسره نه وي. همدارنګه د پورته خبرې تر څنګ يوه بله موضوع چې هغه د خپل وطن پر نظام طنز دی ، ضمني راغلې ده او د خبرې په ښکلا کې يې لا زياته اضافه کړې ده.

ولسي شاعر سلطان مير مومند د خپلې چاربيتې (هيکل او لونګين ) په يوه بند کې د هيکل د رېښې تر څنګ د زرګرانو ټګۍ ته ضمناً اشاره کوي.

هيکله شه خبر – ته نه يې چاندي زر – اصيل نه کوي شر
جوړ شوی کوټ بنګالو نه ټګان دي زرګران شول
شريعت ته چې روان شو ([2])

[1] امان الله زرکانی ساپی ۱۱۰ مخ
[2] د چپرهار ليکوال او شاعران ۵۳ مخ



# مزاوجه

په ژبه کې يو له بله سره جوړه کېدل او نژدې کېدلو ته وايي او د بديع په اصطلاح هغه ادبي صنعت دی چې شاعر يا ليکوال په کلام کې دوې داسې معنا وې راوړي چې ددوارو يوه پايله (نتيجه ) وي. حميد مومند وايي:

نه له تاسره سهېږم نه بې تا
مبتلا دې کړم په څه بلا بتا ([1])

په پورته بيت کې د (ژوند د زحمت د ګاللو ) دوه مخه بيانوي شاعر خپل محبوب ته وايي نه له تاسره يو ځای او سېدی شم او همدارنګه بې له تا هم ژوند راته ګران دی په پښتو کې اصطلاح ده (په دوه و کې دې حيران کړم ) په مزاوجه کې هم همدا کار پېښېږي.

بل ځای وايي

که يې وصل وي که هجر
دواړه وژله کــــا يکباره ([2])

په پورته بيت کې د وژلو فعل په وصل او هجر دواړو کې په خپل حالت دی. يعنې د يار وصل هم د عاشق د وژلو کار تر سره کوي او هجر يې هم همدا کار کوي.

د خوږ دل بيت دی:

چې کوتل کــه په کتلو هم تبل کا
په هغه تيغ و مرهم باندې مين يم ([3])

د (کوتل) معنی ده ( حلالول، زخمي کول او پرې پرې کول ) او د (تبل ) معنی ده (ټکورول ، خوږمن ځای په ګرم ځيز تودول، پټۍ لګول)
دلته محبوب پر کتلو دوه کاره کوي، له يو خوا خپل عاشق پرې ټپي کوي او له بل پلوه د همدې کتلو پو اسطه د عاشق پر زخم پټۍ ږدي
د رحمان بابا بيت دی:

[1] زرکانی ۱۱۰ مخ
[2] د عبدالحميد مومند کليات ۲۱۱ مخ
[3] روح ادب ۱۲۵ مخ

غم دې هسې غــلبه شه په ماباندې
چې مې نه دننه ځای شي نه د باندې (١)

# مشاکله

په لغت کې هم شکلی ته وايي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په کلام کې دوې يا زياتې داسې کلمې راوړي چې څرګندې بڼې يې له يوه نوم څخه راوتلي برېښي خو داسې نه وي.

له (شبه اشتقاق) سره د (مشاکله) ادبي صنعت توپير همداد ی چې په شبه اشتقاق کې اعتبار مصدر او مصدري ريښې ته دی او په مشاکله کې اعتبار نوم ته دی.

د خوشحال خټک په لاندې بيت کې د مشاکله ادبي صنعت کتلای شو.

زه په عشق کې مستانه لکه مجنون يم
چې مې نشته په دې قـــــــرن قرينه (٢)

په پورته بيت کې د (قرن او قرينه) کلمې څرګندې داسې برېښي چې د يوې کلمې دوه بڼې وي، مګر داسې نه ده قرن بيله کلمه ده او قرينه بيله کلمه ده، (قرن) د پېړۍ په معنی او (قرينه) د (نژدې) معنی ورکوي.

بل ځای حميد مومند وايي:

خو درايي له هغو نه کــبرې حميده
چې مين شي په خودرو و په خودرای (٣)

په پورته بيت کې د (خودرو) او (خودرای) په کلمو کې مشاکله ادبي صنعت راغلی دی چې ظاهرا له يوې بڼې څخه برېښي مګر حقيقت يې بيل دی.

١ د رحمان بابا کليات دانش ٣٩٨ مخ
٢ خوشحال کليات لومړی ټوک کابل ٢٨٨ مخ
٣ د عبدالحميد مومند کليات ٢٦ مخ



# ژباړه

هغه ادبي صنعت دی چې له يوې ژبې څخه نظم په بله ژبه په نظم ژباړل شوی وي.

سعدي وايي:

عاقبـــــت ګرګ زاده ګرګ شود
ګر چـــــــه به ادم بزرګ شود

عبدالقادر خټک په (ګلدسته) کې داسې ژباړلی:

عاقبت به دليوه بچړي لـــيوه شي
که هر څوېې پرورش له سړي وشي (١)

دګلدستې پر (٩٦) مخ د شيخ سعدي دلاندې بيتونو ژباړه کوي:

بني ادم اعـضا ی يک پيکراند
که درافر ينـش زيک جوهراند
چو عضوی بـدرد اور د روزګار
ديګر عضوها را نمـــاند قرار
تو کز محنت ديګران بـــېغمي
نشايد که نامت نهـــند ادمي

ژباړه:

په معنی کې ادم زادواحـــد صورت دی
پلار يې يواصـــل يې يويو يې فطرت دی
چې په دردشـــي يو انـــدام د ادم زاد
بل اندام کـــــلـــه له غـــمه وي ازاد
ته له غمه چـــــــې د بل ادم بېغم يې
نه پوهېږم چې حــــيوان يې کـه ادم يې (٢)

١ ګلدسته ٨٩ مخ
٢ ګلدسته ٩٤ مخ

همدارنګه زرغونې هم د سعدي د لاندې نظم ژباړه په ازاد ډول په نظم ژباړلې ده:

شنیدم که روزې سحرګاه عید
زګرمابه امد برون بایزید
یکي طشت خاکسترش بیخبر
فروریختند از سرای بسر
همیګفت ژولیده دستار وموی
کف دست شکرانه مالان بروی
که ای نفس من درخورا تشم
زخاکستري روی درهم کشم
بزرګان نکردند در خود نګاه
خدا بیني از خویشتن بین مخوا
ګنه کار آند یشه ناک از خدای
بسی بهتر از عابد خودنمای (۱)

ژباړه:

اوربدلې مې کیسه ده — چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار — بایزید چې و رویدار
له حمامه راوتلی — په کوڅه کې تېربدلی
ایرې خاورې چاله بامه — را چپه کړلې ناپامه
مخ او سر یې شو ککړ — په ایرو په خاورو خړ
بایزید په شکر کښنو شو — د خپل مخ په پاکېدو شو
چې زه ورېم د بل اور — چې په اور کې شم نسکور
له ایرو به څه بد ورمه — یا به لږ شکوه کومه
هو پوهانو ځان ایرې کړ — له لویني یې ځان پرې کړ
څوک چې ځان ته ګوري تل — خدای ته نه شي کړای کتل

۱ مجمع الفصحا ۷۶۸ مخ



لويي تل په ګفتار نه ده لو خبره په کار نه ده
تواضع به دې سر لوړ کا
تکبر به دې تل څوړ کا (۱)

## لرغون غوښتنه

که چرته د نن زمانې (نن سبا) شاعر یا لیکوال په خپل کلام کې هغه کلمې او اصطلاحګانې رواړي چې په اوسنۍ ژبه کې نه کارول کېږي او په تېر وخت پورې اړه ولري.

دلته د ګوهر رحمان ګوهر څو بیتونه رااخلو چې په هغو کې داسې کلمې راغلي چې په اوسنۍ پښتو کې نه کارول کېږي.

د مېږو د خولې چې ووځي
نو دهر سرې په خوله شي
یو هوډي بیرغ او چت کړي
بیا تور تیپ په خوځېده شي
چې برغو د پاڅون واوري
نور راوېښ د مرګ اوده شي
د پنځولو چل چې زده کړي
د اوګړي خو د وله شي
د پېښنې لارې چې پرېږدي
نو اخر وابه په خوله شي (۲)

په پورته نظم کې (هوډي، تیپ، برغو، پنځول، وله او پېښنې) کلمې راغلي دي چې په اوسنۍ پښتو کې یې عام وګړي نه کاروي، د (هوډي) معنی (عزم کونکی یا د عزم خاوند) د (تیپ) معنی (لښکر یاد عسکرو قطار)–د

۱ پټه خزانه ۱۰۶ او ۱۰۷ مخونه
۲ ډیوټ ۱۷۸ مخ

(برغو) معنی (ښکر یا سورونی) د (پنځول) معنی (پیدا کول یا ایجادول) – د (وله) معنی (ډز بند) او د (پېنۍ) معنی (جهان، نړۍ یا کاینات) ده.

# انځور ګري

که چرته شاعر په خپل کلام کې د خپل تخیل په زور داسې کلمې سره غاړه کړي چې دلوستونکي یا اورېدنکي په ذهن کې د بیت مفهوم د یو انځور په بڼه لا ر پیدا کړي. انځور ګري ورته وایي، په شعر کې دوه ډوله انځورونه تر سترګو کېږي: عیني انځورونه، چې په طبیعت کې یې په ځرګند ډول وینو او بل ډول یې ذهني انځورونه دي، چې په طبیعت کې یې موږ نشو لیدلای بلکې جوړښت یې موږ په خپل تخیل کې لیدلای شو، چې له ظاهري نړۍ سره یې څه کار نشته.

د عیني انځورونو څو بېلګې:

کاظم شیدا وایي:

توري سترګې دې شوې تر ې په خندا کې
که هندوې د هند لامبې پــــه ګنګا کې [2]

رحمان بابا وایي:

که غبار د ستا د لارې پــــه خوا ورشي
که په دواړو سترګو ړوندوي مبصر شي [3]

حمید مومند:

لا پر کېږي ننبتی ښکار تر ښکاري لاندې
ځکه وصل ته (حمید) کا اضطراب سخت [4]

✶✶✶

چې په سوال او ږدوې لاس چاته حمیده

---

[2] کاظم خان شیدا دیوان، دانش ۲۹٤ مخ
[3] رحمان با با کلیات، دوست محمد او قلندر مومند ۲٦۹
[4] حمید مومند کلیات ٤۷ مخ



ښۀ یې ورېږي لاس تر زنې بیـــــــــنوا [2]

✶✶✶

دا یې خط نشو نما کاندي له مخه
یا نرې نرې لوګې ځــــي له ځراغ [3]

✶✶✶

سرې شونډې یې ز ېب په تبسم هسې پیدا کړ
عین لکه غونچه چې پاڼې وســــپړي د ګل [4]

✶✶✶

د چا تاج زرین پر سر تر ملا خنجروي
د چا پنډ پر سر په مــــلا ټومبلی لور [5]

دذهني انځورونو څو بېلګې:

دحمید مومند بیت دی:

چې منګولې یې د ترکــــو په زړه ګرځي
ډوب په وینو کې لـــــــړمون شه د حنا [1]

✶✶✶

شیدا درست پـــه لا دوا در دونو ډک دی
ما چې بیرته لکه زخم ستا دیوان کـــړ [1]

✶✶✶

شنه او سره نمري اغوستي ګلرخانو
ته وا ســــبر ونې ونیول ګلــــونه

---

[2] د عبدالحیمد مومند کلیات ۱٦ مخ
[3] همدا اثر ۱۱۵ مخ
[4] همدا اثر ۱۳٤ مخ
[5] دیوان عبدالرحمن پېښور ۲۰۷ مخ

[1] حمید مومند کلیات دانش ۹ مخ
[1] شیدا دیوان دانش ۱۲۳ مخ

# اووم څپرکی

## بوختیاوې (سرګرمۍ)

### متزلزل

متزلزل په لغت کې لړزېدلو ته وايي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې د کلمې په تلفظ کې دوې معناوې پرتې وي که بې ځنډه ولوستل شي یوه معنی ورکوي او که په ځنډ ولوستل شي بله معنی ورکوي یا یې په حرکتونو کې د بدلون په وجه د معنی بدلون پیدا کېږي.

**۱ - په ځنډ او نه ځنډ لوستل:** بېلګه یې د لاندې بیت په (ماته) کلمه کې راغلې ده ، اورېدونکی یا لوستونکی په دې نه پوهېږي چې دلته یې د (مات) کلمه چې د (شکست) په معنی ده، منظور ده که نه د (ما) منفصل او بنتی ضمیر او د (ته) ویکی سره هم غاړه شوی دی.

زه سیال میخانه کې لایق که ستا د جام شم
پیرو په مینو شی کې حافظ او د خیام شم
ډکې پیالې راوړه ساقي در ځــــار شم
ماته پیاله راوړه ســـــاقي [1]

په لړ بدلون:

زه سیال میخانه کې لایق که ستا د جام شم
پیرو په مینو شی کې حافظ او د خیـام شم
ډکې پیالې راوړه ساقي درځـــــار شم
مـــــا ، ته پیــــاله راوړه ســـاقي

یا لکه په لاندې بیت کې د (شرافت) کلمه:

دا خــــو واړه شرافت دی
چې یې تاسره صحبت دی [2]

[1] میرا جان سیال
[2] همکار



لږ بدلون:

دا خــــو واړه شر،افت دی
چې یې تاسره صـحبت دی

حمید مومند وايي:

چې څښتن ګڼې حاضر بد کړې (حمیده)
نشـــــــته تا غوندې بې شرمه بې ادب [3]

د پورته بیت د لومړي نیم بیتي معنی دا شوه چې الله حاضر ګڼل بدکار دی او که ته یې کوې نو ډېر بې شرمه او بې ادبه یې. که چرته په لومړي نیم بیتي کې د (حاضر او بد) د کلمو تر منځ کامه ورواچوو نو بیا به بالکل معنی بدله شي او داسې به تعبیر شي چې الله حاضر ګڼې او بیا هم بد کوې نو له تا څخه بې شرمه او بې ادبه نشته.

چې څښتن ګڼې حاضر ، بد کړې حمیده
نشـــــته تا غوندې بې شرمه بې ادب

**۲ - د حرکتونو بدلون:** بېلګه یې د عبدالقادر خټک څلوریزې د تل په کلمه کې لیدلای شو. که د (ت) په زور یې وو ایو د (توی شوي) په معنی دی او که د (ت) په زور کې یې وو ایو بیا د (دایمي) معنی ورکوي.

که سپین او سره یې په کور کې تل وي
چې نــــه یې علم نه یې عمل وي
بنیاد یې نشـــته اخر به خوار شي
بخت به تر کــومه ورسره مل وي [1]

[3] د عبدالحمید مومند کلیات ۳۵ مخ
[1] عبدالقادر خان دیوان نیاز ۲۹۷ مخ

# تدویر

تدویر د گردوالي په معنی دی او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر خپل کلام داسې ترتیب کړي چې کلمې یې په یوه دایره کې راوړي، که له هرې کلمې څخه کلام پیل شي د هغه په وزن کې کوم خاص زیاتی یا کمی نه رامخ ته کېږي. د عبدالقادر خټک لاندې بیت یې ښه بېلگه ده:






د تدویر بله بېلگه چې هر نیم بیتی پکې په پنځو برخو وېشل شوی دی:



# مشجر

په لغت کې ونې لرونکی یا هغه څیز چې د ونې په بڼه وي او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر د نظم لومړی بیت یا مطلع د ونې د ډډ په څېر په نېغو ولیکي دغه مطلع یې په څو برخو وېشلې وي کله چې نور بیتونه راځي په ترتیب سره د مطلع په وروستۍ برخه کې چې هر څو څپې ترې لرې شي په ښي خوا همغومره څپې ورزیاتوي او بیا هغومره څپې په کیڼ خوا ورته زیاتوي ، چې دا کار همداسې دوام پیدا کوي او په پای کې نظم د ونې بڼه ځانته غوره کوي.






د مشجر بله بېلګه د استاد سید غني غني لاندې نظم دی !



# مربع

له هغه ادبي صنعت څخه عبارت دی ،چې شاعر خپله څلوریزه په څلورو برخو ووېشي ، که عموداً ( له بره ) یا افقاً(له څنګه )ولوستل شي ، په لوستو کې یې توپیر رانه شي. په بله وینا که شاعر وغواړي خپلې څلوریزې ته داسې بڼه ورکړي که له پاسه ولوستل شي او یا له ښي اړخ څخه ولوستل شي ، په معنی کې یې څه توپیر رانشي لکه د عبدالقادر خټک لاندې څلوریزه.

| | | | |
|---|---|---|---|
| د یار | له غمه | په زړه | افګاریم |
| له غمه | څه وایم | دردمندیم | خواریم |
| په زړه | دردمندیم | هرګور | بیماریم |
| افګاریم | خواریم | بیماریم | زاریم [1] |

بله بېلګه یې د سمندر خان سمندر لاندې څلوریزه:

| | | | |
|---|---|---|---|
| د غفلت | په خوب | ته اوده یې | سمندره |
| په خوب | مینه مه کوه | په سرده | لار |
| ته اوده یې | په سرده | لاردلار | وهونکې |
| سمندره | لار | وهونکی | وي بیدار [2] |

یا: د استاد سید غني غني لاندې نظم:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ډک | دي | له خونده | زما شعرونه |
| دي | ستا له مینې نه | ټول | زما اهونه |
| له خونده | ټول | ډک دي | دا فریادونه |
| زما شعرونه | زما اهونه | دا فریادونه | دي ټول غمونه |

[1] عبدالقادر ختک دیوان کابل ۳۷۲ مخ
[2] بدیع او د پښتو شعر ، ۵٦ مخ



# خیفاء

د (خ) په زَور هغه چاته وایي چې یوه سترګه یې توره او بله یې اسماني وي، په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې ترتیب او کاروي چې یوه یې ټکي لري او بله یې و نلري.

بخت معلی تخت ممهد (*)
جشن سمسور نن د اشنا

# مقطوع

په لغت کې د غوڅ شوي په معنی دی او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دي چې شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې غوره کړي چې توري یې یو له بل سره و نه نښلي لکه د خوشحال خان خټک لاندې بیتونه:

تَ چ ژاړې پَ زار زار ژړادې اورم
دادې واړه درد او دوک زړه دې ازاردی
چِ اول دې د زړه داغ وتَ ارزو وه
اوس وردرومَ زړه دې ښَ شِ چِ داغ داردی ([1])

په پورته بیتونو کې ټول توري بېل بېل راوړل شوي دي.
یادونه: په پخوانۍ یا زړه املاکې د زور (ٜ)اواز د کلمې په پای کې نښه نه لرله بلکې د فتح په بڼه راوړل کېده لکه په پورته بیتو نو کې:

پخوانۍ بڼه: تَ، چِ، پَ مَ
اوسنۍ بڼه: ته: چې: ، په ، مه

* اوار
[1] ادبي فنون ٤٨ مخ

# موصل

په لغت کې نښلول شوي ته وايي او په اصطلاح هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې راوړي، چې ټول توري يې سره نښلول کېدای شي.

په درې ډوله دی:

۱.دداسې کلمو راوړل، چې ټول توري يې سره نښتی شي ،لکه د خوشحال خان خټک لاندې بيتونه:

ښې چين چين څڼې پښتنې جنې
پَ شين شين ځي شين جنې (١)

نښتې بڼه:

ښيچينچينځڼيپښتنېجنې
پشيـــــنشينځيشينجنې

۲- کله شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې غوره کړي، چې دوه دوه توري يې سره نښتي وي ، لکه د خوشحال خان لاندې دوه بيتونه:

مخ، په، مخ، شه، ما ، ته، خا ، ندَ، چې، خا ، طر، مې
هو ، سي، شې، په، خو ، ښی، شـــي، هـــم، بې، غم
ګل، مل، چې، مخ ،په ، مخ، شي، په، خوښی، شـي
تو ، تا ، کلَ، ګو ، يــــــا ، يي، کـــا ، بې، مو ، ســم (٢)

په پورته بيتونو کې دوه دوه توري سره نښتي راغلي دي.

۳ .کله شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې غوره کړي ،چې درې توري يې سره نښتي وي.

ځنې ، خپل ، جبين ، لښکر، حشم ، کسي
ځنې ، خـــپل ، لـــعل ، ګُهر ، نجم ، کسي
ځنې ، خـــپل ، عـــلم ، هنر ، قلم ، کسي
ځنې ، ختـــک ، هـــغه ، صـــنم ، کسي (٣)

١ ادبي فنون ، ٤٨ مخ
٢ ادبي فنون ، ٤٨ مخ
٣ ادبي فنون ، ٤٨ مخ



## نامنقوط (بې ټکيو )

که چرته شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې غوره کړي چې يو توری يې هم ټکی ونه لري، نامنقوط ادبي صنعت ورته وايي، لکه د خوشحال بابا د ترکيب بند لاندې لومړی بند:

دل ارامه که د ماددر د دوا کا    سکه اول دهم د مهر دارو را کا
ددلدار وهوا دار له درد و دوکـــه    د مــــــادم له اه سرد سره واوا کا
د وصال سودا سودا د سرومال د ه    هر ګدا کـله دا سود او دا سودا کا
د ادم د آل او لاد سره کل مـــــکر    که د دور رسم دا وواوس هم دا کا
درومه درومه ګله مه کوه له درده    کــــــله کله دورهم مراد روا کا
دا مهر و ملوکه وګوره لـــه اصله
کله د ومرد مراد ورکړه لـه وصله (١)

يا لکه د علي خان لاندې بيت:

د ام دم که م همدم که دل ارام لاړ
هم م روح وو له ما لاړ هم م ارام لاړ (٢)

## منقوط (ټکوال)

که چرته شاعر په خپل کلام کې داسې کلمې غوره کړي چې ټول توري يې ټکي ولري، منقوط ادبي صنعت ورته وايي لکه د خوشحال بابا لاندې بيتونه:

ښې ښې شپې شي زنې پېـــــښې
غېږ پَ غېږ شي شفت زبـــــېښې
څښي څښي ښيښې تشېږي
نن بَ شي بخـــــښنې ښـــې ښې
چين چين څــــــڼې زي پَ شين
بتې زشتې فتــــــــــنې پېښې

١ خوشحال خان خټک ديوان ، ٤٢٤ مخ
٢ ديوان علي خان ، ٨٣ مخ

شي پَ چین تـــــــشې پښتنې
چین چین ښځـــــــې پښتنې ښې (١)

***

پښتنې په چین چین ښځې:
بخـــــښې چین تبت ختن

## فوق النقاط (برټکي)

که چرته شاعر خپل نظم داسې ترتیب کړي چې د کلمو توري یې بره ټکي ولري ، فوق النقاط ادبي صنعت ورته وایي، دا لازمي نه ده چې د کلمې هر توری دې ټکی ولري لکه:

څه لاس ترمنځ ، څه غر ترمنځ

***

هره خوا آه او فغان د رنـــــــځوارانو
ستا د عشق له رنځه ما حنان رنځور کړه

په پورته بېلګو کې د کلمو ټکي بره راغلي دي

تا راته خندل له زړه
مادر ته کتل له زړه
واه خومره او تره ته
هر څه ما منل له زړه (١)

١ دخوشحال خان خټک کلیات ، لومړی ټوک کابل ٤٧٧ مخ
١ همکار



## تحت النقاط (لرټکي)

که چرته شاعر خپل نظم داسې ترتیب کړي، چې د کلمو توري یې لر ټکي ولري ، تحت النقاط ادبي صنعت ورته وایي، لکه:

پوره ورک دي کړه دوه کـــوره

***

هر چې ووایم له جوره د مهریو
کله سم ګوري چې دا وکړه یا دا

په پورتینو بېلګو کې د کلمو ټکي ښکته واقع شوي دي.

## رقطاء

رقطا په لغت کې هغه موجود ته وایي ،چې تور او سپین ټکي ولري او په اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی چې شاعر د خپل نظم کلمې داسې راوړي ، چې د هرې کلمې یو توری ټکی ولري او یو یې ونه لري ، لکه:

یو په مثل ته ښایسته یې د جونو خانه
تا به ســـتا یم تا به ستایم یو په شـــل
ته جـــانانه ښایسته تر نــــــستر نه
زه زهیر خســـــــــته جلیا یم تر بلبل (١)

پورته بیتونه ګورو چې یو توری یې ټکی لري او بل یې ټکی نه لري.

١ ادبي فنون ٤٥ مخ

# ثلور مخی

دا هغه ادبي صنعت دی چې شاعر د خپل کلام کلمې داسې برابرې کړي چې له ثلورو لوریو (له ښي اړخه چپ ته، له چپ څخه ښي ته، له پورته ښکته او له ښکته پورته خواته ) بې له کوم فني او معنوي بدلون څخه یو شان لوستل کېږي. بېلګه یې د یونس په دیوان کې لاندې غزل دی:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ګل عذاره | پرېواره | غمګساره | عاشق یاره | مددګاره |
| خوش خبره | نېک نظره | تېزاثره | بې ضرره | وفاداره |
| سیم بدنه | سېب ذقنه | ماه منه | قند سخنه | در عدنه |
| حور جماله | سیه خاله | دل خوشحاله | لب زلاله | شکر باره |
| قمر رویه | عنبر مویه | وفا جویه | عطر بویه | په قد لویه |
| سروشانه | قدردانه | دردندانه | مهربانه | بې ازاره |
| خوش کلامه | کبک خرامه | دل ارامه | ګل اندامه | غنچه فامه |
| شیر شکره | پر هنره | تر ګل غوره | پای تر سره | شوخ عیاره |
| نازنینه | ماه جبینه | عنبرینه | شکرینه | لب شیرینه |
| سرفرازه | دلنوازه | غم ګدازه | څړه نازه | شهسواره |
| باده مسته | جام سکسته | خود پرسته | له السته | د ګل دسته |
| آهو چشمه | صدکرشمه | څړه خشمه | په ګل پشمه | ګل اناره |
| سربلنده | شکر خنده | زلف کمنده | پزیر پنده | چشم بنده |
| بې پرواهه | خوش نګاهه | کار اګاهه | مهر وماهه | والا جاهه |
| موی میانه | خوش زبانه | لبخندانه | غزل خوانه | له یونس سره دلداره (۱) |

۱ د یونس خان دیوان، ۸۷، ۸۸ مخونه



# اتم څپرکی

# ادبي غلاوې

ژر به رسوا شې د مضمون دزده
جامه غـــــمازه د جامـــــه دزده
کله پټېږي لـــــــــه مبصره
متاع په بلـــــــخ کې چې د کندزده (۱)

لکه څنګه چې په ټولنه کې عامې غلاوې ډېرې دود دي او د هرې غلا لپاره په شریعت کې او هم د دود له مخې سزا وې ټاکل شوي دي ، چې مرتکب یې د ګیرېدا پر وخت په تېرولو مجبور دی. دغسې په ادب کې هم ځینې کسان په دغه ناولې ناروغۍ اخته شي او بیا ددې پر ځای چې خپل څه وپنځوي او په تخلیقي ادب کې ځانته لار پرانیزي. د نورو په تخلیقي اثارو پسې شي کله کټ مټ د بل لیکنه په خپل نامه کړي ځینې وخت د بل چا د لیکنې مفهوم یا کلمې په لږ بدلون په خپل نامه کړي. لنډه دا چې ځینې د چا د اثر قالب راغلا کړي ځینې یې محتوی راغلا کړي او ځینې خو لا تر دې هم وړاندې لاړ شي قالب او محتوی دواړه په خپل نامه کړي.

انوري د فارسي شاعرۍ پخوانی مشهور شاعر دی هغه وایي: ((یوه ورځ بازار ته لاړم. ګورم چې یو کس زما شعر لولي. ما ځینې پوښتنه وکړه چې دا شعر د چا دی هغه وویل: (زما دی)
ما بیا ورڅخه پوښتنه وکړه : ستا نوم څه دی ؟
هغه وویل :( انوري )
ما وخندل او ومې ویل چې دا شعارو غلا مې لیدلې وه او د شاعر مې نه وه لیدلې )).

غلا که د هر شي وي ، بده ده او انسان باید ځان ورڅخه وژغوري او کله هم چې په خپل لیک کې د بل چا څه خبره یا کلام راوړي باید له ادبي امانتدارۍ

۱ کاظم خان شیدا دیوان ، دانش ۳۵۵ مخ

څخه کار واخلي په دې لاره کې د ليکوالۍ اصول او فن موږ ته ښه لارښوونه کولای شي چې موږ په خپل ليک يا نظم کې د بل چا نثر يا کوم بيت څرنګه را اخيستلای شو.

دا چې چا له چا څخه غلا کړې په دې بشپړې څېړنې ته ضرورت دی او تر ډېر غور او فکر وروسته بايد د يو کره کتونکي پرېکړه په دې برخه کې وي.



## د غلاو ډولونه

شعري غلاوې پر دوه ډوله دي، ښکاره غلا او ناښکاره غلا چې د غه هر ه يوه بيا نور ډولونه لري. د ښکاره ډولونه په وروسته ډول ښودل کېږي:

لومړی ډول:

ښکاره غلا داده چې يو شاعر د بل چا شعر بې له کوم معنوي او لفظي بدلون را واخلي او په خپل نامه يې کړي، دا ډول غلا ډېره بده او عيب جنه ده، ځکه چې دا بې له څرګندې او ښکاره غلا بله معنی نه لري، لکه د محمد امان داوي دا دوه بيتونه:

حسن خط د بېزارۍ و مخ ته ورکړ
چې ښکاره شو په غدارو د نګار خط
ستا د شونډو مهره څوک واخلي دلبره
چې ترې پرېوت چارپېره لکه ښامار خط

چې کټ مټ د عبدالقادر خټک په ديوان کې راغلي دي.

حسن خط د وېزارۍ و مخ ته ورکړ
چې ښکاره شو په غذارو د نګار خط
ستا د شونډو مهره څوک واخلي دلبره
چې ترې پرېوت چاپېره لکه تورمار خط ([1])

د ښکاره غلا لومړي ډول ته نژدې دا هم ده چې معنی ټوله واخلي او کلمې پکې يا ټولې يا ځينې بدلې کړي لکه د حميد مسره:

(و اسمان ته به د شعر زينې کېږدي) چې شمس الدين کاکړ پکې د اسمان په ځای د فلک کلمه راوړې ده او فلک ته به د شعر زينې کيږدي:

و فلک ته به د شعر زينې کېږدي

[1] د عبدالقادر خټک ديوان نياز ٦٧ مخ

شمس الدين سره که جمع شي خواص ([1])

يا د عبدالقادر خټک دابيت:

چې پرې غم غلطوم درې مې محرم دي
يو قلم دويم کتاب دريم اشعار خپل ([3])

چې قلندر داسې اخيستی دی:

چې پرې غم غلطاوه شي هغه درې دي
يو قلم دويم بيـــــاض دريم اشعار

٢- د ويم ډول ښکاره غلا داده چې معنی د ټولو کلمو يا ځينو کلمو سره واخلي او د شعر ترتيب بدل کړي په دې ډول کې که چېرې دويم شعر له لومړي نه ښهٔ او بليغ و نو دا اخيستنه ښه ده او که دواړه سره برابر وو نو لومړی غوره ګڼل کېږي او که چېرې دويم له لومړي شعر نه ښکته او ټيټ و نو دا اخيستنه هم بده او ناوړه ده.

ددې درې واړو مثالونه دادي:

الف- چې دويم شعر له لومړي نه ښه او خوندور وي لکه د اخون ګدا دا بيت:

له جهانه مهرو مينـــــه محبت لاړ
له هر چانه اخلاص صدق محبت لاړ

چې عبدالعظيم داسې راوړی دی:

اوس زمونږ لـــه زمانې نه برکت لاړ
د هر چا د زړه نه مـــهرو محبت لاړ

دويم بيت يو خو لنډ اوبې تکراره دی او بل پکې مطلب ښهٔادا شوی دی. دا عبارت (چې اوس زمونږ د زمانې نه برکت لاړ) د ټولو شيانو د تلو لپاره يو ښهٔ دليل کيدای شي. په لومړي بيت کې يو د محبت د کلمې تکرار راغلی دی او بل يې مطلب ښه خوندور نه دی ادا شوی.

ب- چې د ويم شعر او لومړی شعر دواړه په ښه والي او خوږ والي کې سره برابر وي.

[1] شمس الدين کاکړ ديوان ناصر ٥٧ مخ
[3] د عبدالقادر خټک ديوان نياز ، ٨١ مخ



لکه د عبدالقادر خټک دا بيت:

سرې سرې اوښکې دې په مخ عبدالقادره
و خپل يار ته د ياقوتو مهماني ده ([1])

چې حميد داسې ويلی دی.

په لمنو دا ګوهر د اوښکو بويه
تياري د يار د خيال د مهمانۍ ([2])

د لومړي بيت ښايست د سرو اوښکو او ياقوتو تناسب زيات کړی دی او په دويم بيت کې د يار د خيال د ميلمستيا لپاره د اوښکو ملغلرې پر لمنو تيارول يو خوندور تخيل دی له دې کبله ويلای شو چې دواړه ښه بيتونه او سره برابر معلومېږي.

ج- هغه چې لومړی بيت له دويم نه ښه او غوره وي لکه د حميد دابيت:

دا په وچولي تور خال زما د يار دی
که اذان لره ختلی دی بلال ([3])

چې رضواني داسې اخيستې دي:

ستا په سپين تندي ای جانه دا شين خال دی
که اذان ته د سحر ولاړ بلال دی

لومړی بيت ډېر خوندور او زړه راښکونکی دی. په کلمو کې پوره معنی په ښه ډول ادا شوې ده ، بل د اذان لپاره د بلال د ختلو تعبير اذان ته د درېدو له تعبير څخه زيات خوندور او موزون دی. ځکه چې خال هم تندي ته ورختلی دی، بله داده چې په لومړي بيت کې د تور خال او بلال تشبيه پوره او کامله ده خو په دويم بيت کې د شين خال او بلال تشبيه نيمګړې راغلې ده.

د حميد بيت دی:

په هر ځای کې ناست ولاړ زانګم له غمه
مينې مخ راته د ځمکې ګهواره کا ([1])

[1] د عبدالقادر خټک ديوان ، نياز ١٣٦ مخ
[2] عبدالحميد مومند کليات ٣٠٧ مخ
[3] همدا اثر ١٣٨ مخ

ميرزا حنان داسې راوړی دی:

عشق دې بيا راته زانګو کړه غر و سم
که ولاړ که ناست که پروت زانګم له غم

د لومړي بيت نه په ډېر لنډېز سره پوره معنی څرګند ېږي ولې چې دغر او سم په ځای هلته يوازې د ځمکې کلمې مطلب ښه ادا کړی دی. بله خبره داده چې په دويم بيت کې د پروت په حالت کې زانګل بې تناسبه ښکاري. پر دې سربېره په لومړي بيت کې يو داسې خوند او کيف پروت دی چې په دويم بيت کې نه حس کېږي ، بله بېلګه د رحمان بابا ده.

سره په وينو د سرو ګلو په څېر زانګي
هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کې (۲)

پير محمد داسې راوړي دي:

په هر خم کې يې پراته وو هزار زړونه
پر رخسار چې دې زلفينې تاوېدلې (۳)

د لومړي بيت بلاغت ، خوږوالی، ښکلا ، راښکون ، ښه تناسب، مراعات النظير يو څرګند شی دی، د زلفو په هر خم کې د سرو ګلو په څېر په سرو وينو لړلو زړونو زنګېدل يو داسې خوند ناکه وينا ده چې د رحمان غوندې لسان الغيب شاعر يې ويلای شي.

۳- دريېم ډول ښکاره غلا داده چې معنی ټوله واخلي او د نورو کلمو په کالب کې يې واچوي دا ډول هم د دويم ډول غلا په شان ده که دويم بيت ښهٔ او بليغ و نو ښهٔ او غوره ګڼل کېږي او که دواړه سره برابر و نو دومره بدې نه لري خو لومړی ښه باله شي او که لومړی ښهٔ او دويم ناښهٔ و نو بيا دا اخستنه بده او ناوړه بلل کېږي، بېلګې يې په وروسته ډول ښودل کېږي:

الف- هغه چې دويم له لومړی نه ښه او بليغ وي لکه ددولت دا بيت:

زه اول هم ديوانه وم ديــــوانه يم لا تر اوسه
له دلداره همخانه وم همخانه يم لا تر اوسه

---

۱ د عبدالحميد مومند کليات ، ۳۱ مخ
۲ د رحمان بابا ديوان پښتو ټولنه ۲٤۹ مخ
۳ د پير محمد کاکړ ديوان ، بېنوا دويم چاپ ۱٦٦ مخ



خوشحال د دويمې مسرې معنی په بل کالب کې اچولې ده.

جدايي نشته وصال دی ځنې بعد وهم خيال دی
له هغه چې همخانه وم همخانه يم لا تـــــر اوسه

ښکاره ده چې په دويم بيت کې د معنی ارتباط او قوت زيات دی ولې چې دولت د دلدار همخانه توب په ليونتوب بنا کوي حال دا دی چې په ښکاره يو تر بل سره هيڅ ارتباط نه لري او خوشحال ورته يو داسې بنياد ږدي چې ددلدار همخانه توب يې لازمي نتيجه ده.

ب- هغه چې دواړه سره برابر وي لکه د يونس دا بيت:

خلقات به د ګـــــــلونو نندارې کا
لور په لور به ښه ګلزار وي مونږ به نه يو (۱)

پير محمد داسې راوړی دی:

زلمي جونه به سيـــــــلونه د صحرا کا
غر او دښت به لاله زار وي مونږ به نه يو (۲)

دلته مطلب او معنی يوه ده خو په جلا الفاظو کې بيان شوې ده او دواړه بيته په ادا او خوند کې سره برابر دي.

ج- هغه چې دويم بيت له لومړي نه کښته او لاندې وي لکه د حميد دا بيت:

چې حميد غوندې بلبل يې سر په ګور کا
هغه ورځ به د بــــــګرام په ګلو هی وي (۳)

ميرزا حنان داسې اخيستی دی:

پژمرده به ټول ګـــلان د کندهار وي
چې په مرګ ولاړی حنان رنګه بلبله

په لومړي عبارت کې په لنډو خوږو عبارتونو سره په کنايه ډول پوره مطلب ادا شوی دی او په دويم بيت کې دغه مطلب ښکاره او ساده عبارت بيان شوی دی او په ادب کې کنايه له صراحته نه ښه وي.

---

۱ د يونس خان ديوان کابل ۱۷۵ مخ
۲ د پير محمد کاکړ ديوان ، بينوا دويم چاپ ۱۱۸ مخ
۳ د عبدالحميد مومند کليات ، ۳۱۸ مخ

# پټه غلا

دا ډول غلا هم څو ډولونه لري چې دادی په وروسته کرښو کې بیانېږي:

الف- لومړی ډول پټه غلا داده چې د دواړو بیتونو یعنې د لومړي او دویم معناوې سره ورته او نږدې وي یعنې په معنی کې سره ورته والی ولري لکه د خوشحال دا بیت:

ولې راته وایې چې په ښکلیو نظر مه کړه
سترګې چې پیدا دي خو دیدار لـره کنه (٤)

پیر محمد داسې ویلی دی:

ولې و مشتاق ته یار له مخه نقاب نیسي
رب چې نعمت ورکړ خـو اظهار لره کنه (٥)

ددې دواړو بیتونو په معنی کې ورته والی موجود دی ولې چې مطلب په دواړو صورتونو کې د یار د مخ لیدل دي خو د لیلونه یې سره جدا دي

ب- دویم ډول پټه اخستنه داده چې د دویم شعر معنی له لومړي نه زیاته عامه او پراخه وي لکه د معزالله دا بیت:

روایت زما د قتل تاراوړی دی پوهېږم
چې دې خط په رخسار وکیښ ددې خط دی مضمون هسې

چې غفور داسې ویلی دی:

په صفحه د ښکـلي مخ یې خط د وینو دا تقریر کا
چې شاه قتل د عالم کا ددې خط دی مضمون هسې

په دواړو کې مطلب د وژلو رویات دی خو په دویم کې یې عاموالی زیات او پراخ دی ولې چې دلته ترې ټول جهان وژل مرادېږي او هلته یوازې د عاشق وژل ترې معلومېږي.

٤ دیوان خوشحال خان خټک ، پردل ٢٧٥ مخ
٥ دپیر محمد کاکړ دیوان ، بینوا ، دویم چاپ ١٤٨ مخ



ج- دریم ډول نابښکاره غلا دا ده چې د دویم شعر معنی د لومړي شعر په خلاف وي لکه د حمید دا بیت:

لکه سر د پسه په اور غاښونه سپین کا
هسې مالـــــــره له غمه خندا راغله (١)

علي خان داسې راوړي دي:

لکه و څاڅي شونتې د اور له تاوه
هسې ماله نن له سوخته ژړا راغله (٢)

په لومړي بیت کې وایي چې ماته له غمه خندا راغله او د دویم بیت مطلب دادی چې ماته له غمه ژړا راغله او دا معنی ښکاره د لومړی په خلاف ده.

د- څلورم ډول داده چې معنی له یوه ځای نه بل ځای ته ور نقل شي یعنې په لومړي شعر کې معنی په یوه ځای پورې اړه لري او په بل شعر کې په بل ځای پورې اړه پیدا کړي لکه د علي خان دا بیت:

دا مې لاس راکیښ صـنم د سر دپاسه
که و ځمکې ته راکـوز شو نمر دپاسه

خانګل خلیل داسې راوړی دی:

دا حسینه پري مـــسته په خوا راغله
که و ځمکې ته سپوږمۍ د سما راغله

ددواړو شعرونو معنی یوه ده چې د صنم تشبیه او ځمکې ته راکوځېدل دي خو د علي خان په بیت کې له لمر سره او د خانګل په بیت کې یې له سپوږمۍ سره ارتباط موندلی دی او دواړه بېل بېل ځایونه دي.

هـ- پنځم ډول نابښکاره اخیستنه داده چې له لومړي شعر نه یو څه معنی واخلي او د وینا د ښایست او د مفهوم د ډېرښت لپاره زیاتوالی وکړي.

لکه د مطیع الله دا بیت:

مونږ توتیان یو وحـدت راغلي
ناسوت بازار کې ګرځو ښاغلي

١ عبدالحمید مومند کلیات ، ٢٤٣ مخ
٢ دیوان علي خان ، ١٤٣ مخ

او د خوشحال خان دا بيت:

مونږه توتيان يو په بڼ راغلي
ګلونه ګورو ښکلي ښـاغلي

د پام وړ:

د ناښکاره اخيستې دا ټول ډولونه د اديبانو له خوا غـوره او ښـه ګڼل کېږي بلکې د غلا نوم هم ورباندې نشي ايښودل کېدای. ولې چې په دې ټولـو کې يـو راز بدلون راغلی دی او يو ښه تغيير پکې پـېښ شـوی دی پـه هر ځای چې پـر ده ډېره وي او لـه لومړي بيت نـه د دويـم بيت اخيـستنه څرګنده نـشي نـو دغـسې اخيستنه ښه او غوره ګڼل کېږي.

يادونه:

هرکله چې شعر زيات په ذوق پورې اړه لري نو ځکه د شعري غـلا ګـانو پـه پېژندلو کې پر دغو خبرو سربېره لـه ښـه ذوق نه کـار اخستل پکـار دي. کـه چېرې دوه سره نژدې شعر ونـه د ښـه ذوق خاوند تـه وړانـدې شي نـو هغـه پکـې خامخا د اخستنې او غـلا پتـه لګولای شي. نو يـو سـپېڅلی وجدان هم پـه دې پرېکړه کې پوره برخه لري، نو ځکه پکار ده چې له دغو بيان شوو لارو چارو سره ذوق او وجدان هم ملګری شي او د يـو شعر ښـه او ناښـه وړ او نـاوړ پـرې معلوم کړای شي. (*)

# توارد

پـه ژبه کې يو پـه بل پسې وار پر وار پرېدلو تـه وايي يا پـه يـوه وخت دا خلېدلو تـه وايي. پـه ادبي اصطلاح کـه يو شاعر پـه يو وخت يو مضمون پـه يوه شعري قالب

* ادبي غلاوې په لړ بدلون او زياتونه له (د اشعارو ډولونه) څخه چې د پوهاند صديق الله رښتين اثر دی را اخستل شوی دی (همکار)



کې ويلای وي، پـه بل وخت بل شاعر بيا همغه مضمون پـه همغو کلمو کې بې لـه دې چې د هغه بل شاعر پـه شعر خبر وي ووايي، توارد ورته وايي. کلـه دا سې وي چې پـه مضمون کې توارد پېښ شي او کله پـه کلمو کې توارد پېښېدلای شي.

ځينې وخت يـو څـوک لـه چا ډېر متـاثره وي، د هغـه د کـلام پـه بيـا بيـا لوستلو ځينې کلمې، اصطلاحګانې ترکيبونه او مضمونونه د هغه پـه ذهن کې پرېوځي کله چې بيا خپله پنځونه کوي د هغو څيزونو اثرات پکې ليدل کېږي.

# اخځونه


۱- الفت ، استاد ګل پاچا الفت ، شعري کلیات ( د الفت ملغلري ) زیار شهرت ننګیال ، خپرندوی دانش کتابخانه ، پېښور ، دربیم چاپ ۱۳۵۷ ل

۲- ارشاد ، اورنګزیب ، بدیع او د پښتو شعر ، دانش کتابخانه ، میزان ۱۳۶۹ ل

۳- اند ، اجمل ، شعري ټولګه (هنداري او چیني) دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۵ ل

٤- انصاري ، بایزید روښان ، خیرالبیان ، زیار د حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي ، دویم چاپ ۱۹۸۸ ء خپرندوی پښتو اکیډمي پېښور یونیورستي.

۵- اثر ، عبدالحلیم ، پښتو ادب، اداره اشاعت سرحد پشاور ، ۱۳۷۰ هـ

٦- بخاري شریف لومړی جلد ٦ مخ

۵- انیس، ډاکټر محمد ابراهیم او عبدالحلیم منتصر ، معجم الوسیط ، مکتبه اسلامیه استانبول ترکیه ، چاپ قاهره لومړی جلد

۷- بېنوا ، عبدالروف ، ادبي فنون ، پښتو ټولنه کابل ۱۳۲٦ ل

۸- پښتو پښتو تشریحي قاموس ، څلور واړه جلدونه ، خپرندوی میدیوتیک

۹- د بلقیس مکیز شعري ټولګه د (متا ) خپرونه

۱۰- ډاکټر محمد معین ، فرهنګ فارسي (یکجلدي) چاپ ششم، تهران چاپخانه مهارت، زمستان ۱۳۸۳ ل

۱۱- هدایت ، رضاقلیخلان ، مجمع الفصحا ، چاپ موسوي انتشارات امیر کبیر، ۱۳۳۹ ل

۱۲- همایي ، استاد علامه جلال الدین ، فنون بلاغت و صناعات ادبي، خپرندوی چاپخانه پېروز چاپ هفتم تابستان ۱۳۷۰ ل.

۱۳- همکار ، محمد ابراهیم ، قافیې فن ، احسان خپرندویه ټولنه دویم چاپ ۱۳۸۱ ل

۱٤ – همکار ، محمد ابراهیم ، د کانکور ۱۰۲۲ پوښتنې او ځوابونه (پښتو برخه) ۱۳۸٤ل.

۱۵- همکار ، محمد ابراهیم ، د ګل پاچا الفت په اشعارو کې بدیعي ښکلاوې ، ناچاپ۱۳۷۲ل

۱٦- هوتک ، محمد داود ، پټه خزانه ، دویم چاپ زیار پوهاند عبدالحی حبیبي ۱۳۳۹ ل





۱۷- هېواد مل ، سرمحقق زلمی ، د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ ) دوره لومړی ټوک، دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۷۹ ل

۱۸- وېسا ، عبدالروف ، د عبدالقادر خټک په اشعارو کې بدیعي صنایع، کابل پنځلس ورځنۍ مصوره مجله پښتو ټولنه ۱۳۲۹ ل جوزا ، ۱۵-۲۸ مخونه

۱۹- زیار ، پوهاند دوکتور مجاور احمد ، زما نړۍ (شعري غونډ ) خپرندوی د پښتو پانګې ملګري ، پېښور ، ۱۳۷۵ ل

۲۰- حافظ الپوري، دیوان حافظ الپوري، اسلامي کتب خانه ، قصه خواني پشاور، ۱٤۱۹هـ

۲۱- حبیبي، پوهاند عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی او دویم جلد ، دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۸٤ ل

۲۲- کاکا خېل ، سید تسنیم الحق، روح ادب ، جدون پرېس، پښتو اکیډمي ، پېښور یونیورستي ، ۱۹۸۷ز

۲۳- کاروان ، پیر محمد ، له مانښامه تر مانښامه (شعري ټولګه) دانش کتابتون، دویم چاپ۱۳۷٦ ل

۲٤ – کاکړ ، پیرمحمد ، دیوان ، زیار عبدالروف بېنوا د پښتو ټولنې له نشریاتو څخه دویم چاپ ۱۳۸۵ ل ، خپرندوی تقوی او ګهیځ کتابتون

۲۵ – کاکا خېل ، پروفیسور سید تقویم الحق، دیوان علي خان ، پښتو اکیډمي پېښور یونیورستي ، دویم چاپ ۱۹۸۸ء

۲٦- کاکړ ، شمس الدین ، دیوان ، د پښتو ټولنې نشریات، دویم چاپ تقوای او ګهیځ کتابخانې ۱۳۸۵ ل

۲۷- کاکړ ، شمس الدین ، دیوان ، زیار مرستیال سر محقق نصرالله ناصر او محقق بسم الله حقمل، د خوست خپلواکه خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸٤ ل

۲۸- کړوال، پاینده محمد ، سوې کرېکې ، احسان خپرندویه ټولنه ، پېښور ۱۳۸۱ ل

۲۹- کشاف ، قیام الدین ، القران الکریم له پښتو ترجمې سره، خپرندوی ، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د بیهقي کتاب خپرولو موسسه ۱۳۸۵ ل

۳۰- کامل ، دوست محمد خان او قلندر مومند ، د رحمان بابا کلیات ، ۱۹۸٤ ز.

۳۱- کلام قنبر علي ، کورمه ایجنسۍ ، ۱۹۸۳ ز

۳۲- للشیخ ابي زکریا عبدالسلام ، تفسیر احسن الکلام ، بلغة البشتو جلد اول ، الناشر جامعه تعلیم القران

۳۳- ګوهر، ګوهر رحمان ګوهر، ډبوټ (شعري ټولګه) ناهید خپرندویه ټولنه ، ۱۳۷٦ ل

۳٤- مختار ، محمد مختار ، د څپرهار لیکوال او شاعران ، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۷۹ ل

۳۵- مسلم دوست ، عبدالرحیم ، خوږه ژبه ، سبا کتابتون پېښور ۱۳۷۹ ل

۳٦- میوند ، سعدالله ، لیندۍ ، شعري ټولګه، دانش کتابتون، ۱۳۸۱ ل

۳۷- مفتون ، اشرف، سکوندارۍ، یونیورستي بک ایجنسي پېښوردویم چاپ ۲۰۰٤ ز

۳۸- مشوانی ، عبدالقیوم زاهد ، زاهد پښتو پښتو سیند ، دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۸۵ ل

۳۹ – مولانا عبدالقادر ، دیوان عبدالرحمن ختک ، پښتو اکیډمي پېښور یونیورستي ۱۹۸۷ ز

٤۰- نوشین ، غلام حسین رضا نژاد ، اصول علم بلاغت در زبان فارسي، انتشارات الزهراء ، ۱۳٦۷ل

٤۱- ناګار، فضل ولي ، نظم ، الفت مجله ، څلورم کال، ٦ ګڼه ، (وری ، غویی ) پرلپسې ۲٤ ګڼه ، ۱۳۸۵ ل

٤۲- سید شاه مسعود ، جانانه ستا تر دره څنګه درشم، (شعري ټولګه) دانش خپرندویه ټولنه ،پېښور ۱۳۸۳ ل

٤۳- سعیدي، سید عبدالله ، پرېشانه اوښکې (شعري ټولګه) دانش خپرندویه ټولنه ۱۳۸۱ ل

٤٤- ساپی ، امان الله سیلاب ، ستا د سترګو بلا واخلم ، (شعري ټولګه) خپرندوی د امان الله سیلاب ساپي ادبي ټولنه ۱۳۸۲ ل

٤۵- سرفراز ، مولوي جانباز ، القران الکریم ټکي په ټکي او روانه ترجمه، ۱۳۸۵/۱/۳ ل

٤٦- فاروقي ، طاهر ، فصاحت و بلاغت ، یونیورستي بک ایجنسي ۱٦/مارچ/۱۹۵۹ ز

٤۷- عمید ، حسن ، فرهنګ فارسي عمید ، (متوسط ) چاپخانه سپهر ، تهران ۱۳٦۳ل

٤۸- صادق، قاضي صدیق، د اسلام فرهنګ(شعري ټولګه) جنوري ۲۰۰٦ ز

٤۹- صمیم ، محمد آصف، د عبدالحمید مومند کلیات، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸۳ل

۵۰- صمیم، محمد آصف، وییز زېرمه ، احسان خپرندویه ټولنه ۱۳۸۱ ل

۵۱- صادقیان، داکترمحمد علي، زیور سخن در (بدیع فارسي) ، مرکز انتشارات دانشګاه علم و صنعت ایران ۱۳۷۹ ل

۵۲- رفیع، حبیب الله ، د خلکو سندرې، د افغانستان اکیډمي ، د تاریخ او ادب ټولنه ۱۳٤۹ ل





۵۳- رښتین ، پوهاند صدیق الله ، د اشعارو ډولونه ، خپرندوی تاج محل کمپنۍ، د چاپ نېټه نا څرګنده.

۵٤- شاکر، پوهندوی نور محمد ، بدیع او بیان ، پوهنې وزارت ۱۳۵۵ ل

۵۵- شېرزاد ، سید افضل، سترې مزلونه ، چاپ ځای ټاپ پرنټرز پېښور ۱۳۷۵ ل

۵٦- توریالی پښتون ، د خوشحال بابا سمینار د مقالو مجموعه

۵۷- ختک ، اجمل، د غیرت چیغه(شعري ټولګه ) یونیورستي بک ایجنسي ۱۹۵۸ ز

۵۸- ختک ، خوشحال خان ، کلیات خوشحال خان ختک ، زیار دوست محمد کامل، اداره اشاعت سرحد پشاور ۱۹٦۰ ز

۵۹- ختک ، خوشحال خان ، دیوان خوشحال خان ختک، لومړی او دویمه حصه – زیار حاجي پردل خان جدون پریس پېښور ، د چاپ کال نشته.

٦۰- ختک ، خوشحال خان ، دخوشحال خان ختک کلیات،لومړی ټوک، د افغانستان علومو اکاډمي ۱۳۵۸ ل

٦۱- ختک ، خوشحال ، دستارنامه زیار- ډاکټر یار محمد مغموم ختک ، پېښور یونیورستي ، ۲۰۰۵ ز

٦۲- ختک ، خوشحال خان ، باز نامه ، د خوشحال خان د کلیاتو درېیم ټوک ، لومړی برخه ، پښتو ټولنه ، ۱۳٦۲ ل

٦۳- ختک ، خوشحال خان ، خوشحال خان ختک کلیات، زیار- عبدالقیوم زاهد مشوانی، دانش خپرندویه ټولنه ، ۱۳۸٤ ل

٦٤- ختک ، عبدالقادر، عبدالقادر ختک دیوان ، زیار - نورالله ولسپال، افغانستان د علومو اکاډیمي ۱۳٦۸ ل

٦۵- ختک ، عبدالقادر ، د عبدالقادر ختک دیوان، زیار ،پروفیسر جهانزېب نیاز، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورستي ۲۰۰۲ ز

٦٦- ختک ، عبدالقادر، ګلدسته ، پښتو اکیډیمي ، پېښور یونیورستي، درېیم چاپ۱۹۸۹ ز

٦۷- ختک ، کامګار ، دیوان ، زیار عبدالمتین متین ، د افغانستان د علومو اکیډمي ۱۳۵۸ ل

٦۸- ختک ، ډاکټر اقبال نسیم ، رنګ و بو قافله

٦۹- خلیل ، همېش، دیوان بېدل، شاهین برنې پرېس پېښور ۱۹۵۷ ز

۷۰- خلیل، همېش، پښتانه لیکوال، لومړی ټوک ، درېیم چاپ، پښتو ادبي مرکز سرای نورنګ ۱۹۹۳ ز

٧١- خدمتګار ، عبدالله بختاني ، شعري ټولګه ، (راز) پښتو ټولنه ١٣٤٢ ل
٧٢- خلیل، حنیف، کاظم خان دیوان ، دانش خپرندویه ټولنه پېښور، ١٣٨٤ ل
٧٣- خلیل ، حنیف، د رحمان بابا کلیات ، دانش خپرندویه ټولنه ، پېښور، ١٣٨٤ ل
٧٤- غروال، څېړنیار محمد عارف، درحمان بابا دیوان ، پښتو ټولنه ، کابل ١٣٥٦ ل
٧٥- یونس، دیوان ، زیار - عبدالله خدمتګار بختاني ، خپرندوی اطلاعات و کلتور وزارت ١٣٥٦ ل
٧٦- یوسفزی ، مشتاق مجروح ، زرکانی تاج کتب خانه ، ١٩٩٨ ء
٧٧- لکچر نوټ
٧٨- شیرین زوی، شهزاده ، شعري ټولګه (مرور نازونه )
٨٨- پنهان،حاجي فضل محمد ، خپرندوی هېواد کولتوري ادبي ټولنه، ١٣٨٣ل